شهامت

افغانستان کې د امریکا موجودیت

د ټولې منطقې امنیت، خوشالي او ترقي ګواښي؟

م کال، پنځمه، پرلپسې ٦١مه ګڼه، جمادی الأولی١٤٣٨هق، فبروري٢٠١٧م

دېپرۍ دستر محدث رئیس المحدثین مولانا شیخ سلیم الله خان رَحِمَهُ اللهُ

په عالمانه ژوند، خدمتونو او وفات ځو ټکي!!

- له امریکایانو سره خواخوږي....؟!
- ټرمپ او د نړۍ اندېښنې!
- دکابل دروغجن چارواکي!!
- د هلمند وروستی جهادي وضعیت

د شهید ملا عبدالمنان احمد

ژوند او کارنامو ته کتنه

جنرال نیکلسن به کله عبرت اخلي؟

امریکا او شوروي، یو حضور او یو اشغال!!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

لسم کال، پنځمه، پرلپسې ۶۱مه ګڼه، جمادی الأولی ۱۴۳۸هق، فبروري ۲۰۱۷م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن "علوي" بلال "وحید"
نعیم "صافی" عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	د هلمند وروستی جهادي وضعیت	۳
۳	جنرال نیکلسن به کله عبرت اخلي؟	۵
٤	رئیس المحدثین مولانا شیخ سلیم الله خان رحمه الله ژوند	۶
۵	د جهادي واقعاتو د تاریخ لیکلو اړتیا	۱۱
٦	امریکا او شوروي، یو حضور او یو اشغال!	۱۴
۷	دزابل، وردګ او غزنی حلقې مسئول مولوي نورالله منیب سره مرکه..	۱۶
۸	د ایران نوې توغندویي ازموینې	۲۱
۹	د شهید عبدالمنان احمد ژوند او کارنامو ته کتنه	۲۴
۱۰	امام محمد بن حسن الشیباني رحمه الله	۲۸
۱۱	تفاوت میان بمبار شوروي وامریکایي در چیست؟!	۳۰
۱۲	افغان ناروغان او هندوستان	۲۸
۱۳	خوارکیه!	۳۴
١٤	د اسلامی نړۍ ځلانده ستوری امام ابن شاهین رحمه الله	۳۶
۱۵	ګلورینې پاڼې	۴۴
١٦	له امریکایانو سره خواخوږي	۴۰
۱۷	د لویدیځ د نړیوالتوب او دجدیدیت ځپلو لاملونه او د هغو	۴۳
۱۸	د تاریخ په پاڼه!	۴۷
۱۹	ټرمپ او د نړۍ اندیښنې!	۵۱
۲۰	د کابل دروغجن چارواکي!!	۵۵
۲۱	جنرال نیکلسن : بهرني ځواکونه په افغانستان کې بند پاتې	۵۷
۲۲	کتاب باید په ویښ عقل ولولو !	۵۹
۲۳	د صحابه و رضي الله عنهم واکمني او تقوی	۶۱
٢٤	هلمند شاهد جنایت جنګی امریکا	۶۳
۲۵	ثواب یو تحقیق او جائزه	۶۴
٢٦	مبلغین و داعیان مسیحیت راچګونه بشناسیم؟!	۶۸
۲۸	آیا لیوني سپي به لیونۍ جګړه وګټلای شي؟	۷۴
۲۹	د نیت اصلاح او اخلاص	۷۲

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان   بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

افغانستان کې د امریکا موجودیت

دټولې منطقې امنیت، خوشالي او ترقي ګواښي؟

دیوولسم ستمبر دپېښو په پلمه امریکا دنړیوال صلیبي ایتلاف دملاتړ سره یوځای دشواهدو او دلایلو له لرلو پرته چې په افغانستان دکوم وحشیانه او ظالمانه یرغل ارتکاب وکړ، نن دافغان مظلوم ولس په ګډون ټوله سیمه او منطقه ددغه وحشت خوروونکي یرغل تراخه څکي او له امله یې دافغانستان په ګډون شاوخوا ولسونه هم دستونزو ، ناخوالو او دربدریو ښکار او هدف دي .

دا حقیقت دی چې امریکا یې طاغوت دمسلمانو پرګنو او ولسونو خیرخواه او دوست هیڅکله ندی، هغه ته یواځې او یواځې خپلې شیطاني ګټې اولیت لري ، او دهمدې لپاره یې په ټوله سیمه بې ثباتې او بې امنې تپلې څو داوبو په خړولو سره ځان ته پکې دخوښې کبان نیسي.

ولې استعمارپوهیږي چې مسلمانان پخپلو کې دیوبل سره په غم، درد او خوشالي کې ځانونه شریک بولي او دتاریخ دپیړیو راهیسې له یوبل سره دراشې درشې علایق او مراسم لري، لیکن امریکا غواړي دسیمې دمسلمانو ولسونو له زړونو څخه دغه خپلمنځي یو والی او اتحاد روحیه له بیخ او ریښو وباسي څو په سیمه کې خوک دامریکا اوږد مهالی پوځي شتون ونه ننګوي اونه په وړاندې یې مخالف عکس العمل و ښیي .

داخبره لکه دلمر ښکاره ده چې امریکا په نړۍ کې ترټولو لوی ترهګر او ظالم هېواد دی چې په نړۍ کې ترهه اوډارخوروي، دترهګرې اسباب او لاملونه زېږوي، اوبیا یې تقویه کوي ،دلته شپه ورځ زمونږ په کلیو او کورونو بمونه غورځوي، دتوپیر پرته لویان، کوچنیان، میرمنې او سړي مو په شهادت رسوي، ددې باوجود بیا

هم ځوک امریکا ترهګر هېواد نه بولي اونه دامریکا ددې بربنډو جنایتونو په وړاندې غږ پورته کوي ځکه نن ورځ مسلمانان په اجتماعي توګه دبزدلی ښکاردي، چې له خدای څخه نه ډارېږي او دانسانانو څخه ډارېږي او دامریکا یانو د وحشتونو او ظلمونو په اړه له څه ویلو ډډه کوي

هو! په سیمه کې روانې ټولې ناخوالې د"هر کي برماست ازما ست" په مصداق دسیمې دمسلمانو چارواکود غفلت او بې پروایی زیږنده هم دي،ولې که هغوی چېرې دمنطقې او سیمې مهمو او نازکو حساسیتونو ته په پام دخپلو ولسونو دحقوقونه ددفاع او دهغوی دغوښتنو پوره کولو په اړه مسؤلانه دریځ درلودای او ټولې فیصلې یې په حکمت او تدبر سره کولی٥ دسیمې دامنیت او ثبات په وړاندې به ننی ننګونې او ګواښونه نه وای پیدا ځومره چې اوس پیدا دي .

دسیمې دسیاسي چارو کتونکو په نظر اوس هم لا وخت شته چې دمنطقې واکمن د امریکا یې ښکېلاک او نړیوال صلیبي ایتلاف د شومو ارادو په پوره ادارک کولو سره له امریکا په ګډه وغواړي چې د کړې ژمنې سره له افغنستانه خپل عسکر وباسي دافغانستان خپلواکې او ازادې ومني او په سیمه دنا اعلان شوې جګړې څخه لاس په سر شي

دهغوی په اند: ترکومه چې امریکا په افغانستان کې پوځي شتون ولري دافغانستان په ګډون ټوله منطقه به دبې ثباتی او نا امنیو ښکار وي، امریکا ته به هم داسې دهېوادو په کورنیو چارو کې دلاسوهنوفرصت برابروي څنګه چې نن دی ، دخپل دې دریځ دساتنې لپاره امریکا هوډ کړی چې راتلونکي کې د منطقې دولسونو او هېوادونو ترمنځ دنفاق او شقاق تخم په شیندلو سره ددښمینوبل اورو نور هم تیت کړي او دیوبل پرضد یې جدي غبرګونو او ګامونوپورته کولوته و هڅوي .

نو ددې خبرې ادراک ته شدیده اړتیا ده چې دافغانستان او سیمې دسوکالی، خوشا لی، ترقی او ډاډمن ثبات په واړاندې ترټولو لوی خنډ په افغنستان کې دامریکا پوځي حضور دی، باید امریکا ددلیل، منطق ترڅنګ دخپلمنځي یوالي په ځواک دیته اړکړای شي چې دافغانستان اشغال په سملاسي توګه پای ته ورسوي، کنه خدای مکړه ټوله سیمه به دامریکایانو دلاسوهنو له امله د جنجالونو او ستونزوپه داسې ګرداب کې کیوزي چې دهغه نه به بیا وتل اسان نه وي ولې امریکا افغانستان ته په همدې بد نیت راغلې چې دنورو په شر کې خپل خیر و لټوي، دنورو په تاوان کې خپلې ګټې وګوري او دنورو په وژلو او ځورولوسره دخپلو ارادو عملي کوته لار ې چارې ولټوي، بناًضروري ده چې دیته دنوبت رسیدو څخه وړاندې دټولې منطقې اوسیمې هېوادونه دامریکا یانو دخواهشاتو پوره کولو په ځای دخپلو هېوادونو اوولسونودخواهشاتوپوره کولو دریځ پخپلولو دامریکاناوړه ارادو شنډولو لپاره سره یوشي ځکه دټولې سیمې خیر ، سوکالې، خوشالې او ترقې په همدې کې نغښتې ده ، نه دامریکا د هر خواهش اوفرمایش په منلو کې ....

د هلمند وروستی جهادي وضعیت

احمد مختار

هلمند زمونږ د هیواد له ۳۴ ولایتونو څخه ترټولو لوی ولایت دی چې مساحت یې یوشپېته زره اته سوه شپاړس کیلومتره مربع دی.

هلمند د هیواد په جنوب کې موقعیت لري ، چې شمال ختیځ ته یې کندهار، لوېدیځ ته یې نیمروز او شمال ته یې ارزګان ولایتونه پراته دي.

په اوستا کې د هلمند یادونه د هیتومند په نوم شوې ده.

هلمند تر میلاد ۳۰۰۰ کاله وړاندې تاریخ لري، د بست تاریخي ښار یې مهم دفاعي ښار و چې د سلطان محمود غزنوي له خوا جوړ شوی او دروازه او رواق یې اوس هم د هغه وخت د افتخاراتو څرګندویي کوي.

دا ښار د غزنویانو دویمه پلازمېنه وه، خو علاو الدین جهانسوز، چې کله غزني ته اور ورته کړ، تر هغې وروسته یې بست هم وران کړ .

په بست کې سکندر مقدوني هم یوه کلکه کلا جوړه کړې وه، خو دا هرڅه چنګېز خراب کړل او څه چې ترې پاتې او یا وروسته ابادې شوې وه، هغه تېمور لنګ ګورګان له منځه یووړل، خو کله چې وروسته ورته د حبیب الله خان پام شو دهغه د ابادۍ لپاره یې ښه ګامونه واخیستل ...

هلمند په علمي لحاظ د سترو محدثینو او علماوو مرکز هم دی امام ابن حبان بستي، امام ابوداود سجستاني او په لسګونو د اسلامي فقهې ، علم حدیث ، علم تفسیر، اصول الفقه اونورو اسلامي علومو نومیالي علماء همدې ولایت ته انتساب لري.

د یرغلګرو په وړاندې مقاومت کې هلمند ولایت په هردور کې خپل بارز رول لرلی .

د شوروي اشغال په مهال یاد ولایت د جهاد له مستحکمو سنګرو نو څخه ګڼل کیده چې د شهید مولوي محمد نسیم اخند زاده په څیر ډیر جهادي اتلان یې لرل.

په افغانستان باندې تر امریکایي یرغل وروسته هلمند ولایت د جهادي مقاومت تر ټولو تود سنګر و چې خپله د امریکایي اشغالګرو د احصائیو له مخې تر ټولو ډیر بهرني یرغلګر په همدې ولایت کې د مجاهدینو په لاس وژل شوي.

په هلمند ولایت کې ۸۰۰۰ برتانوي او تر ۲۰۰۰۰ زیات امریکایي او نور بهرني یرغلګر میشت وو خو له هغه سره سره یې د پرشاتګ لومړنی پیل هم له همدې ولایته شروع شو.

د هلمنـــد ولايـــت اوسنی جهادي وضعيت:

تر امريکايي يرغل ۱۶ کاله ورسته هم هلمند ولايـت د جهـاد مسـتحکم سـنګر حيثيـت لـري ، امريکـايي يرغلګر چې درى کاله وړاندې يې له هلمند څخـه ډيـرى ځواکونـه پرشـا کړي وو اوس يوځل بيـا پـه دغـه ولايـت کـې د مجاهـدينو د فعاليـت د ګرنديتوب له امله د خپلو ځواکونو د بيرته ورليږلو په اړه زړه نازړه ده .

هغوى نه په هلمند کې ځاى پرځاى کيدوته ځان تيـنګولى شي او نه هم په مکمل ډول د هلمند تخليه کولو ته .

ځکه هغوى پوهيږي چې کـه پـه هلمنـد کـې د امريکـايي پـوځي ځواک تر حمايت لاندې امريکايي پوځيان نه وي نو هلتـه د رژيـم مـورال بايللي ځواکونه يوه ورځ هم د مجاهـدينو د مقاومـت پـه وړانـدې د پـاتي کيدو توان نه لري.

همدا اوس د هلمند له ولسواليو څخه ۱۰ ولسوالۍ د مجاهدينو تـر واک لاندې دي.

د هلمند مرکز د لښکر ګاه ښار او د ځينو ولسـواليو مراکـز هـم پـه مکمل ډول د مجاهدينو تر محاصرې لاندې دي.

اوس چې په هيواد کې د پسرلي موسم پيليـدونکى دى پـه هلمنـد کې ميشت مجاهدين پر امريکايي يرغلګرو او د هغوي پـه داخلـي ملاتـړو باندې د نويو عملياتي پلانونو د طرح کولو په حال کې دي.

له همدې امله هلته ميشت بهرني يرغلګر او د هغوي داخلي ملاتړي له سختي وارخطايي سره مخ او ډير وخت د وارخطايي له امله پـه کليوالـو سيمو باندې بمبارۍ کوي چې د زياتو ځاني او مالي تلفاتو د پيښـيدو لامـل ګرځي.

د جبـار قهرمـان پـه نـوم د کمونيست رژيم پخـوانى پـاتې شـوني جنرال چې اوس يې د امريکايانو لمن نيولې پـه هلمنـد کـې د کابـل رژيـم يواځينى د اميد وړ شخص دى چـې د هلمند د جګړې د ګټلو خيالي اميدونه يې ور پوري تړلي.

خوا دا چې پـه هلمنـد کـې د امريکا ځلور سـتوريز مشـهور نظـامي جنرال سټانلي مکريستال د مجاهدينو په مقابله کې پاتې راغى نو تـر وخـت تير مورال بـايللى کمونيسـت جنـرال قهرمان به په ياده جګړه د رژيـم پـه ګټه څه قهرماني وکړي؟

پـه هلمنـد کـې د رژيـم پـه وړانـــدې د مقاومـــت د بريـــاليتوب اساسي لامـل لـه مجاهـدينو څخـه د خلکو پراخ ولسي ملا تړ دى چـې پـه هرډول سختو شيبو کې د هغوى تر شا ولاړ او په مال او سر سره يې حمايـت کوي.

که په هلمند کې د يرغلګرو او د هغوى په وړاندې د ملاتړو په خلاف روان مقاومـت پـه همـدي وضـعيت جـاري وي ليـري نـه ده چـې د يـاد ولايت د مرکز پـه تسـخيرولو سـره دا ولايت په بشپړډول د مجاهـدينو تـر واک لاندې راشي.

جنرال نیکلسن به کله عبرت اخلي؟

شاهد غزنیوال

د ۱۳۶۷کال د سلواغې د میاشتې په ۲۶ نیټه چې کله په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د ځواکونو عمومي قومندان جنرال بوریس گروموف له خپلو پرشاتلونکو ځواکونو سره یو ځای پر حیرتان پله ور اوښت له خپلې شوبلې رابښکته او د افغانستان لوري ته په مخ کولو سره یې وویل:

((دې هیواد ته زمونږ د ځواکونو راتگ زمونږ د چارواکو لویه اشتباه وه، مونږ به په راتلونکي کې خپل نوي نسل ته دا توصیه وکړو چې کله هم بیا داسي تاریخي اشتباه تکرار نه کړي))

دا مهال چې د پخواني شوروي جنرال گروموف له څرگندونو خواوشا ۲۸ کاله تیرشوي په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو اوسنی قومندان جنرال نیکلسن وایي چې سره له دې چې مونږ په افغانستان کې ۱۶ کلن پوځي حضور لرلی ، د وسله والو طالبانو په خلاف مو مستقیما پوځي عملیات رهبري کړي او د کابل حکومت ملاتړ مو کړی مگر بیاهم لیدل کیږي چې طالبان د افغانستان په ډیرې برخې مساحت حاکم او د کابل اداري واکمنې ورځ تر بلې کمزوري کیږي.

جنرال نیکلسن ویلي چې په افغانستان کې روان وضعیت زمونږ د غوښتنو په خلاف دی، سره له دې چې هلته مونږ ډیروخت پوځي حضور لرلی، مالي لگښتونه مو کړي او د امریکایانو په شمول په زرگونو بهرني پوځیان مو له لاسه ورکړي خو لاهم هلته امنیتي وضعیت ترینگلی او دولتي حاکمیت ډیر کمزوري دی.

نوموړي دا څرگندونې د امریکا د سنا مجلس غړو ته په یوه استماعیه غونډه کې کړې، جنرال جان نیکلسن د امریکا د سنا مجلس د نظامي کمیټې مشر (جان مکین) د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا امریکایانو د افغانستان جگړه گټلې که بایللې، ویلي: ((زه باور لرم چې امریکا او ناټو په افغانستان کې داسې وضعیت کې دي چې نه جگړه گټلې شي او نه یې پریښودلی شي)).

امریکایي سناتور جان مکین له نوموړي څخه د یوې بلې پوښتنې په ترڅ کې پوښتلي چې ایا ته له دې خبرې سره موافق یې چې طالبانو په تېر کال کې لا پرمختگ کړی او د ورم کال په پرتله یې د هیواد ۱۵٪ نوره خاوره هم تر خپل واک لاندې راوستې؟ جنرال نیکلسن یې د ((هو زه ورسره موافق یم))

جنرال نیکلسن زیاته کړه چې په افغانستان کې د عسکرو له کمبود سره مخ دي او یو څو زره نورو اضافه عسکرو ته اړتیا لري ترڅو افغان عسکر وروزي او له طالبانو سره مقابله وکړي.

جنرال نیکلسن د افغاني مقاومت له عیني واقعیتونو څخه په سترگې پټولو سره په افغانستان کې د امریکایانو ناکامي د هغوی د پوځونو کموالي تو جیه کوي نه په ولس کې د مقاومت کوونکي مجاهدینو ولسي شعبیت.

د جنرال نیکلسن دا خبره یاله یاده وتلې او یایي قصدا له یاده ایستلې چې په افغانستان کې د امریکا او ناټو د ۱۵۰۰۰۰ کسیز ځواک له شتون سره سره به د جگړې په لومړیو کربښو کې د بهرنیو ځواکونو د وژل شویو شمیر په کال کې تر ۷۰۰ کسانو هم زیات و.

که چیري د ده په اند ریښتیاهم د امریکایانو اوسنۍ ناکامي د هغوي د پوځیانو د کم والي له وجې وای نو هغه مهال ولي ناکام وو چې له افغان داخلي ځواکونو سره یې د پوځي ځواک شمیر ۵۰۰۰۰ لکو ته رسیدو؟

ولي هغه مهال دوي په خواوشا دیرش زره مجهز محاربوي ځواک سره یواځې د هلمند د مارجې ولسوالۍ لاندې نه کړای شوه؟

ولي جنرال مکریستال د امریکا د یوه مشهور او ماهر پوځي جنرال په حیث په افغانستان کې د ده د سلگونو زره بهرنیانو له شتون سره سره په شکست او لیونتوب له افغانستانه بهر او له خپلې دندې گوښه کړای شو؟

ایا هغه مهال هم په افغانستان کې د امریکایي ځوکونو کمښت و او که تر بل هروخت زیات دلته د بهرنیانو شتون ډیر، او په ډیرو پرمختللیو وسلو مجهز و خو ناکامي او د جگړې په کرښو کې یې بشري تلفات ډیر و.

جنرال نیکلسن ته په کار دي پر واقعیتونو باندې د چشم پوشي پر ځای پر واقعیتونو باندې د اعتراف لاره غوره کړي او د یوه پوځي جنرال په توگه د هغو بیشمیره امریکایي جنرالانو له ماتې عبرت واخلي کوم چې تر ده وړاندې یې همدا دنده تر سر کړې او د زرگونو امریکایي پوځیانو له تابوتونو سره یوځای خپل هیواد ته ورگرځیدلي دي.

دپېرۍ دستر محدث رئیس المحدثین مولانا شیخ سلیم الله خان رَحِمَهُ ٱللَّهُ

په عالمـانه ژونـد، وفات او خدمتـونو څو ټکي!!

همدرد

هـو! د روان۱۴۳۸هـق کـال ربیـع الثـاني پـه ۱۵(۲۰۱۷دجنـوري ۱۴) مـه نیټـه د دارلعلـوم دیوبنـد فاضل،د شیخ الاسلام مولانـا حسین احمدمـــدني رَحِمَهُ ٱللَّهُ شـــاگرد، دپاکستان ددینـي مدارسـو د سترې علمــي منظمــې (وفــاق المــدارس العربیــة) رئــس ،دجامعــه فارقیــه مؤســس او پــه دي وخــت کــې د (جـامع الصـحیح البخـاري) ترټولـو غـوره شـارح شـیخ الحـدیت مولانـا سلیم الله خـان رَحِمَهُ ٱللَّهُ دماسـخوتن لمانځـه داداء کولـو وروسـته د ٩٦ کلوپـه عمـر لـه دې فـاني نـړۍ نـه دعقبی په لوررحلـت وکـړ انـا لله وانـا الیه راجعون.

د شک پرته دشیخ الحـدیث مولانـــا ســـلیم الله خـــان رَحِمَهُ ٱللَّهُ محدثانـه شـان، لـوړ علمـي مقـام او شخصیت دنړۍ د علمـي، فکـري او نظریــاتي ټولنـو او اشخاصـو تـرمنځ پیژندگلوی ته محتاج ندی.

داروابښـاد ژونـد دتعلـیم، تعلم ، سنت د اتباع او فتنـو پـر ضـد دجهاد او مقاومت نه عبارت و او لوړ محدثانـه عظمـت ، علمـي او مسـلکي تصــلب ، داســلام او شریعــت لــه اسرارو او احکاموسره عاشقانه انـداز یــې د خپلـو او پردیـو دواړو تـرمنځ منلــی او مقبـول و اوهمـدا وجـه وه چې داسلامي نړۍ د دینـي او علمـي حلقو دننه یې نوم پـه زیـات احـترام سره بدرگه کیده په خاصـه توگـه د دیوبندي علمي حلقې یا فکر علـماوو ، مجاهـدینو او سیاسـیونو خـو خپـل مقتداء او امام گاڼه...

رئـس المحـدثین مولانـا سـلیم الله خــــان رَحِمَهُ ٱللَّهُ دخپــــل ٩٦کلــــن عمراوواویا کاله ددیني علومو اوفنونو پــه تــدریس کــې تیــر کــړل، ددې ترڅنگ یې شخصـیت دومـره جـامع او متنـوع و، چـې دنـړۍ پـه حـالاتو ، حوادثو او بدلونونو یې هم پـوره نظـر او فکــر و، دتــدریس څخــه نیــولي ترجهاد ، سیاست او تبلیغ پـورې پـه ټولـو برخـو کـې یـې دخپلـو کشرانو رهــنمائي او سرپرســتې کولــه او کشرانو یې په ورین تندي هـر حکـم او مشورې ته لبیک وایه.

د علم او تحقیق په میدان کــې ترټولـو سـتره کارنامـه یــې پــه ۲۲ټوکونو کې دکشف الباري په نوم د بخاري شریـف جـامع شرح لیکـل دي ، دعلامه ابن خلـدون رَحِمَهُ ٱللَّهُ پـه وینا: دصـحیح بخـاري پـوره شرح او تفسیر تـردې وختـه دامـت پـه ذمـه قرض پاتې دی ، دعلماوو په وینا: پـه بخـاري شریـف بانـدې دبـې شـمیره شروحو او حاشیو لیکلو وروسته هـم دعلامه ابن خلـدون داخـبره هغسي- پرځـای پـاتې ده څنگـه چـې دعلامـه ابن خلدون رَحِمَهُ ٱللَّهُ په زمانـه کـې وه،

ځکـه دبخـاري شریـف پـه علمـي باریکیو برلاسې مندل پـه هـر وخـت کـې یـوه بـې ځوابـه پوښـتنه ده، دبخاري شريف دهر کتاب، هرباب او دهرعنوان جوړښت او تراجم ددې ستر محدث او اعجوبة الدهر په ستر فقاهـت حجـت دي ، دعلامـه ابـن خلدون روح ته په درناوي سره باید عرض کړو چې دامت علماوو پـه هـر دور کـې دبخـاري شريـف دعلمـي اسرار او نکات په خورا دیانت او ښـه شـان سـپړللي نـن ورځ دهـم هغـوی دعالمانه او محدثانه څېړنو په برکت دبخاري شريف زرګونه شروحات او حاشیې شتون لري چې کې دعلامـه حافظ ابن حجر رَحِمَهُ ٱللَّهُ (فتح الباري) او د علامه بدرالـدين عيني(عمـدة القاري) رَحِمَهُ ٱللَّهُ دبخـاري شریـف پـه شروحو کې يقيناً لامثـال دي همـدا راز وروسته متاخرینو علماوو هـم پـه دې برخـه کـې دقـدروړ شروحـات اوعلمي حاشيې ليکلي چې دهـر ګـل را رنګ بوی ددیګراست پـه مصداق هریـو جلا علمي ذوق او رنـګ لـري خــو دمتــاخرينو پــه شروحــو کــې دځـومره جـامعې، سليسـې، روانـې او محققانه شرحې ليکلو کـوم ویـاړچې اسـتاد المحدثين مولانـا سـليم الله خان رَحِمَهُ ٱللَّهُ تـه پـه برخـه شـو، يقينـاً په معاصرو کې يې بل چاته ندی پـه برخـه همـدا راز پـه مشکوة شريـف دريې ټوکونو کې د (نفحات تنقيح) پـه نـوم شرحـه هـم دعلـماوو تـرمنځ ستر اعتبار او مقام لري.

ددومـــره لـــوړ عالمانـــه او محدثانه شان لرلو سربيره دهـرډول غرور، تصنع، تكلف، تشدد او تجدد ، تفردد او شـذوذ څخـه پـاک او لـري و،دافراطيـت او غلونـه مجتنـب او داعتـدال پـه لار روان و او داسلامي امت دسواد اعظم دټولو خواوو سره په يوځای او ګډ کار او خـدمت کـې يې خيرو برکت ګانـه، پـه عقايـدو او مسـايلو کـې پـه کتـاب او سـنت داستقامت ژوندۍ نمونـه و او دبـدو او ګمراه کوونکو عقايدو د لـه منځـه وړلـو لپـاره تـل ويښ او بيـدار و، هـرخبره يـې پـه دليـل کولـه او پـه دليل سره يې اوربده.

زوکړه:

نومـــوړی د ۱۹۲٦ز کـــال د دسـمبر پـه ۲۵مـه نيټـه زيږيـدلی و، نيکه يې مولانا عنايت الله خان څوک چې جيـد عـالم ، طبيـب او شاعرو، دنومـوړي مورتـه يـې پـه کاغـذ د مبارکۍ په دود لاندې شعر ورکړ:

رهيی زنده، سليم الدين چشتي
حسين و نازنين صورت بهشتي

زده کـړې: د زدکـړو پـه اړه نومـوړي رَحِمَهُ ٱللَّهُ پـه يـوه ليکنـه کـې خپل سوانح داسې راټول کړي:

ناچيزبنـــده(ســـليم الله) د حسن پورقصبې په لوهار(کلي) کې زيږيـدلی، کـوم چـې تهانـه بـون او جـلال آبـاد تـه څېرمـه پـروت دی، اردو ا وفارسـې زده کـړې مـې هلتـه پـه لوهـار کـې ولوسـتې ،ترڅلـورمې درجې کتابونـه ، شرح وقايـه او شرح جامې مې دوه نیم کالو په مـوده کـې پـه مدرسـه (مفتـاح العلـوم) کـې لـه درانـه استاد مولانـا مسيح الله خـان څخه ولوستل ، بيا وروسته مې پنځه کالـه پـه دارلعلـوم ديوبنـد کـې تيـر کـړل ، هلتـه مـې لـه شيخ الاسلام مولاناحسين احمد مـدني رَحِمَهُ ٱللَّهُ نـه دسـنن ترمـذی لـومړی ټـوک، او صـحيح بخـاري (مکمـل) ولوسـته، وروسـته دجـلال آبـاد پـه مفتـاح العلوم مدرسه کې دمدرس او نـاظمِ تعلـيمات پـــه حيـــث مقررشـــوم، همدلتـه مولـوي جمشـيد علـي خـان (دتبليغـي جماعـت مخکښ مشر۔ او دريونۍ مدرسې شيخ الحـديث دوه کالـه وړانـدې مـړ) مانـه دوه کالـه سـبقونه ويـلي،د دې وروسـته زه او هغه پاکستان ته راغلـو، دلتـه ټنـډو الـه يـار کـې مولانـا احتشـام الحـق تهانوي مدرسـه جـوړه کـړې وه زه هلتـــه مـــدرس شـــوم، ابـــوداود، وروسـتۍ دواړه هـدايې او څـو نـور کتابونـه مـې تدريسـول ، خـو دهغـه ځای محيط او بـه او هـوا پـه مـا ښـه

رانغلل ،راغلم کراچۍ دارلعلوم ته ، هلته مې لس کاله ترمذي شريف او ٦ کاله بخاري شريف درس کړل په همدغه زمانه کې يوکال دماسپښين دلمانځه وروسته جامعة العلوم اسلاميه علامه بنوري ټاون کې ترمذي دوهم ټوک، شمايل ترمذی، او بيضاوي شريف مې درسول او په دارلعلوم کراچۍ کې مې په دې سربيره دفنونو مختلف کتابونه هم تدريس کړي ، بيا مې دمفتي محمد شفيع رَحِمَهُ اللَّهُ نه اجازت ترلاسه کړ او جامعه فاروقيه مې جوړه کړه او هغه اجازت په ډېره مشکله راکړ، تردې وخته دلته (په جامعه فاروقيه کې) يم ، چې کله روغتيا يې حالت مې ښه و، بخاري شريف اول، ترمذي او مشکوة راسره وو، اوس معذوريم يوازې بخاري لومړی ټوک درسوم.

استادان:

اروابښاد شيخ الحديث مولانا سليم الله خان رَحِمَهُ اللَّهُ د خپل وخت دجيدو علماوو نه زده کړې کړې چې دهغوی ټولو نومونه دلته راوړل ګران دي خو ترټولو زيات تعلق او مينه يې چې د کومو استادانو سره وه هغه دادي:

١.... شيخ الاسلام مولانا سيد حسين احمد مدني ٢.... شيخ الادب مولانا اعزازعلي ٣... شيخ التفسير مولانا محمد ادريس کاندهلوي او ۴.... حضرت مولانا عبد الخالق ملتاني

شاګردان:

استاد المحدثين مولانا سليم خان ٧٧کاله پرلپسې ددينې او شرعي علومو په تدريسولو کې تيرکړي، چې په دغه اوږده موده کې ورځخه په زرګونو علماوو او طالبانو استفاده کړې چې حتمي شمير به يې دعليم او خبيررب په علم کې وي او نوموړي له دې پلوه خوش قمست دی چې نن ورځ داسلامي نړۍ يولوی شمير معتبر علمي شخصيتونه ، محدثين، فقهاء او علمائې په شاګردانو کې راځې چې دټولو نومونه دلته راوړل محال دي يوازې دبېلګې په توګه دځوتنو مشهورو شاګردانو نومونو په راوړو بسيا کوو: دجامعه علوم اسلاميه علامه بنوري ټاون (کراچۍ) دوهم مهتمم مولانا مفتي احمد الرحمان رَحِمَهُ اللَّهُ داسلامي نړۍ پيژندل شوی علمي شخصيت مولانا مفتي محمد تقي عثماني، مولانا مفتي محمد رفيع عثماني، دبنوري ټاون دريم مهتمم مولانا ډاکټر حبيب الله مختار(شهيد) دبنوري ټاون پخوانی شيخ الحديت او مشهور عالم مولانا مفتي نظام الدين(شهيد) رَحِمَهُ اللَّهُ دتبليغي جماعت مخکښ مشر- مولانا جمشيد علي خان رَحِمَهُ اللَّهُ . ځامن هر يو مولانا ډاکټر عادل خان او مولانا عبيد الله خالد، مناظر عالم مولانا منظور احمد مينګل ،مولانا ولي خان المظفر ، مولانا ابن الحسن عباسي او داسې نور نوميالي علماء او مشاهير يې په شاګردانو کې دي چې ځيني آن تري مخکې وفات شوي او ځيني ژوندي دي الله تعالی دي دهغوی په عمرونو کې برکت واچوي

تصنيفات:

شيخ الحديث مولانا سليم الله خان نه يوازې دلوړې درجې ممتاز شيخ الحديث ، استاد او مدرس و، بلکې په دې سربيره د ښه ځواکمن قلم څښتن هم و، دنوموړي ترمديريت لاندې په يووخت کې په اردو، عربي او سندهي ژبو مجلې د چاپ راوتلې دمثال په توګه الفاروق مجله يادولی شوکومه چې له څنډ پرته هره مياشت په عربي جلا او اردوژبه جلا له چاپ څخه راوځي او په ډېر لوی شمير لوستونکي او مينوال لري

په دې علاوه اروابښاد شيخ الحديث مولانا سليم الله خان په خورا مهمو او سختو علمي کتابونو شروحات هم ليکلي چې ترټولو ستره کارنامه يې څنګه چې وړاندې مو ورته اشاره وکړه کشف الباري دبخاري شريف په ٢٢ ټوکونو شرحه

چې تردې مهاله دومره جامعه او محققانه شرحه به په متاخرینو کې بل چا نه وي لیکلې، دویم نفحات التنقیح شرح مشکاة المصابیح په درې ټوکونو کې هم دتصنیف او تالیف په برخه کې یې تلپاتې علمي اثر دی

په ورته توګه دالفاروق سرلیکنې او مضامین او مواعظ یې هم دصدائ حق په نوم کتاب کې چاپ شوي په دې سربیره دجامع ترمذي شرح (په ۱۰ ټوکونوکې) دعظیم الشان قرآن تفسیر (په ۱۰ ټوکونو کې) ترچاپ لاندې دي.

حیقیت دادی چې شیخ الحدیث مولانا سلیم الله خان پخپل ذات کې د یو انجمن او ټولنې حیثیت لاره، څنګه چې الله تعالی ورته د۹٦ کالو عمر ورکړ په دغه موده کې یې چې کوم علمي او دیني خدمتونه سرته ورسول که څو اداري او ټولنې هم سره یوځای شي هم دومره پراخ علمي کار به و نکړای شي

نوموړی پخپل ژوند لیک کې لیکلي: د دارلعلوم دیوبندنه دفراغت وروسته د خپل استاد مولانا مسیح الله خان په حکم مې په مفتاح العلوم مدرسه کې له عوض پرته تدریس پیل کړ، ځکه دکورنۍ حالات مې ښه و، پلار مې ښه ماهر طبیب و، او مور مې دکور دننه تجارت کاوه، په دې وجه معاش اخستلوته مې ضرورت نه و، لیکن دیوبند نه دفراغت وروسته دپلار مې ارزو وه چې زه باید طب یادکړم، څو طبیب شم او د مورمې ټینګاردا و چې باید انګریزي یاده کړم هغوی دواړو راته ویلي: که ته مدرسه کې په همدې حالت پاتې شي اخر خوراک ــ څښکاک به له کومه کوي؟ تاته څوک ښځه هم نه درکوي او ژوند به په څه ډول تیروي؟ ما هغوی ته داځواب وایه چې داټول کاروڼه کېږي او زه دطب یا انګریزي یادولو لپاره مدرسه نه پریږدم !! زما په دې ځواب هغوی وویل: سمه ده ستا چې هر رنګ خوښه وي هغسې وکړه، لیکن تاسره چې زمونږ څومره شیان دي هغه ټول مونږ ته بیرته راکړه، ما سره بستره او څو نورشیان وو هغه هغوی ته واپس کړل، په دغه وخت کې زما دطالبۍ دزماني یو ملګری مولانا فضل هادي پشاوري بنارس ته دشیخ الحدیث په صفت راغلی و، ادرس یې را سره و اوهم ورسره بې تکلفه وم ،هغه ته مې په لیک کې ولیکل ته! ماته دیرش روپۍ راولیږه! خو زه په دې اندیښمن وم چې دپیسو حواله لومړی نیغ زما استاد (مولانا مسیح الله خان) ته ورځي بیا وروسته ماته راځي ،هغه به له ماپوښتي چې پیسې دي دڅه لپاره...؟ ځکه ما هغه د کورنۍ سره دشخړې راتلواو خپلې تنګ لاسۍڅخه خبر کړی نه و ، الله دې مولانا فضل هادي ته ښه بدله ورکړي ، هغه درسید له بره ماته لیکلي و: زه تاته دیرش روپۍ لیږم ترلاسه یې کړه زه به دې مننوی یم! درسید په لوستو هغه اندیښنه مې لرې شوه ، تدریس مې کاوه، څه موده وروسته مې موروپلارته وویل: ماته دواده یو پیغام راغلی! هغوی ویل: د کوم ځای نه؟ ما ویل: د دیوبند دترورمیره له لوري(زما ترور وفات شوې وه، بیادهغې خاوند بل واده وکړ، زما میرمن دهغه د دوهمې نکاح څخه ده) پلار او مورمې ویلي: مونږ خو هغه لیدلې نده څنګه یې اومنو ؟ او مونږ خو دوه نور ځایونه کتلي!ما ویل: تاسو یې اوګورئ که خوښه موراتله نو ترجیح دې ځای ته ورکړئ ، هغوی هلته لاړل او خوښه یې راغله ، زما واده وشو، دمدرسې مهتمم خبرشو ،هغه راته سل روپۍ معاش مقرر کړ، سره ددې چې هغه خپله څلویښت روپۍ اخستې، هم مې واده اوشو او هم معاش راته مقررشو ، معاش به مې واخیست ،نوي روپۍ مې مورته

ورکولې هغه به ډېره خوشاله شوه او زياتې دعاګانې به يې راتـه کولې او پـاتې لـس روپۍ مې ميرمنې تـه ورکــولې، دځــان لپـاره ځــه نــه پرېښودل ځکه ضرورت مې نـه وو ، لـه کـورنۍ سره مـې حـالات روغ شوي وو او تنګ لاسۍ سره نه وم مخ .

دعلمـي خـدمتونو سربيـره شيخ الحديث مولانا سليم الله خـان رَحِمَهُ اللَّهُ پـه اجتماعي ډګـر کـې هـم خورا ستر او دقدر وړ خدمتونه سرته رسـولي، چـې دهغـو پـه وجـه يـې شخصيت نور هم ځلاند او دعلـماوو او طالبانو ترمنځ يې درنښت په برخه و.

پا کستان کې ددې لپاره چې اسلامي مدرسې او جـامعې خپلـمنځ کـې سره يـو مربـوط نظـام او جـوړ سستم ولري، دهر مکتبِ فکر علـماء او د مدرسو مهتممان د مدرسو لپاره جلا علمي منظمې او تنظيمونـه لـري ، چــې پــه دې ټولــو منظمــو کــې دمدرسـو پـه سطحه علمي منظمې ګڼل کېږي ددیوبنـدي مکتـب فکـر (وفـاق المـدارس العربيـه) منظمـه ټرټولو لويه، فعاله او پراخه ده چې د دغه هېواد دځـه کـم شـل زره دينـي مدارس او

جـــامعې ځـــان سره ثبـــت او راجســتر لــري ، چــې هــدف يــې دمدرسو دننـه دتعليمـي او تدريسيـ بهيـر ځارنـه، دمدرسـو پـه وړانـدې دستونزو دله منځه وړل او دمدرسو دبهبـود او ترقـۍ لپـاره اجتماعـي کوښښونه پرمخ وړل دي

هميش ددغې منظمې مشرې او رهـبرې دوخـت منليـو او معتـبرو علماوو لـه لـوري پـرمخ وړل کېږي ، شـيخ سـليم الله خـان رَحِمَهُ اللَّهُ پـه ۱۹۸۰ز کـال کـې د ښـو تعليمـي او تنظيمي صلاحيتونو درلـودو پـه وجـه دوفاق المدار العربيه داعلی ناظم پـه حيث مقررشو، نهه کاله په دې دنده دخدمتونو او کار وروسته پـه ۱۹۸۹ز کـال کـې دوفـاق المـدارس العربيـة مرکزي رئس تعين شو، چې دوفات تروختــه پــه دغــه دنــده پــاتې وو، نومـوړي دوفـاق المـدارس العربيـة دتنظيم ، افاديت او مؤثريت لپاره او ددينـي مدرسـو دترقـۍ او دتعليمـي معيـــار دلوړولـــو لپـــاره دقـــدروړ خدمتونه سرته رسولې چې ددينـي مدرسـو د تـاريخ زريـن بـاب ګڼـل شي.

دوفات نه څو ورځې وړانـدې يـې طبيعـت لـږ ناساز شو ، پـه دې وجه روغتون تـه بوتلـل شو، هلتـه د ډاکټرانو لخوا يې درملنه روانه وه، پـه وروســـتيو دوه ورځـــو کـــې يـــې روغتيايي حالت بهتر و تـردې چـې دوفـات پـه شـپه يـې دماسـخوتن

لمونځ په تـيمم اداء کـړ او بيـا دارام په موخـه څملاسـت خـو لـږه شيبه پس په همـدې حالـت کـې يـې روح والـوت او دخپـل حقيقـي خـالق سره يوځای شو.

پـه وفـات يـې دځلورکونجـه نـړۍ څخـه مسـلمانانو او علــماوو تعزيتـي پيغامونـه وليـږل او نومـوړي تـه يې دعاګـانې وکـړي دافغانسـتان اسلامي امارت مشرتابه لخوا هـم پـه يوه ځـانګړې اعلاميـه کـې دنومـوړي رَحِمَهُ اللَّهُ پـــه مړينـــه دخفګـــان څرګندونـه شـوې او درنـې کـورنۍ او شــاګردانوته سره يــې خواخــوږې ښـودلې او نومـوړي تـه يـې نيکـې پيروزينې وړاندې کړې.

پـه وارثـانو کـې يـې د زرګونـو علـماوو ، مريـدانواو معتقـدينو څخـه علاوه يوه ميرمن درې ځامن او درې لوڼـه پـاتې دي الله تعـالی دي هغـوی تـه جميـل صبر ور کـړې او هـم دي دمرحـوم دفيوضـاتو برکـت جـاري ولـري او الله تعـالی دي ورتـه جملـه حسـنات قبـول کـړي او دفـردوس جنت مکين دي وګرځوي

اللهم لاتحرمنا اجره ولاتفتنا

***

د جهادي واقعاتو د تاریخ لیکلو اړتیا

عبدالرحیم (ثاقب)

هرهیواد د خپلو تاریخي پیښو د ثبت او سجل لپاره یو مشخص تاریخ لري.

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې له نیږدي یوې پیړۍ را په دې خوا د ملي او تاریخي پیښو د ثبت او سجل لپاره هجري لمریز تاریخ رائج دی.

هجري شمسي تاریخ چې اساس یې د هجري قمري تاریخ په څیر د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له هجرت څخه پیل شوی د مسلمانانو معتبر تاریخ او د اسلامي امت ډیرتاریخي احداث د همدې تاریخ په حساب ثبت شوي دي.

له ۱۳۴۰ هجری قمري کال راهیسې چې له ۱۳۰۱ هجري شمسي- سره برابر دی له انګریزي استعمار څخه تر خپلواکي اخیستلو وروسته هجري شمسي تاریخ په رسمي ډول دافغانستان لپاره تعین او تر اوسه پوري له تیرې څه کم یوې پیړۍ راهیسې زمونږ د هیواد ټول تاریخي وقائع په همدې تاریخ بناء دي.

په ۱۳۵۸ هجري لمریز کال کې د شوروي اشغال په مهال سره له دې چې د ځینو جهادي تنظیمونو لخوا په پیښور کې په خپلو رسمي مکاتباتو کې د هجري شمسي تاریخ ترڅنګ د هجري قمري تاریخ کارول هم معمول و خو د هیواد په داخل کې د مجاهدینو لخوا ټولې جهادې پیښې د هجري شمسي تاریخ مطابق لیکل کیدلې.

همدا وجه ده چې له ۱۳۵۸ هجري لمریز کال څخه نیولې تر ۱۳۶۸ پوري د شوروي اشغال په لس کلن بهیر کې د هیواد ټول جهادي جریانات او مهمې ورځې د هجري شمسي تاریخ مطابق نومول شوې.

د ۱۳۵۷ کال د ثور اوومه ، د ۱۳۵۸ کال د جدي شپږمه ، د ۱۳۵۸ کال د حوت ۲۴ ، د ۱۳۶۸ کال د دلوي ۲۶د ۱۳۷۱ کال د ثور اتمه او همداسې نور د پخواني جهاد د وخت ټول مهم واقعات د هجري شمسي- تاریخ مطابق زمونږ د هیواد په تاریخ کې ثبت دي.

له بده مرغه په ۱۳۸۰ هجري لمریز کال کې په افغانستان باندې د امریکایانو له یوځې یرغل سره سم د اشغال د نورو تاثیراتو ترڅنګ دا ستونزه هم را پیدا شوه چې په هیواد

کې مو د خپل هجري شمسي تاریخ د کاروني ترڅنګ د انګریزي (میلادي) تاریخ کاریدل هم ترویج شول.

د افغانانو لخوا د خپل هیواد د تاریخي پیښو د ثبت او سجل لپاره د انګریزي تاریخ کارونه د امریکایي استعمار لومړنی اغیز و چې په فرهنګي لحاظ افغانان تري اغیزمن او په دې سره د هیواد ډیری مهم واقعات د دې پرځای چې په خپل افغاني تاریخ (هجري لمریز) تاریخ ولیکل شي په میلادي (انګریزي) تاریخ ثبت شول.

که د شوروي اشغال په مهال د جهاد تاریخ ته و کتل شي نو هر ولایت او سیمه د یرغلګرو شورویانو او کمونیستانو په خلاف د مقاومت او پاڅون معلومې ورځې او ټاکلی تاریخ لري.

د بیلګې په توګه د ۱۳۵۷ کال د کب د میاشتې ۲۴ د کمونستانو په خلاف د هرات د مسلمان ولس د عمومي پاڅون ورځ

د ۱۳۵۸ کال د حوت ۳ د شوروي اشغالګرو په خلاف د کابل ښاریانو د عمومي پاڅون ورځ او داسې نور.

اوس هم د امریکایي اشغالګرو د اشغال له لومړۍ ورځې راهیسې د هغوی په خلاف د افغان مسلمان ولس مقاومت پیل شوی او دا داسې مقاومت دی چې په معاصر تاریخ کې یې د نړۍ پرمخ چیرته ساری نه لیدل کیږي.

د دې خارق العادته مقاومت په ترڅ کې ډیر داسې نادر او مهم واقعات پیښ شوي چې په کار دي زمونږ جهادي نشرات هغه په خپل وطني تاریخ (هجري شمسي) کې ثبت او د صلیبي یرغل په خلاف د جهاد د تاریخي یادګارونو په توګه خوندي کړي.

مونږ د لته غواړو د مشت نمونه خروار په توګه د ځینو هغو مهمو پیښو تذکر وکړو چې د صلیبي یرغلګرو خلاف جهاد کې پیښې شوې او د پیښیدو نیټه یې د هجري شمسي تاریخ په ځای په میلادي تاریخ لیکل شوې:

د ۲۰۰۱ کال د نومبر د میاشتې په ۲۵ نیټه په قلعه جنګي کې د امریکایي اشغالګرو او د هغوی د داخلي ملاتړو د وحشت په خلاف د اسیرو مجاهدینو پاڅون چې په ترڅ کې یې د سي اي اي لومړنی امریکایي جاسوس مایک سپین ووژل شو.

د ۲۰۰۲کال د مارچ په میاشت کې د امریکایي اشغالګرو په خلاف د شاهیکوټ د مجاهدینو لومړني جهادي عملیات.

د ۲۰۰۷ د جولای په ۷ نیټه په غزني په ولایت کې د ۲۴مجاهدینو لخوا د کوریایي مبلغینو نیول.

د ۲۰۰۸ کال د جون د میشتې په ۱۴په کندهار کې د مجاهدینو په

عملیـــاتو ترڅمکـــه لانـــدې د حيرانـــوونکي تونـــل پـــه کيندلو سره تر ۱۵۰۰ زيـاتو بنديانو را خلاصول .

د ۲۰۰۹ کـــال د مـــی د مياشتې په ۹ نيته د فراه پـه بالا بلـوک ولسـوالۍ کـې د امريکايي اشغالگرو په بمباري کې د هغوي په اعتراف د ۲۰۰ تنو ولسي- وګړو مظلومانه شهادت او همداسې په سلګونو ځله نـور پـه کنـدوز ، اروزګان ، هلمند ، کندهار، ننګرهار، کونړ، خوست ، لوګر، پکتيا ، پکتيکا غزنی او .... کې.

د ۲۰۰۹ کال د جون د مياشـتې پـه (۱) د پکتيـا پـه ولايـت کـې د مجاهدينو په لاس د لومړني امريکايي افسر بوبرګدال اسير کول.

د ۲۰۱۱ د جـولای پـه ٦ پـه وردګـوکې د يـوه مجاهـد پـه لاس د امريکايي ځواکونو د پوځي الوتکې په راغورځولـو سره د ۳۷ امريکـايي کوماندويي ځواکونو وژل کيدل.

د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په ۱۱ د وردګو په سيد اباد ولسـوالۍ کـې د استشهادي بريد په وسيله د ۱۰۰ تنو امريکايي ځواکونو وژل کيدل.

د ۲۰۱۳ د اپريل د مياشتې په ۱۳ د اسلامي امارت د تأسيسي مشر- امير المؤمنين ملامحمد عمر(مجاهد) وفات .

د ۲۰۱۴ کال د جون په ۴ د امريکايي بندي افسر په عوض کـې لـه ګونتنامو څخه د اسلامي امارت د ۵ تنو مسؤلينو راخلاصول.

د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په ۲۲ د اشرف غني لخوا له امريکايـانو سره د امنيتي شرموونکی تړون لاسليکول

د ۲۰۱۵ کال د سپتمبر په ۲۸ د مجاهدينو په لاس د کنـدوز ولايـت فتح کيدل.

د۲۰۱٦ کال د می د مياشتې په ۲۱نيتـه د امريکـايي ځواکونـو پـه هوايي بريد کې د امير المؤمنين ملا اخترمحمد منصورشهادت.

د ۲۰۱٦ کـال د مـي پـه ۲۵ د اسلامي امارت د امير په توګه د امير المـؤمنين شـيخ مولـوي هبـة الله ټاکل کيدل.

د ۲۰۱٦ کال د د يسـمبر پـه ۷ د مجاهدينو په له منځـه وړلـو کـې د امريکايي ولسمشر- بـارک اوبامـا د ناکامي اعتراف.

لکه مخکې چې مو ذکر کـړل دا پيښې مشت نمونه خر وار دي ځکـه چې دا د تيرو ۱٦ کلونو په حسـاب د ټول کال په کچه فقـط د يـوې يـوې پيښې تذکرشوی او مونږ په ۱٦کلـن جهادي بهير کې پـه زرګونـو داسـې پيښې لرو چې هغه هره يوه تاريخي حيثيت لري او بايـد د خپـل تـاريخي اهميت له مخې هغه د هيواد د مهمو پيښو په جمله کې ثبت شي.

امریکا او شوروي،

یو حضور او یو اشغال!!

عبید تنویر

دپخواني شوروي اتحاد وحشي لښکرو شاوخوا ۳ نیمي لسیزي وړاندي برابر ۹ کاله او ۵۰ ورځي په افغانستان کې خپل ټول وحشت اوبربریت وکاراوه ،د پنځوسو زرو عسکرو په تلفاتو اوګوډو مات کیدو سربیره یې په ملیاردونوډالرولګول ؛ خودمتعال رب (جل جلاله) په نصرت او دبرمیال افغان ولس دقربانیو په برکت ډیرژر په ګونډو او دي ته اړ شول چې له افغانستان څخه پښې سپکې او خپل تاریخي شسکت ومني

د ۱۳۶۷ل کال ددلوې دمیاشتې په ۲۶ نیټه چې د روسانو دشکست خورده لښکرو دوتلو ورستی ورځ وه ، روسي قومندان جنرال (ګروموف) چې له افغانستان څخه یې دشوروي قواوو دویستلو دنده تر غاړې وه کله چې دامو په سیند واوښت په خپلو تاثراتو کې یې داسې ووئیل : مونږ په یوه خطرناک ګرداب کې راګیر وو ، دا چې له افغانستان څخه مو خپلې پاتې قواوې راوویستلې او نجات مو پیدا کړ دجنرال په وینا دادهغوئ لپاره له معجزې کمه خبره نده !!!

په افغانستان کې د روسي قواوو ماته دشوروي اتحاد لپاره دشکست ړومبنی زهرجنه تجربه وه ، په هغه وخت کې شوروي لښکري په نړی کې هغه ځواک بلل کیده چې شاتګ او شکست یې نه مانه ، امریکا ، غرب او ټوله سیمه یې تر خپل هیبت او رعب لاندې راوستی وه

خو دا افغان مجاهد ولس وو چې دخپلو دیني او ملي اقدارو دساتلو او دهیواد دخپلواکی دګټلو په خاطر د یو نیم میلون ککرو نذرانې ته تیار شو ،ولې دسره استعمار غلامي او دکمونیستي ایډیالوژی منلو ته یې غاړه کینښوده، چې په پایله کې افغانانو نه یوازې شوروي عسکر له افغانستان څخه تیښتي ته مجبور کړل ورسره یې دکمونیزم کرغیړنه نظریه او سره امپراطوری هم په بل مخ نسکوره ، او له ګیډي یې لسګونه مستعمره شوې هیوادونه راووتل

امریکایانو چې کله دافغان جهاد په توسط دشوروي یا (وارسا) بلاک نړیدل مشاهده کړل او په دې ډاډه شو چې چې روسان نور ورته کوم خطر او ګواښ ندی نو سمدلاسه په دی سوچ کې شوه چې

که مجاهدین په همدغه قوت او فاتحانه جهادي روحیه پاتې شي، نو حتما به په افغانستان کې یو اسلامي نظام راځي او د اسلامي نظام نفاذ خو د امریکا لپاره د شوروي یانو له ګواښ څخه هم سخت او دروند تمامیده نو په خپله او هم یې د سیمې د هیوادونو په مرسته هلې ځلې پیل کړې چې د مجاهدینو د وحدت او په کابل کې د کمونیستي رژیم له سقوط ورسته د اسلامي نظام مخه ونیسي

هماغه وو چې کله مجاهدین کامیاب او کمونیستي رژیم له منځه ولاړ نو امریکا په مستقیم او غیري مستقیم ډول د خپل منځي جګړو اور بل، دیوه سالم او متحد نظام مخه یې ډب کړه، له امله یې دافغانستان په هر کونج او کنار کې ملوک الطوایفي پنجې خښې کړې، د هیواد ملي شتمنې او مهمې زیربناوې لوټ او تالان شوې، ژبنیو، سمتي او نژادي کرکو اوج ونیو او خبره د افغانستان تجزیې او ویشلو ته ورسیده.

کله چې د عالیقدر ملا محمد عمر مجاهد (رح) په مشرۍ د طالبانو اسلامي خوځښت د افغانستان د نجات او ژغورلو لپاره میدان ته راو دانګل او د دیني علومو د طالبانو او پاک زړو مجاهدینو په توسط یې په ګران هیواد کې بیساري امن او ثبات راوست، د شر او فساد جرړې یې وویستلې او افغانستان د استقرار او سوکالۍ په لور ګامزن شو، امریکا یو ځل بیا خپل شرارت ته لاس واچاو، په تشوپلمو، منفي تبلیغاتو او ناروا اقتصادي او سیاسي تعذیراتو لګولو سره یې هڅه وکړه چې اسلامي امارت بې ثباته او لړزانده کړي

امریکایان او نور اسلام د ښمنه قووتونه چې له خپلو دغو دسیسو څخه هم نا امیده او مایوسه شول، نو بیا یې د ۱۱ ستامبر دبرید و نو په تړاو حاکم اسلامي نظام او میړنی افغان ولس مخامخ هدف او دغچ ننبه وګرځاوه، بالاخره یې په ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۹ نیټه په افغانستان یرغل راوړ ۴۹ هیوادونو یې له ځان سره په زور او تذویر و دورل، خپله ټوله وژونکي ټکنالوژي یې د جګړې لپاره رامخې ته کړه د خپلو یونیم لک پوځیانو په شمول یې څلورلکه یې د ملي اردو اجیر پوځ د جګړې لپاره په استخدامولو سره اټکل کړی وچې افغانستان به هضم او د اسلام او جهاد دلارې سپاهیان به له منځه یوسي؛ خو مقتدر د اسلام دابدي د ښمنانو ټولې حربې او ستراتیژۍ منهدمې بې تاثیره، یو نیم تریلیون ډالریې خاوري ایري او نتیجه دا شوه چې له ۱۶ کلونو زور ازمویلو ورسته د امریکا ولسمشر (اوباما) په داسې حال کې چې نور له سپیني مانۍ څخه د تګ په حالت کې وو په صراحت اعلان وکړ چې له خپلو ټولو هلو ځلو او ځواک کارولو سره سره په دې ونتوانید و چې طالبان مات او په افغانستان کې یو نسبي اداره رامنځته کړو

د امریکا د ولسمشر په توګه پورته اعتراف په ډاګه کړه چې امریکایي استعمار هم په افغان میړني ټاټوبي کې د پخواني شوروي اتحاد او له هغه وړاندې د برتانوي استکبار په څیر تاریخي شکست ولید، نړیواله یکتازي یې متزلزله شوه او نور امریکا ته هغه دبدبه او چانس ورپاتې نشو چې په نورو هیوادونو ستر ګې وربرګې کړي او په زور او جبر خپل نظریه او سلطه پرې ومني.

(یرغلګر او د افغانستان غلیمان دې نیست نابود او د ملاتړو دې مخونه د تل لپاره تور او کرغیړن ووسي).

د زابل، غزني او وردګو ولایاتو د حلقې

له مسؤل مولوي نور الله منیب سره مرکه

درنو لوستونکو!

د نظامي کمیسیون له اعضاوو سره د مرکو په لړ کې مو دا ځل د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د (میدان وردګو، غزني او زابل) ولایتونو لپاره د نظامي کمیسیون د حلقې د تیرکال مسئول محترم مولوي نورالله منیب صاحب سره په یادو ولایتونو کې د جهادي وضعیت او نورو موضوعاتو په اړه مرکه کړې چې اوریدلو ته یې ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه

محترم منیب صاحب تاسو ته ښه راغلاست وایو که له هر څه وړاندې په تیر کال کې په زابل، غزني او وردګ ولایاتو کې د نظامي کمیسیون د حلقې د کار دغه راز هلته د نظامي وضعیت په اړه معلومات راکړئ؟

ځواب

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذین اصطفی امابعد :

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

په دې ولایاتو کې زموږ کار له دې پیل شو چې جهادي سیمو ته لاړو، له والیانو، ولسوالانو د ولایتي کمیسیون له اعضاوو دغه راز د نظامي قطعاتو او جهادي تشکیلاتو له مسؤلینو سره مو لیدنې کتنې پیل کړې، له هغوی مو نظامي پلانونه وغوښتل وروسته مو په هغو ورسره مفصل بحثونه وکړل، مشرتابه ته مو د تائید لپاره ورسول او بیا مو د پلانونو په رڼا کې ددوی اکمال او د پلانونو د تطبیق کار پیل کړ.د حلقې ملګرو د کال په اوږدو کې په ټولو ولایاتو کې نظامي فعالیتونه تر نظر لاندې ساتل او د هغوی په اړه یې نظر او راپور تر مشرتابه هم رساوو.

تاسو د جهادي فعالیت په اړه پوښتنه وکړه ، په یادو ټولو ولایاتو کې جهادي فعالیتونه په ښه توګه روان وو. د مجاهدینو مورال لوړ و او دشمن په مغلوب حالت کې وو. د عمري عملیاتو په اوږدو کې په یادو ټولو ولایاتو کې ډیر کارونه ترسره شوي دي. د بیلګې په توګه په غزني ولایت کې په شلګر کې د اربکیانو قوت تقریبا له منځه لاړ. دغه سیمه چې دښمن په کې د پاځون تر عنوان لاندې د ملیشه جوړولو لوی پروګرام شروع کړی و او ډیر مصارف او تبلیغات یې په دې لاره کې کړي وو مګر مجاهدین د الله تعالی په نصرت وتوانیدل چې ددوی پوستې له منځه یوسي او د ولسوالۍ له مرکز پرته ټول کلي او اطرافي علاقې ترې ازادې کړي.دغه راز د همدې ولایت په ګیرو ولسوالۍ هم عملیات ترسره شول چې دښمن ته په کې درانه زیانونه ورسیدل. د واغز ولسوالۍ مرکز د

مجاهدینو لخوا فتحه شو.د غزني له منځه تیره شوې د کابل - کندهار لویه لار هم د مجاهدینو تر کنترول لاندې ده چې د تیر کال په اوږدو کې یې څو ځله ددښمن په مخ بنده کړه دغه راز یې د همدې لارې په اوږدو کې ددښمن په مراکزو او کتارونو بیا بیا بریدونه هم ترسره کړل. د غزني په مرکزي ښار کې چریکي مجاهدین هم فعالیت لري او دښمن یې نارامه کړی دی په ټوله کې جهادي وضعیت قناعت بخش دی.

پوښتنه

که د غزني، زابل او میدان وردګو په ولایاتو کې د تیر کال د جهادي بریدونه په اړه تفصیلي معلومات او ارقام راسره شریک کړئ مهرباني به مو وي

ځواب

زموږ د معلوماتو او احصائیو له مخې د تیر کال په اوږدو کې د عمري عملیاتو په لړ کې د غزني په ولایت کې ددښمن ۱۲۵۷ تنه عسکر وژل شوي او ۱۰۳۴ تنه ټپیان شوي دي.ددښمن ۱۳۴ ټانګونه، ۵۵ رینجر ۱۲ پوځي موټر ۲۲ موټر سایکل او ۱۱ پوځي باربري موټر ویجاړ او له منځه تللي.

مجاهدینو په غزني کې ۵ ټانګونه ۳پوځي موټر۹ موټرسایکل ۸۳ میله کلاشینکوف ۱۶ میله پیکا ماشیندار ۴ دهشکې ۶ قبضې راکټ لانچر ۹ میله شل ډزي ۴ میله دراز کوف ۱۶ میله کلاکوف ۴ نارنجک هاوان ۴ میله تفنګچې ۱ ایس پي جي ناین ۴۴ چانتې ۱ غټه مخابره ۹ کوچنۍ مخابرې او نور ډیر مهمات او وسایل له دښمن څخه په غنیمت نیولي دي.په غزني کې تېر کال د واغز ولسوالۍ په مرکز سربیره ددښمن ۴۴ پوستې هم فتحه شوي دي.

په غزني کې دتیر کال په جهادي معرکو کې ۱۲۴ تنه مجاهدین په شهادت رسیدلي او ۸۷ نور ټپیان شوي دي .

د زابل په ولایت کې د تیرکال په جریان کې مجاهدینو ددښمن په پوستو او وسایطو مجموعا ٦۲۹ تهاجمي بریدونه او چاودني ترسره کړي دي چې په نتیجه کې یې ددښمن ۴۷۲ تنه عسکر او اربکیان قتل شوي او ۳۷٦ تنه نور ټپیان شوي دي.دغه راز د دښمن ۵۱ تنه عسکر په دې ولایت کې د اسلامي امارت مجاهدینو ته تسلیم شوي دي.

په زابل کې دښمن ته مالي او د وسایطو هم درونډ زیان رسیدلی دی هغه دا چې د تیر کال په جریان کې د دښمن ۱۱۰ پوځي موټر او ۵۸ عرادې شوبلې او ټانګان د مجاهدینو په بریدونو کې له منځه تللي. په تیر کال کې په زابل ولایت کې ۴۳ تنه مجاهدین شهیدان او ۵۸ تنه نور ټپیان شوي دي.

که راشو د میدان وردګو ولایت جهادي ارقامو ته ، نو په دې ولایت کې د تیر کال په جریان کې مجاهدینو په دښمن ۳۲٦ تهاجمي بریدونه او ۱۱۵ انفجارات یا چاودنې ترسره کړي دي. چې په پایله کې یې ددښمن ۴۵۰ تنه عسکر او پوځیان وژل شوي او ۲۷۵ تنه ټپیان دي.مجاهدینو ددښمن ۹۹ ټانګونه او ۱۳٦ نور مختلف النوع پوځي موټر په بریدونو او چاودنو کې ویجاړ کړي دي.د کال په اوږدو کې ددښمن ۷ پوستې او یو لوی بیس فتحه شوي دي. چې ددې جهادي عملیاتو په لړ کې د میدان وردګو په ولایت کې ۱۱۸ تنه مجاهدین ټپیان او ۴۸ تنه نور د شهادت لوړ مقام ته رسیدلي دي.

پوښتنه

د جګړې اړوند یو تریخ حقیقت ملکي تلفات دي چې هر ځای جګړه له داسې حوادثو سره مله وي. په افغانستان کې هم طبعا ملکي خلکو ته

د سر او مال زیان اوړي. نړیوالې تبلیغاتي اداري او د بشر- د حقوقو تش په نامه سازمانونه همیشه په مجاهدینو تور پوري کوي چې ملکي خلکو ته زیانونه رسوي. که په دې اړه معلومات راکړئ چې ملکي کسانو ته څوک زیان رسوي او کوم اړخ د هغوی له سر او مال سره بې باکي کوي؟

ځواب

دا واضح حقیقت دی چې هیڅ جنګ له ملکي تلفاتو خالي نه وي.دلته په جهادي سیمو کې عام اولسي- خلک هم ژوند کوي چې طبعاورته زیان اوړي.خو اسلامي امارت چې په اسلامي ارشاداتو ټینګ باور او ورته تعهد لري په دې پوهیږي چې د یوه معصوم انسان ژوند څومره اهمیت لري او د بې ګناه مسلمان وینې تویول په شریعت کې څومره درنه ګناه ده. له همدې امله اسلامي امارت په خپلو تشکیلاتو کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره ځانګړې اداره جوړه کړې چې په ټول افغانستان کې فعالیت لري.ددغې ادارې لخوا همیشه کوښښ روان دی چې د ملکي خلکو د سراو مال حفاظت وشي د همدې لپاره له مجاهدینو سره همیشنۍ رابطه لري او که چیرې خدای مکړه د مجاهدینو له اړخه په کوم برید کې ولسي خلکو ته زیان ورسیږي دغه اداره سمدستي د پیښې تحقیق پیلوي او د امکان تر حده له متاثرینو سره مرسته او غمشر-یکي کوي.د همدې ادارې د هڅو په برکت اوس د ملکي تلفاتو پیښې کمې شوې دي.

د تیر کال د ملکي تلفاتو له احصایې ښکاري چې د ملکي تلفاتو ډیرى حوادث ددښمن لخوا رامنځته کیږي مثلا د میدان وردګو په ولایت کې تیر کال د ملکي تلفاتو ۳٦ وقائع رامنځته شوي چې ۴۱ ملکي وګړي په کې شهیدان او ۷۷ نور ټپیان شوي دي ددغو واقعاتو ۲۵ یې د ښمن د قواوو لخوا پیښې شوي ۳ د ملکي وګړو خپل منځه جنجالونه ۳ ترافیکي پیښې دي او ۵ پیښې د مجاهدینو لخوا خطاء رامنځته شوي دي.

د غزني په ولایت کې مجموعا ۳۳ واقعې شوي دي چې ۲۷ یې د حکومت او ٦ یې د مجاهدینو لخوا شوي دي دغه راز په زابل کې ۲۱ د ملکي تلفاتو حوادث په تیر کال کې ثبت شوي چې ډیر یې د حکومت لخوا ترسره شوي دي.

پوښتنه

دښمن بیا بیا دا خبره تبلیغوي چې د زابل ولایت په خاک افغان ولسوالۍ کې د داعش وسلوال فعالیت او حاکمیت لري او ددې سیمو واک یې په لاس کې دی تاسو چې په دې ساحه کې مو مسؤلیت کړی دی ددې راپورونو په اړه څه ویل غواړئ؟

ځواب

دې راپورونو رښتیا هم په دې وروستیو کې زور اخیستی دی او دښمن کوښښ کوي په افغانستان کې دداعش وجود له واقعیت نه زیات وښیي.یو کال وړاندې رښتیا هم د خاک افغان او ارغنداب په سیمو کې داسې کسان موجود ول چې ځانونه یې داعشیان بلل او په منطقه کې یې ځینې مشکلات هم جوړ کړي وو. خو تاسې خبریاست چې تیر کال په دې سیمه کې د اسلامي امارت د مجاهدینو لخوا عملیات وشول او هغه مشکل په یو مخیز ډول رفع شو.

اوس په دې سیمو لکه خاک افغان او نورو سیمو مکمل د اسلامي امارت حاکمیت دی. هلته زموږ مجاهدین شتون لري زه خپله د والي صاحب او نورو ولایتي مسؤلینو سره په ګډه دې سیمو ته تللی یم هلته مو له اولس سره له نږدې ملاقاتونه کړي چې هغوی اوس د اسلامي امارت حاکمیت لاندې د ارام ژوند کوي.نو په دې سیمو

کې وضعیت نورمال دی نه داعش شته او نه کوم بل مضر۔ عنصر۔ چې د اندیښنې وړ وي په دې ټولو سیمو د اسلامي امارت پوره واکمني حاکمه ده.

پوښتنه

ستاسو په کاري ساحه کې د اولس او مجاهدینو تر منځ روابط څنګه و دغه راز که د محاکمو، تعلیم او تربیې د چارو په اړه هم معلومات راکړئ چې په دې ساحو کې دغه چارې څنګه رواني دي؟

ځواب

زموږ د نظامي کمیسیون د حلقې د اعضاوو په حیث یوه مهمه وظیفه د مجاهدینو کړنو څارنه او نظارت و چې په دې لړ کې له اولس سره د مجاهدینو تعامل او د اولس شکایتونه اوریدل هم زموږ د کار برخه وه. زموږ زیاتره ناسته ولاړه له اولس سره او په کلیو او کورونو کې مو همیشه له اولسي۔ خلګو سره لیدل او ددوی خبرې مو اوریدې. د خوښۍ ځای دادی چې له اولس سره د مجاهدینو وضعیت ډیر ښه دی. پخوا به کله ناکله له دې اړخه شکایات اوریدل کیدل مګر اوس موږ ولیدل چې وضعیت بدل شوی دی. مجاهدین ددې خبرې په اهمیت پوهیدلي او له اولس سره ښه ګوزاره کوي.

د نورو چارو په اړه به ووایم چې د درست افغانستان په شان په دې ولایاتو کې هم د اسلامي امارت محاکم فعال دي او په خلکو کې ښه اعتبار لري ځکه خلک ټول همدې محاکمو ته مراجعه کوي.تاسو ته معلومه ده چې زموږ لویه دعوه او هدف هغه د اسلامي شریعت تطبیق دی چې هغه د محاکمو له لارې کیږي اسلامي امارت هم د همدې ضرورت په درک سره د محاکمو چارو ته ډیره توجه لري د محاکمو د عالي ریاست لخوا همیشه د قاضیانو د روزنې او پوهاوي لپاره سیمینارونه دائریږي، بیا بیا هیئتونه استول کیږي تر څو په ټولو ساحو کې د محاکمو چارې له نردې وڅاري چې لله الحمد د محاکمو چارې د لا ترقي په حالت کې دي.

د تعلیم او تربیې او صحت چاروته هم اسلامي امارت پوره توجه لري. اوس لله الحمد په ټولو ساحو کې مدارس، دارالحفاظونه او عصري ښوونځي فعالیت لري چې داولس بچیان د علم په زیور ښایسته کوي. د بیلګې په توګه په میدان وردګو ولایت کې همدا اوس زموږ د احصایې له مخې ۹۳۵۱۳ تنه په عصري تعلیمي ادارو کې په زده کړو بوخت دي او ۱۲۰۷۸ تنه په دیني مدارسو او د قران کریم د حفظ په مراکزو کې په دیني زده کړو بوخت دي.نورې سیمې علی هذا القیاس

پوښتنه

محترم منیب صاحب ! تاسو ته معلومه ده چې اسلامي امارت همیشه په مجاهدینو ټینګار کړی چې عام المنفعه تاسیساتو ته زیان ونه رسوي او دټولو هغو پروګرامونو حمایت وکړي چې ګټه یې اولس ته رسیږي چې په دې لړ کې په دې وروستیو کې ځانګړې اعلامیه هم نشر شوه.

مګر دښمن بیا هم ادعاء لري چې مجاهدینو عام تاسیساتو ته زیان رسوي، لارې او پلونه ورانوي که په دې اړه معلومات راکړئ چې ددې موضوع په رابطه ستاسو مشاهدات څه دي؟

ځواب

ددې موضوع په رابطه باید واضحه کړم چې مجاهدین د همدې وطن او اولس بچیان دي او د خپل مسلمان اولس منافع او هوسایي یې لوی هدف دی. نوځکه عام المنفعه تاسیسات نه دا چې زیان ورته نه رسوي بلکې حمایت یې کوي.په دې برخه کې مجاهدین دومره متوجه دي چې کله کوم عملیاتي پلان یا نقشه طرح کوي نو که په عملیاتي سیمه کې عام المنفعه تاسیسات موجود وي نو پلان په داسې ډول ترتیبوي چې عام

المنفعه ځایونو ته زیان ونه رسیږي چې زموږ هم ورته همیشه همدا توصیه وه.

دا چې مجاهدین د عام المنفعه تاسیساتو سره کوم تضاد نلري په دې برخه کې موږ ښکاره بیلګې لرو مثلا همدا اوس د وردګو په ولایت کې د ۷۰ کیلومتره سرک د پخولو کار روان دی اودا د مجاهدینو له ساحې تیریږي خو مجاهدین وربانديې هیڅ غرض نلري بلکې د وسایطو ساتنه یې کوي.د برق د رسولو لړۍ چې له کابل څخه پیل شوي، خادې یې په میدان وردګو راتېرې شوي او تر غزني پورې ورسیدې اودا ټولې د مجاهدینو په ساحو کې تیرې شوي دي همداسې نور عام المنفعه کارونه هم د مجاهدینو په ساحو کې جریان لري.مجاهدین هر هغه پروګرام ته هرکلی وایي چې ګټه یې اولس ته رسیږي څکه د اولس هوسایي مجاهدین خپله هوسایي بولي.

پوښتنه

منیب صاحب تاسو په یادو ولایاتو کې د مجاهدینو د وضعیت په اړه معلومات راسره شریک کړل. که په پای کې په دې ولایاتو کې ددښمن د حالت په اړه راته ووایاست . له ظاهــره داسې ښکاري چې دښمن وارخطاء دی؟

ځواب

بلې، که زموږ مجاهدین خپل جهاد په پوره دیانت، اخلاص او تقوا سره ترسره کړي نو ضرور به د الله تعالی د نصرت مستحق ګرځي له مجاهدینو ســره د الله تعالی یو نصرت دادی چې مجاهدینو ته رعب ورنصیب کوي او په دښــمن یې رعب پروت وي لکه الله تعالی چې د رســـول الله صلی الله علیه وسلم نصـــرت هم په رعب سره کړی و اودښمن به همیشه ترې په رعب کې و.

اوس هم دا چې دښمن وارخطاء دی او له رعب سره مخامخ دی همدا له مجاهدینو سره د الله تعالی د نصرت نښه ده.مجاهدینو ته په کار ده چې نور هم خپلې اصلاح او دیانت ته توجه زیاته کړي. لله الحمد اوس نظامي کمیسیون هم د مجاهدینو روزنې او اصلاح ته ډیر متوجه دی، بیا بیا تربیوي پروګرامونه جوړوي او په معسکراتوکې هم د نظامي تربیې تر څنګ مجاهدینو ته نظري او فکري روزنه ورکوي تر څو یې اعمال د یوه واقعي مجاهد په شان وي.

پوښتنه

محترم منیب صاحب له تاسو ډیره مننه چې زموږ پوښتنې مو ځواب کړې. که په پای کې اولس یا مجاهدینو ته کوم پیغام لرئ لطفا یې راسره شریک کړئ.

ځواب

اولس ته پیغام لرم هغه دا چې زموږ اولس مسلمان اولس دی. او د اســلام لــه رویــه د مســلمان اولــس مقتدایان علماء کرام او مجاهدین دي. له اولسونو مو دا غوښتنه ده چې په هر قدم کې ددغو علماء او مجاهدینو لاس ونیسي.نو اولــس بایــد د مجاهــدینو حمایت وکړي که په سر باندې وي که په مال باندې وي او یا که په منطقه کې د مجاهدینو د خوندي کیدو په برخه کې وي. اولس اوس هم زموږ سره مرسته کړې او په آینده کې هم ترې همدا امید لرو.

همدا رنګه مې مجاهدینو ته پیغام دادی چې په هره سیمه او ځای کې چې دي د خپلو مسلمان اولس خدمت دي وکړي. لکه څرنګه چې یې ددښمنانو او کفارو مقابلې ته ټوپک او چانټه تړلې ده د مسلمانانو خدمت ته دې هم همداسې ملا وتړي همداسې مهم کار دې یې وبولي.

پای



شهید زوی

د ایران نوې توغندويي ازمويني

څوورځې دمخه چې ایران دنویوبالاستیکي توغندویوازمویني وکړې نوایران یوځل بیا په نړۍ دخبرواوبحثونوموضوع گرځېدلی ده اوددې عمل په مقابل کې دامریکا دعکس العمل ښکاره کولوپه اړه ډول ډول وړاندوینې کېږي .

هرڅوک پدې پوهېږي چې ددې ازموینونه وروسته په نړۍ کې دایران په اړه دګرموبحثونواصل لامل ایران لانجمن اتومي پروګرام دی

دایران ددې لانجمن اتومي پروګرام پیل دنیمې پېړۍ نه هم وړاندې په ۱۹۵۷م کال کې دامریکا په مرسته دسوله ایزو اهدافو لپاره شوی و؛ بیا ۱۰ کلونه پس یانې په ۱۹۶۷م کال کې دایران دولت په پلازمېنې تهران کې داتومي انرژۍ مرکز جوړ کړ او کال پس یې دسوله ایزو اهدافو په موخه اتومي پروګرامونو ته دودې ورکولو او داتومي وسلو څارګرې نړیوالې ادارې N.P.T سره تړون لاسلیک کړ ؛له دې وړاندې یې داتومي انرژۍ نړیوالې ادارې I.A.E.A سره هم تړون لاسلیک کړی و.

امریکا،فرانسې،المان،روسې او سویس نه یواځې داچې هغه مهال یې دایران داتومي پروګرام نه خپل حمایت ښکاره کړی و بلکه یادو او نورو هېوادونو یکې دسونو ملیونو ډالرو پانګونه هم کړې وه چې له امله یې دایران اتومي پروګرام ډېر په تېزۍ مخ په وړاندې تللی و نو څکه سی آی ای په خپل یو خپور کړې راپور کې ویلي و چې که د۱۹۸۰م پورې درضاشاه پهلوي اداره پاتې شوه نو دایران اتومي پروګرام به دهند داتومي پروګرام نه وړاندې ولاړ شي.

خو دا چې په ایران کې په ۱۹۷۹م کې دخمیني انقلاب رامنځته او درضاشاه پهلوي اداره ړنګه شوه نو نړیوالو شرکتونو دایران په اتومي بټیو کې خپل کارونه بند کړل او دایران اتومي پروګرام په ټپه ودرېدلو.

بیاکابویوه لسیزه پس یانې په۱۹۹۰م کال کې دروسې داتومي چارو ادارې دایران په اتومي پروګرام کې مرستې کولو ته چمتووالی ښکاره کړ چې ددواړوهېوادونوترمنځ تړون رامنځته شو ؛ایران دروسې دساینس پوهانو نه ښه ډېره ګټه پورته کړه.

د Roscosmos نومې دولتي اتومي ادارې په شمول دروسې ۵ شرکتونو دایران په اتومي ټیکنالوژۍ او توغندیو جوړولو کې ډېره مرسته وکړه.

پدې وخت کې چین،فرانسې او ارجنتاین هم داتومي انرژۍ دلاسته راوړلو لپاره دایران سره مرستې وکړې.

په ۱۹۹۲م کې په ړومبي ځل ایران داتومي پروګرامونو دڅار نړیوالې ادارې I.A.E.A ته اجازه ورکړه ترڅو دایران داتومي پروګرام له نېږدې وګوري.

دې ادارې دایران داتومي پروګرام په اړه اطمینان ښکاره کړی واو ویلې یې و

چې دا پروګرام يواځې دسوله ايزو اهدافو لپاره دی.

خو بيا په ۲۰۰۳ م کې ناڅاپه دې ادارې دايران داتومي پروګرام په اړه خپلې انديښنې ښکاره کړې او ويې ويل چې ايران خپل ټول اتومي پروګرام نه ښکاره کوي او دسوله ايزو اهدافو دترلاسه کولو په پلمه خطرناکې اتومي وسلې جوړول غواړي.

ديادې ادارې دانديښنو ښکاره کولو نه پس دملګرو ملتونو ادارې ايران ته حکم وکړ چې خپل اتومې پروګرام دې ودروي خو ايران تل اصرار کړی چې پروګرام يې سوله ايز دی اوملګرو ملتونو له لورې يې دودرولو غوښتنه غيرعادلانه ده.

دا چې ايران خپل اتومي پروګرام ونه درولو نو دملګرو ملتونو او هم دلويديځوالو ګڼو هېوادونو له لورې پرې اقتصادي بنديزونه لګېدلي دي او هم يې پرضد دملګرو ملتونو په امنيت شورى کې تراوسه ۸ طرحې منظورې شويدي.

د۲۰۰۳م کال نه تر ۲۰۱۵ م کال پورې کابو ۱۲ کلونو ته که وګورو نو وينو چې دا اوږده موده دايران داتومي پروګرام په اړه ډېره لانجمنه او ستونزمنه وه چې يکې يو لور ته ايران ته ګواښونه کېدل؛پرې اقتصادي بنديزونه لګېدل او پرضد يې طرحې منظورېدلې او بل لور ته ايران مسلسل پدې هڅو کې و چې داتومي انرژۍ نړيواله اداره I.A.E.A او نړيوال څواکونه پدې باوري کړي چې اتومي وسلې جوړول نه غواړي بلکې پروګرام يې دسوله ايزواهدافو لپاره دی.

سره له دې چې ايران دامريکا په شمول دنړۍ ټولو لويو طاقتونو ته په ډېر تاکيد او جزم دا خبره کوله چې پروګرام يې دسوله ايزو اهدافو لپاره دی خو په پټه يې دبالاستيکي توغنديو جوړولو کار هم ډېر په تېزۍ روان و.

په ۲۰۱۵م کال کې دامريکا او ايران ترمنځ دايران داتومي پروګرام په سر جوړ جاړی رامنځته شو چې دادايران په اړه دامريکا په تګلاره کې ډېر لوی او حيرانونکی بدلون ګڼل کېدلو؛پدې توافق کې ددې شرط ذکر شوی و چې ايران به داسې توغندي نه جوړوي او نه به داسې توغنديو ازموينه کوي چې له ځانه سره اتومي سرګلولې منتقلولی شي.

دډېرو خلکو نظر دا و چې ايران به دامريکا سره دې رامنځته شوي تړون ته ژمن پاتي شي او هيڅ ډول سرغړاوی به ترې ونکړي خو عجيبه دا وه چې ددې توافق نه لږه موده پس ايران يوبل پسې توغندوي ازموينې وکړې چې يکې د۱۷ سوه نه تر ۲ زره کيلومترو پورې دلرې واټن ويشتونکي هغه بالاستيکي توغندي هم شامل دي چې له ځانه سره اتومي سرګلولې هم انتقالولی شي.

دا هم مشهوره ده چې ايران په شهاب ۵ باندې هم کار کړی دی چې تر۳۵۰۰ کيلومترو پورې لرې واټن ويشتلی شي؛د۳۵۰۰ کيلومترو پورې دلرې واټن ويشتلو معنی دا ده چې که ايران وغواړي نو دروسې،چين،مصر، په شمول داروپا او افريقا زياتره برخه به دخپلې اتومې وسلې ترحملې لاندې راوستلی شي.

په زړه پورې دا ده چې ايران اوس هم دا وايي چې بالاستيکي او نور توغندي يې داتومي موادو انتقالونکي ندي بلکې دا يواځې دخپلې دفاع لپاره دپرمختللې ټيکنالوژۍ لاسته راوړلو کامیابه هڅه ده.

دايران ددې خبرې پرضد دعکس العمل ښکاره کولو په موخه يو امريکايي ساينسپوه ويلي دي چې بالاستيکي توغندي چې اتومي سرګلولې له ځان سره يونسي نو آيا شادوګان به وړي؟

دايران په اړه چې دنړيوالو پوهانو څرګندونو او دايران اوسنو توغندويې ازموينو ته وګورو نو داسې ښکاري چې دايران اتومي پروګرام په وروستو مراحلو کې دی اوشايد ډېر ژر تکميل شي؛ايران اوس داتومي موادو انتقالونکو سترو او وړو سکاډ توغندو ترڅنګ داتومي موادو انتقالونکو دلرې واټن ويشتونکو بالاستيکي توغندو جوړولو ته هم لاس رسی موندلی دی.

نو اوس پوښتنه دا ده چې دایران په مقابل کې به دلویدیځې نړۍ او په ځانګړې ډول دامریکا غبرګون څه وي؟

دامریکانوي ولسمشر ډونالډټرمپ ایران ته سخته درکه کړیده او ویلې یې دي چې ایران دې عسکري غبرګون ته ځان چمتو کړي" امریکا همدې اخطار ته په پام سره ځنې شنونکي فکر کوي چې که څه هم دایران پرضد دفوځي اقدام احتمال کم ترسترګو کېږي خو شاید دایران دامریکا او نور لویدیځ سره روابط ډېر ترینګلي شي؛او پرایران سخت اقتصادي بندیزونه ولګول شي.

خو دمنځني ختیځ دچارو هغه پوهان چې حالات ډېر په دقت څاري هغوئ دا فکر ردوي او وایې چې نه دایران پرضد دفوځي اقدام کومه وېره شته او نه به هم دامریکا او نور لویدیځ سره دایران روابط داسې خراب شي چې ایران ته ترې تاوان ورسېږي.

اصل خبره دا ده چې ایران که هر څومره ستر اتومي ځواک شي او جنګي وسایل یې که هر څومره پرمختللي شي امریکا اونورې لویدیځې نړۍ ته یې خطرونه متوجې کېدل له حقیقته لرې اوله مبالغې ډکه خبره ده ؛ حقیقت دادی چې دایران ټیکنالوژي اووسایل دامریکا عشر عشیر ته هم نشي رسېدای؛ امریکا خو امریکا ده،دامریکا دنورو غربي اتحادیانو توغندویې ټیکنالوژي هم ډېره پرمختللې ده او اتومي پروګرامونو یې ډېر اوږد واټن وهلی دی پداسې حال کې چې دایران دا هرڅه نومولود دي .

ترکومه چې داسرائیلو خبره ده نو اسرائیل پخپله هم اتومي ځواک دی او دامریکا اتوم او ټول عسکري ځواک هم داسرائیلو په خدمت کې دی.

نو دایران اتوم به څه داسې شی نه وي چې امریکا یا دامریکا اتحادیان ورنه وه وېرېږي.

هو!دایران اتوم به دټولې عربي نړۍ لپاره دخوف او وېرې یوه لویه نښه وي چې امریکا هم همداسې غواړي او خپلې ډېرې ګټې په همدې کې ویني.

امریکا دایران په اړه تردېره حده له مبالغې نه کار اخلي؛ایران چې په فوځي ډګرکې څومره ځواکمن دی امریکا یې دهغې نه ډېرزیات معرفي کوي چې ددې ستر دوه هدفونه دي یو خو دا چې ټوله عربي نړۍ دایران نه په سختې وېرې کې وساتي ترڅو عربي هېوادونه امریکا خپل نجات ورکونکې وګڼي او هریو هېواد خپله دنننۍ او بهرنۍ تګلاره دامریکا دخوښې سره سمه برابره کړي او پروسایلو یې تل ترتله دامریکا قبضه وي.

دایران په اړه دمبالغې دوهم ستر هدف دا دی چې په سیمه کې دوسلو زیاتولو مسابقه رامنځته شي او بډای عربي هېوادونه شې ډېرې وسلې له امریکا نه واخلي او امریکا هرکال له دې لارې په ملیاردونو ډالر ترلاسه کړي.

دچاروپوهان وایې دشام ؛عراق اویمن په جنګونوکې دایران دراښکېلولو یوسترهدف هم همدادی .

ایران چې دتېلوښې ډېرې زېرمې اودکرهنې اومالداری لپاره ښه فراخه ځمکې لري ؛ صنعت اوتجارت یې ښه کامیاب دی اودخلیج اوټول منځنی ختیځ په هېوادونوکې یوهم په نظامي ډګرکې دځان سیال نه بولي نودسیمې دهېوادونودخوشالی اوخفګان ډېره پروا نه ساتي ؛ متقابل احترام بېخي نه ښکاره کوي اونه ددې هېوادونوسره دښوروابطو اوداعتماد دفضا رامنځته کولو لپاره څه خاص هڅې کوي چې دادایران یوه لویه کمزوري ده ؛ که ایران داکمزوري له ځان نه وویسته اودسیمې دهېوادونوپه اړه یې خپل دریځ کې بدلون راوستولو نودابه دواړو اړخونولپاره ګټوره وي ګینې ایران اودسیمې نور اسلامي هېوادونه به سترمادي اومعنوي تاوانونه زغمي او په ترڅ کې به یې دامریکا اونورو شیطاني قوتونوشوم پلانونه تطبیقېږي .

د شهید ملا عبدالمنان احمد

ژوند او کارنامو ته کتنه

عبدالرؤف حکمت

د اسلام تاریخ له زړه وړونکو صحنو مالامال دی. د تاریخ د جالبو صحنو له جملې یو هم د هغو تنکیو زلمیانو او کم عمره قائدینو داستانونه دي چې په کم عمر یې داسلام لپاره ستر ستر خدمات کړي او تر خپل قامت لوړ د میړانې او ویاړ داستانونه یې تر شا پرې ایښي.

که زموږ پخوانی تاریخ په دې برخه کې د تنکیو اتلانو معاذ او معوذ رضی الله عنهما او د محمد بن قاسم رحمه الله په شان د ځوانو قائدینو بیلګې لري نو معاصر او نوی تاریخ مو هم په دې برخه کې خوار نه دی.دا خبره د لمر غونډې روښانه ده چې د امریکایي جهاني طاغوت په خلاف زموږ د سرلوړي جهاد ډېر بوج زموږ د مسلمان ملت ځوانانو او تنکیو زلمکیانو په اوږه واخیست. همدوی وو چې خپلې ګلورینې ځوانۍ او ګلابي شبابونه یې د دین له شمعې ځار کړل.همدوی وو چې د امریکایي دجالي تخنیک په وړاندې په ټوله میړانه ودریدل، د کفر په لښکرو یې فدایي بریدونه او مخامخ حملې وکړې تر دې چې بالاخره یې د الله تعالی په نصرت د نړیوال کفري یرغل زور اوبه او یرغلګر یې له هیواده تیښتې ته اړ کړل.

د شهیدو اتلانو د سوانحو په لړ کې دا ځل د هغه ځوان قائد یاد راتاندوو چې په نوې ځوانۍ کې یې د صلیبي تاړاکګرو په خلاف مسلح جهاد پیل کړ او ډېر ژر په جهادي میدان کې د یوه وتلي او مخکښ جهادي قائد په حیث وپیژندل شو. هو کې ، شهید ملا عبدالمنان احمد یادوو. . . هغه ستوری چې لا پر جهادي افق بشپړ نه و ځلیدلی چې د شهادت په ګلورینه غېږه کې دمه شو.

شهید ملا عبدالمنان أحمد

شهید ملا عبدالمنان احمد د محمد واصل زوی د حاجي محمد دین لمسی په قوم حسین خېل په ۱۳۶۱ هـ ش کال کې یې چې له ۱۴۰۳ هـ ق سره سمون خوري د کابل ولایت په موسهي ولسوالۍ کې دنیا ته سترګې غړولي. ددوی پلرنی کلی دهمدې ولسوالۍ د حاجي خیلو کلی دی مګر فعلا په میاخیل کلي کې هستوګن دي.

د ملا عبدالمنان د پیدایښت کلونه په افغانستان کې د شورویانو په خلاف د جهاد له کلونو سره مصادف دي. نوموړی هغه مهال وزېږېد چې د کمونیزم په خلاف جهاد زور اخیستی و او د افغانستان هر کلي او صحرا د سختو معرکو شاهد و، نوموړی په همدې انقلابي ماحول کې راستر شو نو ځکه یې جهادي جذبې له کوچنیوالي په زړه او دماغ کې ځای ونیو.

ديني زده کړې

نوموړي ابتدائي زده کړه له ښوونځي پیل کړه او د دریم ټولګي پورې يې ښوونځی واویه په شپږ کلنۍ کې يې د دیني زده کړو تعلم پیل کړ د فقهې او نورو ديني علومو لومړني کتابونو يې له خپل نیکه او د خپلې سیمې له مختلفو علماء کرامو څخه ولوستل.

د طالبانو د اسلامي تحریک په مهال يې په کابل کې د شهید ملا معاذ الله او شهید ملا بورجان رحمهماالله په مدرسو کې دیني زده کړو ته دوام ورکړ دغه راز يې څه مهال د ننګرهار ولایت په درونټه کې په جهادي مدرسه دارالعلوم صدیقیه کې هم دیني تعلم وکړ.

ملا عبدالمنان د خوست ولایت په مظهر العلوم مدرسه،د پاکستان په ټل درسمند کمپ کې په دارالعلوم حنفیه او د پیښور په باغبانان کمپ کې په دارالنجاة مدرسه کې دینې زده کړې وکړې او د قران کریم تفسیر او ترجمه يې د خیبر پښتونخوا په صوابۍ شامنصور کې له شیخ القرآن مولانا نورالهادي صاحب څخه وکړه.

جهادي ژوند

ملا عبدالمنان لومړی ځل هغه په جهادي عملیاتو کې اشتراک وکړ کله چې يې د ننګرهار ولایت په جهادي مدرسه کې دینې زده کړې کولې،د اسلامي امارت په جهادي مدارسو کې به هغو طالبانو سبقونه ویل چې د جهادي عملیاتو په وخت به جهادي جبهو ته تلل،جهادي مدارس په ډیرو ولایاتو کې وو او په زرګونو مجاهد طالبان په کې په زده کړو بوخت وو.دغه طالبان به چې جهادي جبهو ته تلل زیاتره وخت به يې مشري د کندهار د جهادي مدرسې د مشر او نوموتي مجاهد شهید قاري فیض محمد سجاد پر غاړه وه، ملا عبدالمنان احمد لومړی ځل داسلامي امارت د واکمنۍ په وروستي کال د عمر په ۱۹ کلنۍ کې د شهید سجاد صاحب تر مشرۍ لاندې د تخار ولایت جهادي جبهاتو ته لاړ چې دا يې په جهادي عملیاتو کې لومړنی ګډون و.

له دې څه موده وروسته چې امریکایي طاغوت په افغانستان یرغل وکړ ملا عبدالمنان احمد هم د ډیرو نورو مجاهدینو په شان له هیواد څخه قبایلي سیمو ته په هجرت مجبور شو او له دیني زده کړو تر څنګ يې جهاد هم پیل کړ.

نوموړي دا ځل خپل جهادي عملیات د خوست له ولایت څخه پیل کړل، لومړني بریدونه يې د نورو مجاهدینو په ملتیا د خوست ښار په توپچي پاټک او باک پر ولسوالۍ وو.نوموړی چې د طالبۍ په مهال په دې ولایت کې اوسیدلی او بلدتیا يې درلوده له لومړنیو کسانو څخه و چې په دې ولایت کې يې په چریکي او وروسته په تهاجمي بریدونه کې برخه واخیسته.

ملا عبدالمنان احمد د خپلې جهادي وړتیا له امله وروسته د جهادي ملګرو خپل تشکیل جوړ کړ چې په پیل کې دده تر قومنده لاندې د مجاهدینو شمیر ۱۱ تنه وو او زیاتره يې د خپلې سیمې طالبان ملګري وو مګر وروسته يې د ملګرو شمیر تر لسګونو او سلګونو ورسید چې د هیواد د وتلي جهادي سالار مولوي جلال الدین حقاني صاحب تر مشرۍ لاندې يې د اسلامي امارت په چوکاټ کې جهادي فعالیت کاوو.

د امریکایي یرغل په لومړیو کلونو کې د هیوادله جنوب ختیځ سره د وزیرستان په سرحدي قبایلي سیمو کې مجاهدینو خفیه جهادي مراکز جوړ

کړل او له همدې ځایه یې په سرحدي علاقو کې د یرغلگرو په مراکزو او گزمو تهاجمي بریدونه پیل کړل. ملا عبدالمنان احمد د جهادي بریدونو ددې لړۍ له لومړنیو گډونوالو څخه و چې د بټۍ، منې کنډو، لواړه، منگریتۍ، مښې کنډو، ترخوبي او نورو سرحدي غریبزو علاقو کې بیا بیا په امریکایانو او د هغوی په گوډاگیانو ځپونکي بریدونه وکړل.

ملا عبدالمنان احمد د خوست ولایت په ډېرې عملیاتو کې له خپلو ملگرو سره برخوال و له دې جملې د خوست ولایت د قلندر او د پکتیا د جاني خېل ولسوالیو د مراکزو په فتحه کې یې مهم رول درلود. د خوست ولایت د علیشیرو ولسوالۍ فتحه چې د خوست ولایت ډېرو مجاهدینو په کې برخه درلوده د هغه وخت یوه ستره جهادي کارنامه وه، خو ملا عبدالمنان احمد څکه ددې فتحې په خوند پوه نه شو چې له فتحې وروسته د امریکایي یرغلگرو لخوا په بمبار کې د خوست د لسو تنو نورو مجاهدین تر څنگ د ملا عبدالمنان یو تکړه مجاهد ملگری ملا مصطفی هم د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

۲۰۰۷ میلادي کال چې له ۱۳۸٦ هـ ش کال سره سمون خوري د ملا عبدالمنان احمد په جهادي ژوند کې له حوادثو ډک کال و، ددې کال په لومړیو کې نوموړی د خوست په ولایت کې د امریکایانو په یوه ناڅاپې حملې کې ددښمن په اسارت کې راغی او د بگرام زندان ته انتقال شو. نوموړی ۸ شپې په دې زندان کې محبوس و او امریکایي پلټونکو ترې تحقیقات کول. اما له ټولو تعذیبونو سره سره یې هم له نوموړي دا اعتراف وانخیست چې زه عبدالمنان احمدیم. له ۸ ورځو وروسته نوموړي د الله تعالی په نصرت سره له دې زندان څخه نجات موند او یو ځل بیا په جهادي ډگر کې له خپلو ملگرو سره وصل شو.

له زندان څخه د راخلاصیدو وروسته نوموړي دپکتیا ولایت د ښواک او سټو کنډو په غرنیو سیمو کې د جهادي جبهې د فعالولو کار پیل کړ. دا سیمه چې د شوروي ضد جهاد په مهال د هیواد د وتلي مجاهد مولوي جلال الدین حقاني صاحب جهادي سنگر و دا ځل د نوموړي تر سرپرستې لاندې ملا عبدالمنان احمد او ورسره سلگونو مجاهدینو په کې د غربي اشغالگرو په خلاف جهاد عملیات پیل کړ.

د ۱۳۸٦ هـ ش کال په پسرلي او اوړي کې ملا عبدالمنان احمد او ورسره ملگرو یې چې شمیر یې د ۴۰۰ تنو مجاهدینو په شاوخوا کې و د پکتیا ولایت په سټوکنډو او شاوخوا سیمو کې په امریکایي اشغالگرو په لسگونو مختلف النوع بریدونه لکه چاودنې، کمینونه، توغندیز بریدونه او استشهادي عملیات ترسره کړل چې دښمن ته یې د سراو مال درانه تلفات ورسول. ملا عبدالمنان احمد چې د خپلو دې فاتحانه معرکو ویډیویي صحنې یې هم ثبتولې او نشرولې په لومړي ځل یې په مستند شکل خلکو ته وښودل چې امریکایي ټانگونه ماتیدلای ، په تیښته اړ کیدلای او بالاخره د بارودو په لمبو کې لوخړه کیدلای شي. د ملا عبدالمنان احمد د جهادي عملیاتو مستندو ویډیوگانو نه یوازې د مجاهدینو روحیات پیاوړي او ددښمن تبلیغات دروغ ثابت کړل بلکې په عامه میډیا کې یې هم لویه هنگامه راوښه کړه تر دې چې تر الجزیرې او نورو نړیوالو شبکو پورې ټیلویزوني چینلونو په دې اصداراتو تبصرې وکړې چې دا د پوځي بریا تر څنگ په رواني او تبلیغاتي جنگ کې هم د مجاهدینو لپاره یوه مهمه بریا او ټاکونکې پړاو و.

ځینې خاطرې یې

د ملا عبدالمنان احمد د مدرسې د مهال ملگري وایي چې نوموړی له پیله یو مخلص او مؤدب انسان و په مدرسه کې یې له ملگرو سره نیکه رویه، د استادانو احترام او د وخت له

ضیاع نه ځان ساتل له مهمو صفاتو څخه وو.

د نوموړي جهادي ملګري وايي چې هغه د ایثار ، استقامت او تحمل صفات درلودل نو ځکه یې جهادي تکالیف برداشت کولای شول. یو ځل چې له خپلو ملګرو سره د لواړه سرحدي سیمې ته په غرنیو لارو د عملیاتو لپاره روان و په لاره کې یې ولیدل چې د یوه مجاهد بوټونه شلیدلي دي او سم مزل نه شي کولی. نوموړي خپل بوټونه همدې مجاهد ته ورکړل او خپله یې په هغو شلیدلو بوټونو کې مزل شروع کړ.

د امریکایانو په خلاف د جهاد لومړني کلونه د تکالیفو او ازمویښتونو له اړخه ډیر سخت کلونه وو چې ددې تکالیفو له جملې یو هم د مجاهدینو مالي افلاس او فقر و. خو د ملا عبدالمنان اخند په شان د لوی عزم څښتنانو له دې حالاتو سره په ډیر همت ډغرې ووهلې. یو ملګری یې وایي یو وخت په قبایلي علاقه کې حالت خراب شو نوموړي د خپل مرکز مجاهدین ډیری د ترجمې لپاره مدرسې ته ولیږل او خپله په داسې حال کې چې یوازې څلور زره کلداري ورسره وې له شپږو مجاهدینو سره دلواړه جهادي سیمې ته لاړ هلته یې ډیر وخت په همدې کمه خرڅه ګوزاره وکړه چې د مجاهدینو د اعاشې اباتې تر څنګ یې نور جهادي ضروریات هم پرې رفع کول.

ملا عبدالمنان به همیشه ویل چې مجاهدین باید د وس مطابق اسبابو له تهیې وروسته په الله تعالی باندې توکل ولري. ده به ویل چې امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد محض په الله تعالی باندې توکل درلود نو ځکه الله تعالی بری ورپه نصیب کړ او چې ددې تحریک پیل په توکل شوی باید توکل هېر نه کړو.

نوموړي علماء کرامو او دیني پوهانو ته ژور احترام درلود په هر جهادي کار کې یې د هغوی مشوره اخیسته حتی ډیره ځله به یې مدرس عالمان خپل مراکز ته راوغوښتل تر څو مجاهدینو ته وعظ وکړي او د جهاد احکام او مسائل ورته بیان کړي.

څو تنه دیني علماء کرام چې په سرحدي سیمه لواړه کې یې د ملا عبدالمنان له مرکز څخه لیدنه کړې وايي چې مجاهدینو یې جلا خصوصیات درلودل ، د اصلاح، اخلاص او دیانت له اړخه ډیر ښه صفات په کې موجود و.

شهادت یې

ملا عبدالمنان احمد بالاخره د ۲۰۰۷ میلادي کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۷ مه نیټه د یکشنبې په ورځ مازدیګر مهال هغه وخت د شهادت لوړ مقام ته ورسیدکله چې د پکتیکا ولایت په سرحدي سیمه لواړه کې د امریکایانو له کمین سره مخامخ شو.

نوموړي په وروستی ورځ هم له امریکایانو اشغالګرو سره په میړانه مقاومت وکړ او د څو امریکایي ککرو له رغړولو وروسته بالاخره د شهادت لوړ مقام ته ورسید.انا لله و انا الیه راجعون

د یادونې وړ ده چې د شهید ملا عبدالمنان احمد کورنی یوه جهادي کورنی ده چې له ده وروسته یې دوه نورو ورونه شهید امیرګل او شهید نور محمد هم د جهاد په لاره کې شهیدان شول.

د نوموړي جنازه په قبایلي سیمه میرانشاه کې د زرګونو مجاهدینو او مهاجرینو په ګډون سره اداء شوه د جنازې په مراسمو کې یې وتلي مجاهد او خطیب استاد محمد یاسر چې څه موده وړاندې له زندان څخه راخوشې شوی و زړه وړونکې وینا وکړه او وروسته د اسلامي مبارزې د لارې ددغه ځوان قائد ملا عبدالمنان احمد جسد د هجرت او جهاد په همدې قبایلي سیمه کې د ګڼو نورو شهیدانو تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

روح یې ښاد او یاد یې تلپاتې اوسه

امام محمد بن حسن الشيباني رحمه الله

سيد سعيد

امام محمدرحمه الله داسلامي نړۍ هغه ستره هستي ده چي پر پوهه او ځيراکت يې دوست او دښمن اعتراف کوي. نوموړی د حنفي فقهي لومړنی مرتب،محدث، فقه، مجتهد، نحوي، رياضي دان او په نړيواله کچه تر ټولو لوی او تکړه قانونپوه و.

امام محمد بن حسن الشيباني رحمه الله په۱۳۱/ ۱۳۲هق کال د عراق په واسط کي زيږيدلی.امام محمد په کوفه کي ستر شوی او همدلته يې د قران کريم څه برخه حفظ کړې،په څوارلس کلنۍ کي يې د امام ابوحنيفه رحمه الله په درس کي ګډون وکړ او دامام صاحب په غوښتنه يې د قران کريم حفظ تکيمل کړ.

امام محمد د کمساري ځيراکت او ذهانت له امله په تنکۍ ځوانۍ کي د امام ابو حنيفه په درس کي د مغلقومسايلو ځوابونه ليکل،د امام صاحب سره يې څلور کاله درس ووايه او په ۱۵۰هق کال چي امام ابو حنيفه رحمه الله وفات شو، دامام صاحب دنوميالي شاګرد او ځايناستي امام ابويوسف رحمه الله په درس کي يې ګډون وکړ.

امام محمد رحمه الله له علم سره ډير زيات شوق درلود، په عراق سربيره يې دحجاز او شام مختلفو سيمو ته هم سترې کونکي سفرونه کړي، له بيلابيلو استادانو سره يې د تفسير، حديث،فقه، ادب او نورو فنونو په درسونو او مجلسونو کي ګډون کړی دی.د امام محمد رحمه الله په وينا درې زره ديناره په ميراث کي ورته ورسيدل،نيم مي په حديث او فقه او نيم مي په لغت او شعر مصرف کړل.

امام محمد رحمه الله دامام ابو حنيفه او امام مالک رحمهماالله شاګردپاته شوی او د شافعي مذهب بنسټ ايښودونکي امام شافعي رحمه الله ته بيا دامام محمد صاحب د شاګردۍ وياړ په برخه دی.

علماوو دامام محمد رحمه الله اثار پر دوو برخو تقسيم کړي: (ظاهرالرواية او نادرالرواية) ظاهر الرواية يا اصول عبارت دي له المبسوط،الزيادات، الجامع الكبير، الجامع الصغير، السير الكبير او السير الصغير څخه او نادر الرواية کي کيسانيات،هارونيات،جرجانيات،الاثا ،الحجة، موطأاو نور شامل دي.

د امام محمد رحمه الله اثار:

المبسوط
الزيادات
الجامع الكبير
الجامع الصغير
السير الكبير
السير الصغير
كتاب الاثار

الموطأ امام محمد

الامالي

المخارج في الحيل

الاصل

الحجة على اهل المدينه

موطا محمد:

په جنوبي اسيا،افغانستان او يو شمېر نورو هيوادونو کې ددينې علومو په مروج تعليمي نصاب کې داحاديثو په لويه دوره کې دامام محمد رحمه الله موطاء هم دصحاح ستة ترڅنګ لوستل کيږي. امام محمد رحمه الله په موطا کې د يو يا څو احاديثو دذکر کولو څخه وروسته دامام ابو حنيفه رحمه الله موقف بيانوي،بيا خپل دريځ تشريح کوي که څه هم دامام صاحب سره موافق نه وي. دامام محمد رحمه الله پر موطا ستر محدث ملا علي قاري رحمه الله شرح ليکلې چې ډير خلګ ځني مستفيد شوي دي.

د امام محمد رحمه الله نوميالي استادان:

امام اعظم ابو حنيفه نعمان بن ثابت رحمه الله

امام مالک

مسعر بن كِدام

مالك بن مغْوَل

عمر بن ذر الهمداني

سفيان الثوري

الأوزاعي

مالك بن أنس

مشهور شاګردان يې

امام شافعي

أبو عبيد القاسم بن سلام

هشام بن عبيد الله الرازي

علي بن مسلم الطوسي

عمرو بن أبي عمرو

يحيى بن معين

محمد بن سَمَاعة

يحيى بن صالح الوحاظي رحمهم الله

دامام اعظم ابو حنيفه رحمه الله پراخ علم،عميق نظر او په دين کې تفقه دصاحبينو په اثارو کې معلوميږي،په فقه کې صاحبين دامام ابوحنيفه دوو نوميالیو شاګردانو(امام محمد او ابو يوسف رحمهماالله) ته ويل کيږي.ابويوسف رحمه الله کتاب الخراج او الرد على سير الاوزاعي تاليف کړي او امام محمد بيا په فقه او قانون کې داسې شهکار اثار پنځولي چې نه يوازې مسلمان امت بلکې ټول بشريت يې مرهون دی.

د علماوو په اتفاق امام محمد دبنې نوع په تاريخ کې لومړنی شخص دی چې نړيوال قانون يې ليکلی،د سولې،جګړې،سياست او اقتصاد په اړه يې داسې نادر او په زړه پوري تشريحات په ليکلې بڼه وړاندې کړي چې ساری نه لري.

دابو يوسف له قضاوت څخه وروسته عباسي مشهور خليفه هارون الرشيدامام محمد رحمه الله دقاضي په توګه وټاکه،امام محمد رحمه الله د قضاوت پرمهال هم خورا ستر خدمتونه ترسره کړي دي.

امام محمد رحمه الله په ۱۸۹ هـ ق کال د هارون الرشيد سره دخراسان دسفر ملګری و،د هارون الرشيد سره په همدغه سفر کې د نحو امام کسايي هم مل و.د تقدير فيصله وه کسايي او امام محمد رحمه الله په همدې سفر کې د خراسان په ری کې وفات او همدلته دفن شول.د همدې دواړو امامانانو تر وفات وروسته به هارون رشيد په ډير حسرت سره ويل چې نحوه او فقه مي په ری کې دفن کړل.سو.

تفاوت میان بمباردمان(میگ-۲۵) شوروی و بمباردمان(B۵۲) امریکا در چیست؟!

خالد جاهد

۲۶ دلو سالروز خروج نیروهای ارتش شوروی سابق از افغانستان است. نیروهای ارتش سرخ اتحاد جماهیر شوروی سابق پس از ۹ سال و ۵۰ روز اشغال افغانستان با تحمل تلفات ۵۰ هزار نفری و خسارت های سنگین مالی، بدون کوچک ترین دستاورد نظامی و سیاسی در ۲۶ دلو ۱۳۶۷هـ.ش خاک این کشور را ترک کردند.

اگر از یك بُعد نگاه کنیم واقعاً شکست یك ابرقدرت دستاورد بسیار بزرگ برای مسلمانان با شهامت و مجاهد پرور افغانستان است .اما اگر از بُعد دیگری نگاه کنیم، خیانت های سران گروه های جهادی به اسلام و مسلمانان افغانستان را خواهیم دید، آن ها اشغال روسیه را اشغال می نامیدند و کشتار شان را جنایت! اما امروزه که غرب جنایتکار با سرکرده گی امریکای مکار در ۷۷ اکتوبر پای نحس اش را با ورود بیش از ده ها هزار اشغالگر امریکایی گذاشت و در طول شانزده سال اشغال و استعمار خود، جان بیش از صدها هزار مسلمان افغان را گرفته است، سران مجاهدین متقاعد بیشرمانه اشغال امریکا را حضور می نامند نه اشغال، این بر هرمسلمان افغان هویداست که تفاوت میان اشغال شوروی و امریکا در هیچ چیزی نیست مگر در جنایت ها و خباثت ها.

بر شمردن جنایت های امریکا به مراتب بیشتر از جنایت های اتحاد جماهیر شورویست، زیرا امریکا با استعمار عظیم رسانه های شنیداری، نوشتاری و دیداری افغانستان بر همه جنایات خویش روپوش گذاشت و هیچ کس قتل عام ها و بمباردمان های آن ها را رسانه یی نساخت، زیرا همه رسانه ها اعم از حکومت، زیر دست امریکا بود و کسی توان افشای جنایات بیشرمانه آن ها را نداشت.

همان گونه که اتحاد جماهیر شوروی سابق با بمباردمان های مکرر خویش بر سر مردم هرات، نیمروز، قندهار، جلال آباد و سایر ولایات توسط جنگنده های هوایی خویش با مدل میگ ۲۵ جان صدها هزار کودك، پیر و جوان را گرفت، امروزه امریکا نیز با بمباردمان هلمند، قندز، کنر، پکتیا و سایر ولایات توسط جنگنده های هوایی اش با مدل B ۵۲ جان بیش از ده ها هزار مسلمان بی دفاع را گرفته است، اما سران حکومت فعلی و مجاهدین متقاعد با کمال بی شرمی، امریکا را دوست و یاور خویش می خوانند و در مقابل جنایات فراموش ناشدنی غرب که در طول شانزده سال اشغال خویش در افغانستان کردند، مهر سکوت بر لب زده اند.

ما نمي دانیم که تفاوت میان بمباردمان شوروی و بمباردمان امریکا که چند روز قبل توسط جنگنده های هوایی بر سر مردم مظلوم ولسوالی سنگین ولایت هلمند انجام داد که جان بیش از ۲۵ نفر را گرفت در چیست؟!

در شدت جنایت است یا دالرهای دل فریب؟ بدون شك مردم افغانستان هیچ فرقی میان اشغال شوروی و امریکا از نظر قتل عام و جنایت قایل نیستند، و امروزه امت مسلمان افغان خواهان نابودی استعمار و اشغال غرب و شرق و تحکیم دولت واحد اسلامي می باشند که جان و مال شان را حفاظت نموده و دست اشغالگران را کوتاه نماید.

افغان ناروغان او هندوستان !!

خبیر احمد م

له ورایه خوداسې ښوول کیږي اواستخدام شوي رسنی هم په زیات مدُشد دغه خبرونه تبلیغوي چې هندوستان دافغانانولپاره خپله سینه پرانیستې ساتلې،هرډول اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې او په ځانګړې توګه یې دناروغانوپه برخه کې مشخص سهولتونه په پام کې نیولي دي .

دابه ومنوچې دويزې اخیستلوپه برخه کې دهندوستان حکومت یولړګامونه پورته کړي اوافغانان چې کله هم وغواړي هندوستان ته سفروکړي په اسانی سره تګ اوراتګ کولای شي ، خوداچې کله بې وزله اومجبورافغانان دهندوستان په ځمکه قدم کیږدي اوبیاهلته له څه ډول ستونزواوناخوالوسره لاس اوګریوان کیږي راځی چې دغه زړه بوږنونکي حقایق چې دکابل له ماندګار ورځپاڼې سره ځینوافغانانوشریک کړي ولولو.

امریکا،ناټواوهندوستان ادعالري چې دافغانستان دبیارغونې په برخه کې یې په سلهاوو میلونه ډالرپه مصرف رسولي ، خوچې کله دافغانانوروان حالت ، فقر، دربدري اوپه خاص ډول صحي اړخ ته پام واړول شي نوپه ټول هیوادکې به داسې یومجهز روغتون چاته په نظرورنشي- چې لږ ترلږه دافغانانوزړه پرې اوبه وڅښي اوداډاډ ولري چې که خپل ناروغ هلته داخل کړي نوحالت به یې له بدڅخه نه بدترکیږي ؟

له همدې امله په سلوکې ۸۰ فیصده افغانان دخاص اوانتهایي مجبوریت له مخې خپل شته اوجایدادونه پلورته اچوي اوګروه وي یې ترڅوهندوستان اویاپاکستان ته دعلاج اوتداوی لپاره ولاړشي

مخکې به تقریبا نیهایی افغانانودپاکستان هیوادته دعلاج لپاره اوړیدل چې هلته به هم افغانان دپاکستاني پولیسوله ستم اوناوړه چلندسره مخ کیدل، خوله کومي ورځې چې له نوموړي هیواد سره دکابل سیاسي اړیکي ترینګلي شوي نواوس په سلو۹۰ فیصده افغانانو هندوستان ته مخه کړي .

افغانان وایي دهندوستان صرف ویزه له کوم سرخوږي پرته ترلاسه کیدلای شي ، نورګام په ګام کړاونه ،چوراوچپاول ده ،دوئ وایي کله دنوموړي هیواد په خاوره کې پښه کیږدي نوتیار حرفوي اومسلکي غله اولوټماران ، دترجمانانو، لاربنوونکو او داستوګني دکرایه کښو شرمخان په بڼه کې ورته ولاړاودلوټلوپه نیت یې متې بډوهلي وي ، دنابلده اومظلومو

افغانانوله حالت څخه ناوړه ګڼه پورته کوي اوپه کوم لور اوپه څه ډول يې چې روپۍ ترې ووهلې داسې کومه مرجع نشته چې څوک شکايت ورته وکړي اويادې دهمدغوشوکمارومخه څوک ونيسي .

اکثريت افغانان په اردواوانګريزي نه پوهيږي ، مجبوريږي چې ډهلي ته له داخليدوسره سم هرناروغ دځان درهنمايي په خاطرډالروپه بدل کې يوترجمان ونيسي چې ديوې اونۍ لپاره يوترجمان ايله په ۱۰۰ ډالره راضي اوپيداکيدای شي ، بياهمدغه ترجمان دناروغ شتمني اوحالت په اختيارکې اخلي ،دډاکټرفيس ، معاينات ، دټکسي کرايې ، داوسيدوځای اودوايي دهغه درحم اوکرم خبره ده چې په کوم ډول له نوروکميشن کارانوسره ساخت اوباخت کوي البته ناروغ دهيڅ اعتراض اوپوښتنې حق نلري .

دغه ترجمانان چې زياتره يې افغانان دي اومخامخ له هندوستاني ډاکټرانو، روغتيايي مراکزواودکورونوله مالکانوسره په اصطلاح (کنټيک) لري هيڅ ډول عاطفه اوخواخوږي نه پيژني چې کله وپوهيږي دناروغ جيبونه خالي اوزخيره يې په خلاصيدوشوه مريض ځای پرځای پريږدي اوځان ترينه ترې تم کوي .

دکابل ولايت استوګن (حاجي محمدعسکر) چې څه موده وړاندې هندوستان ته دعلاج لپاره تللی وايي : په هندوستان کې دافغانانوتداوي په دې سربيره چې په درنه اوملاتونکي بيه تماميږي اوزياتره وخت مطلوبه نتيجه هم لاسته نه راځي نورله حسابه وتلي کړاوونه اوسرګردانی هم له ځان سره لري ، نوموړی وايي کله چې زه دهندوستان په هوايي ميدان کې کوزشوم په ړومبي قدم کې يوه کميشن کاردوه زره هندی روپۍ له دې امله رانه واخيستلې چې په خپل ټليفون يې زه له يوه افغان ترجمان سره مخ کړم اوهغه راسره دلسوورځو ترجمانی په بدل کې دوه سوه ډالره حق الزحمه وغوښته اوزه مجبوروم چې موافقه ورسره وکړم

حاجي محمد وايی دغه ترجمان چې يوهزاره افغان وو نورزما اختيار اوقضاوت دده په واک اواختيارکې ولويد چې څومره روپۍ به يې رانه دډاکټر دفيس ، ټکسي اودکور د اوسيدو په خاطر غوښتلې ما ورته نه نشوويلای ، تردې چې هرتيسټ يې راباندي دوه دوه ځلې وکړ، ځکه ويل به يې چې په دې معاينه اوليبارټری کې کره اومطلوبه نتيجه لاسته رانغله !!

فريد، نومی افغان چې دری مياشتې وړاندې دپښتورګو دتداوی لپاره هندوستان ته تللی وو خپل حالت داسې بيانوي : زياتره دولتي چارواکي ،دکورنی غړي يې اوهم دافغانستان مرفه اومالداره طبقه خلک دعلاج اومعالجې لپاره هندوستان ته ځي اوپه لکونوروپۍ په ډيرو عادي ناروغيولګوي له همدې امله هندوستاني ډاکټران اوکميشن كاران يواځې هغوافغانانو ته اهميت ورکوي اوښه توجه ورته کوي چې له جيبونواوخور جينويې ډالروسر کړې وي اودتداوی په پلمه يې په ځانودرو پيو باران جوړکړي وي

کله چې هندوستانيان پوه شي چې مريض بې وسه اوله دو دريولکوڅخه يې کمې روپۍ راوړې ، نوهغه بيا دترجمانانو او کميشنکارانو منګلوته پريږدی اوتداوي يې په جعلي ډاکټرانو چيرته ترسره کوي

فریـدوایي : هندوسـتان پـه څوتیروکلونـوکې دافغانانولپاره د(مکس، ساکت ، اپولو اومیدانتا) په نومونو لویی شفاخاني جوړي کړي اوهره ورځ لـه کابـل څخـه دډهلي پـه لـور دالوتکـودوه پراوزونـه کیږي چې لږ ترلږه څلور سوه تنه افغانان انتقالوي .

نوموړی خپل نور سرگذشت داسې بیانوي : کله چې پـه هـوايي میـدان کـې ښـکته شـوم ، یـوکس راتـه راغـی چـې وطنـداره رازه چـې زه درتـه داوسیدولپاره کورونیسم ، ۱۵ زره روپی یې نغدي راڅخـه واخیسـتي ، دری ورځې ورسته بیا راغی ۳۰۰ سوه ډالرېې په دې نامه رانـه ترلاسـه کـړل چـې یومتخصص ډاکتر ته دې بیایم ، کلـه چـې ډاکټرتـه ولاړو ترمـازدیگر پـورې موانتظار وویست بالاخره یې ووئیل چې نن ډاکټررانغی سبا به ورتـه راشـو، سبایې راته زنگ وواهه چې نن مصروف یم بله ورځ به راشـم ، بلـه ورځ یـې ځان رانه تری تم اودتلفون شمیره یې بنده کړه ، په همدې ورځ دکورمالک هـم راغی چې دکور کرایه راکړه ، ماورتـه ووئیـل چـې مـونږ خـو ۱۵ زره روپـی دهغه ترجمان په لاس دررسولي وي اودادی سند هم په لاس لرو دکـور مالـک ووئیل چې ماته یې روپی ندي راکړي ، نوبیا مجبور شو نوري ۱۵ زره روپی موهم ورکړي .

یوبل تن افغان دحاجي اسلم په نامه په داسې حال کې چې په هندوستان کې دافغان ناروغانوپه وړاندې دغه ټولې ناخوالې تائیدوي وايي چـې افغـان چـارواکي هرڅـه پـه خپلوسـترگووینې خوځانونـه یـې کاڼـه اوړانـده نیـولي اوتیارنـدي چـې دخپـل ولـس پـه وړانـدې دهندوسـتاني مسـلکي غلواوشـو کړاروپه کړنواعتراض اونیوکه وکړي ، دنوموړي په وینا یـاور سره چـارواکي ترلې اوگډه فیصـدي لـري اویـاهم نـه غـواړي چـې ددوسـتی پـه جامـه کـې دهندوستان هیواد له غلیمانه چلند اودوه مخې پالیسی څخه پـرده پورتـه کـړل شي .

دکابل رژیم دتجارت اوصنایعو خوني مشر (حقجو) وايي که څه هم پـه افغانستان کې ۱۷۱ خصوصي او۱۳۱ دولتي روغتو نونـه شـتون لـري ، ولـې بیاهم افغانان اړیـږي چـې هـره ورځ پـه زرگونوتنه بهرته دعلاج لپاره ولاړشي ، چې زیـاتره یـې هندوسـتان اوپاکسـتان مخه کوي ، چې دیوې احصایې له مخې هره ورځ افغانان دوه میلونه ډالرهمـدغو هیوادونوته دتداوي په خاطرنقلوي .

نواوس دې قضاوت خپله افغانـان وکړي ، چې دامریکا، ناټواو هندوسـتان هغه په ملیاردونه ډالرچې هغـوئ وایـي په افغانستان یې لگولي په کـوم لـوري ولاړل اوددوستئ دثبـوت لپـاره ویـلای شي ، چـې امریکـا، برتانیـا، جرمنـي ، کانـاډا ، ایـران ، پاکسـتان اوپـه خـاص ډول هندوسـتان دافغانسـتان پـه کومـه ښار اوولایـت کـې داسـې کـوم مجهـز روغتون جـوړ اوابـاد کـړ چـې افغانـان دسختوناروغیولپاره هلته مراجعه وکړي اوبیادې علاج هم وشي ؟

***

خوارکیه!

د عابد لیکنه

نه به وایم چې ددوی له راتلو سره دې ځنګه لیونۍ مینه په جوش او جذبه راپورته شوې وه! څه شور او فغان دې جوړ و! ځنګه دې سترګې درباندې ړندې وې او هیڅ دې نه لیدل! له مودو د دیموکراسۍ تنده دې ماته بلله! نور دې ټول ارمانونه پوره وو، وطن آباد، سوکالي په برخه او د ترقۍ او تمدن په لور دې لومړني ګامونه پورته کول، دودان، ښېراز او خوشحال افغانستان خوبونه دې لیدل!

څه دې ونه ویل؟! سترګې دې پټې او خوله دې خلاصه وه! هیڅ قومي، سمتي، دیني او دخپلوي لحاظ دې ونه ساته! ټولې پولې او حدود دې مات کړل! په رښتیا چې داوښ په پچه ختلی وې او کشمیر دې لیدلی و، ځکه نن دا هیڅ نه شته او له هرې خوا مایوس یې!!

که به هرڅو درته وویل شول چې دا پردي زمونږ خواخوږي نه دي، دا په وینه، ژبه د رګډ پرې مه خفه کوه! ولې تا ته دمنلو نه وه او هغوی ته په خدمت کې له هرڅه تېر وې!!

خوارکیه! نن لاس ترزنې ناست یې د ټولو خوبونو تعبیر دې سرچپه دی، له ټولو هغو خیانتونو او جنایتونو یوه یوه پاڼه اړوې چې تا به یې جوازته تاویلونه لټول او رڼا ورځ دې توره شپه بلله! هغه چې تا ته ترهرڅا درنږدې او دځان هغه خواخوږی دې باله چې ستا لپاره یې ځان واژه! نن درته په داسې سترګه ګوري چې خپل ساتونکي ځلوربول! او غلام ته هم نه ګوري، د مستعمل ټوکر په څېرېې وغورځولې او ټول عیبونه یې درپورې وویل.

خوارکیه! نن ستا په حال رحم په کار دی او دا د تمساح اوښکې دې وچول غواړي، ستا په وړاندې د افغاني کمونستانو او شوروي د پاتې شونو پخه تجره پرته وه، خو په تا د عبرت سترګې پټې شوې او هغه جنون دې په عقل پرده راوسته چې وار له مخه یې په هغوی هم دا کانې ترسره وې!

مادې همدا ورځ لیدله او د دوی دا غدر مې له قرآنه درته وایه چې وایي: "هیڅکله به دوی له تا خوښ نه شي ترڅو چې ددوی له ډلې نه شې".

پرون چې ما له ارضي تمامیته دروا خله ټولو کورنیو ستونزو ته دپای ټکی ایښی و، دهیواد پرمختګ او ابادي ته ټوله فضا جوړه وه، ولې یې له ما ملاتړ ونه کړ، نه یوازې دا چې زما ملاتړ یې ونه کړ، بلکې پرهیواد یې اقتصادي بندیزونه ولګول او هغه شتمني یې هم کنګل کړه چې دهیواد پرحریم دتېرېدونکو الوتکو له لارې دافغانستان حق جوړېده...

په هغه وخت کې که کومې ستونزې اونیو کې وې دنیو دا په پرتله دهیڅ برابر وې او ددې ورنه وې چې پر افغانستان او افغانانو دې دومره کلابندۍ ولګول شي او ټول په ټوله دې مقاطعه ورسره اعلان شي، بلکې دهیواد دزېربناوو دجوړولو، دزراعت دودې، بیارغونې او مواصلاتي پروژو دتطبیق ترټولو چانس هماغه و، هغه ترقي چې په توپونو او ټانکونو یې پرتالو روله ډېره وړیا اوله ځاني تلفاتو پرته پلې کېدای شوای.

خونه ! لکه ما به چې هماغه وخت ناري درته وهلې: دا جګړه مذهبي جګړه ده او ترشايې د ذاتي ګټو خونديتوب هم پټ دی، خو تا زما ناري نه اورېدې او نن درته معلومه شوه چې رښتيا هم دوی دخپلو ګټو خونديتوب ته راغلي وو، دلته یې که یو څو سرکونه او پلچکونه راته جوړ دي، څومره ستونزې یې نورې زېږولې ؟ ! ! او څومره یې له مونږه پرې ووژل ! !

نن زما مبارزه څنګه ارزوې ؟ ! دخاورې خواخوږي څوک شول ؟ ! چا دپردو لپاره کارکاوه او چا دمادیاتو لپاره دغلامۍ کړۍ په غاړه کې اچولې وه ؟؟

بریا

سید احسان الله الهام

لاس مو په مېړانه و ګرېوان ته د بلا رسي
بیا مو ترمنزله قدمونه د بریا رسي

بیا مو میدان وړی بیا غلیم راته زارۍ کوي
بیا راته غښتلي نصرتونه د مولی رسي

فضل د الله دی په خالي لاس چې ښاغلي یو
ونکړۍ غرور چې مو هر وار تر اژدها رسي

داسې په خندا استشهادي زلمی تر بریده ځي
خاص لکه پتنګ چې تر ډېوې تېز په نڅا رسي

اې سپېڅلي عشقه! پلازمینه دې زموږ زړونه دي
ستا په برکت مو ابدي ژوند تر عقبا رسي

څه شول چې په وړاندې یې خندونه هسک تر غرو بلل
څه شوئ راشئ وګورئ! ښاغلي په رښتیا رسي

هیڅوک به الهامه! زموږ کاروان له بریا تم نه کړي
څو چې مو په برخه د مظلوم د زړه دعا رسي

★★★

لیکنه: مفتي محمدالیاس "فاتح"

د اسلامي نړۍ ځلانده ستوري

الامام ابن شاهین رحمه الله

زوکړه یې:

د عراق د خاورې لوی امام، محدث، حافظ واعظ او ستر ثقه عالم؛ علامه عمر د احمد ځوی، د عثمان لمسی، د احمد کړوسی، د محمد کوسی، د ایوب کودی او د ازداد پردی و، چې د ۲۹۷هـ کال د صفرالمظفر په میاشت کې د بغداد په لرغوني ښار کې وزېږېده.

د نوموړي کنیه ابوحفص او شهرت یې په ابن شاهین سره و، په ابن شاهین سره یې نسبت د مور پلوه نیکه ته شوی، هغه داسې: احمد بن محمد بن یوسف بن شاهین الشیباني.

زده کړه پیل یې:

د حافظ ابن شاهین رح پلار چې په علمي نړۍ کې دلوی شهرت او شوکت څښتن او په ځانګړې ډول د حدیثو له مشهورو راویانو څخه بلل کېده؛ نو ځکه یې خپل علمي سیر له همدې ځایه (پلار څخه) پیل کړ او له هغه یې په ستره پیمانه بېلابېل علوم ترلاسه او زیات شمېر روایات نقل کړل. پلار یې د ابن شاهین د روزنې او پالنې مسؤلیت په خورا ښه توګه ترسره کړ او دسترو مشایخو او بزرګانو په صحبت یې مشرف کړ اومسلکي استاذانو ته یې حواله کړ.

مشهور استاذان یې:

أبو بكر محمد بن محمد الباغَندي

أبو القاسم البغوي

أبو خبيب العباس بن البرتي

أبو بكر بن أبي داود

شعيب بن محمد الذارع

أبو علي محمد بن سليمان المالكي

أبو حامد الحضرمي

أبو بكر بن زياد

محمد بن هارون بن المجدر

الحسين بن أحمد بن بسطام

نصر بن القاسم الفرائضي

محمد بن صالح بن زغيل

محمد بن زهير الأبلي

أحمد بن سليمان بن زبان

أبو إسحاق بن أبي ثابت

أبو علي بن أبي حذيفة

علمي سفرونه یې:

ابن شاهین لاماشوم و، چې په علم پسې یې تنکۍ مینه لیونۍ او له سترګو یې خوبونه تبنتیدلي وو، هغه ایله ۱۱ کلن ماشوم و، چې د نبوي حدیثو په لیکلو یې ګوتې پورې کړې.

هغه مهال، چې بغداد دعالمانو کعبه یادېده او په اسلامي نړۍ کې د علم ترټولوستر مرکز بلل کېده، ابن شاهین هم پکې خوا وشا ۳۰ کاله علمي وده او طالبي وکړه.

له دې وروسته یې د لا علمي پرمختیون په موخه ډېر سفرونه وکړل، لکه: عراق، شام

(اوسني سوريه) فارس ، مصر ... او په دې لاره کې يې ډېرې تودې اوسېږې وزغملې او خورا زياتې ستونزې او تکليفونه يې و گالل،. چې د وخت په تېرېدو سره دسترعالم ، نامتو اديب او پياوړي ليکوال په حيث نرى ته و پېژندل شو. دغه لوى فقيه او داعي ، خپل ژوند داسلامي ملت دخدمت ، اتحاد او سرلوړۍ په گټات صرف کړ. او له کماله ډک پياوړي شاگردان يې تولنې ته وړاندې کړل ، د بېلگې په توگه:

ځينې شاگردان يې:

أبو بكر محمد بن إسماعيل الوراق

أبو سعد الماليني

أبو بكر البرقاني

أحمد بن محمد العتيقي

عبيد الله بن عمر

أبو محمد الجوهري

الحسن بن محمد الخلال

أبو طالب العشاري

أبو الحسين بن المهتدي بالله

أبو القاسم التنوخي.

تصنيفات يې:

علامه ابوالفتاح بن ابى الفوارس وايي : حافظ ابن شاهين لوى ثقه عالم و، داسې تصنيفونه يې وکړل ، چې هېچا نه دي کړي.

دغه راز ، ابن الساجي رح وايي : ما له ابن شاهين رح څخه اوريدلي ، چې ويل يې : ما په څلور سوه رطله (څه کم ۲۰۰کيلو) کرکو (د سيايي قلمونو) ليکل وکړل.

د اسلامي امت لپاره د علامه ابن شاهين ارزښتناک او درانه کتابونه يوه ستره علمي زېرمه او تلپاتې وياړ وگرځيد ؛ هغه ۳۳۰ کتابونه وليکل ، چې يوازې يې (التفسير الكبير : ۱۰۰۰) زر جلده ،(المسند : ۱۵۰۰) يوزروپنځه سوه جلده ،(التاريخ : ۱۵۰) يوسلوپنځوس جلده او(الزهد: ۱۰۰) په سلو جلدونو کې وليکل. او د نورو اثارو بېلگه يې په لاندې ډول ده:

»الترغيب في فضائل الأعمال وثواب ذلك«

»ما اجتمع عندى من الاحاديث التي بينى وبين رسول الله اربعة رجال

» اسماء الصحابة«

» فضائل شهر رمضان«

» تاريخ أسماء الثقات«

» فضائل سيدة النساء«

» حديث عمر بن أحمد«

» شرح مذاهب أهل السنة«

» ناسخ الحديث ومنسوخه«

»جزء من حديث ابن شاهين«

» المختلف فيهم«

» تاريخ أسماء الضعفاء والكذابين«

» الامالي«

» المعجم«

» الاكابر عن الاصاغر في السن«

» الجنائز«

» المناهي«

»كشف الممالك«

»معجم الشيوخ«

»الأفراد«

» فوائد ابن شاهين«

او رحلت يې :

علامه ابن شاهين رح علمي ډگرونو ته ترنه هېرېدونکو خدمتونو وروسته د۳۸۵هـ کال دذى الحجې مياشتې په ۱۱مه نېټه د يک شنبې په ورځ داجل داعي ته لبيک ووايه او د تل لپاره يې له دې نړۍ سره خداى پاماني وکړه . او د (باب حرب) په هديره کې د امام احمدبن حنبل رح ترڅنگ خاورو ته وسپارل شو.

اروا يې ښاده او قبر يې له رڼاگانو ډک لرې،آمين.

کلورینې پاڼې

د زړه فانوس

عرفان اللّه (عرفاني)

د زړه فانـــوس تـــه مې ډیـوه پکـار ده
ژونـد تـه مې نـــوې فلسفـه پکـار ده

چې ماشـوم عشـق‌مې پکې زده کـړه وکړي
ماتــه د میـنې مـــــدرسه پکــار ده

اوبه کوم پرې د خـــــیال تږی کاروان
د غره لمن کې مـــــــې چینه پکار ده

گــــوره زه یمــــه د میــــــنو سفیر
ډکه له ناز مې کـــــــرشمه پکار ده

دنگـــه‌ولاړه د جــــُنون کـــلا ده
ورتـــــــه د عــــقل دروازه پکار ده

د چا د یاد دښـــــتې مې تـــولې پل کړې
د صحــــــرا هجر ته خــیمه پکـــار ده

په نڅـــا راغــــله د غــــزل ښاپېرۍ
اوس مې قلـــــم او کتابـــچه پکار ده

ځمـــه جهاد ته له غـــــازیانو ســــره
یو مې ټوپـــک بـــــله چانټــه پکار ده

پر ســـرک راغـــلل د رقـــیب ټانگونــه
ښـــه بارودي غټـــه بـــوشکه پکار ده

(عرفـــاني) تاتــه مې څـو ځـل وویـــل!
زما غرنـــــۍ مســـته ټپـه‌پکـــار ده

د ننګ تاریخ....

ثاقب خپلواک

د اریانـا غیـږ کـې ، شـوه گرمـه حماسـه د غـزا
هغـه د ننـگ سـیند یـې وهلـې د څپـه د غـزا

په دی حساس وخت کې، احساس بیا د زلمو ویښـوي
چـې د میونـد د ملالـۍ اوري ټپـه د غـزا

کړي به یې غوځی د تورتم د کیږدۍ تـورې مرانـدې
چـې و پرکیـږي ، د رڼـا، تـوره ، تیـره د غـزا

مغـرور میرڅـي تـه یـې ، ویلـی دئ ځـواب پـه تـوره
لـرو مـوږ دی ، غـازي ، ټـبر کـې قافلـه د غـزا

د حماسـو د کتـاب هـر څپرکـی بـې سـتایي زلمـي
دننـگ، تـاریخ بـې پرگنـې کـړي ، زمزمـه د غـزا

هـا تانـدې وینـې چـې پـه شـور راولي تـل ثاقبـه!
پـه تـرنم کـې ، د تکبیـر مسـته نغمـه د غـزا

غزل

#زبیردرمان

شهادته! یو سړی درپسې مات یم
په شرنګاه لکه بنګړی درپسې مات یم

غېږه را کړه چې راټول شمه را جګ شم
پانې پانې یم رېدی درپسې مات یم

دا ښکلا وي راته واړه سلامي کا
یو غمی یمه غمی درپسې مات یم

یېلې پښې دغرو په څوکو باندې ګرځم
غاړه راکړه یو زلمی درپسې مات یم

پر اوبو چې دکوثر شاداب شم
مراوی ګل یمه بابری درپسې مات یم

لا مې دنګه دچنار غوندې ځواني ده
لا تنکی یمه ژنکی درپسې مات یم

له مدو ورمه په تا پسې خپل سر
زه درمان یم لېونی درپسې مات یم

غزل

عبدالباقي مهاجر

دغره پر سر باندې مورچه جوړوم
دښمن ته ګوته په ماشه جوړوم

ورته طالب طالب اجل اجل یم
صلیب ته غشی او لینده جوړوم

قرآن د پاک الله ضرور ګټمه
ورته خپل سر به نظرانه جوړوم

د انقلاب د معمارزیګر ماڼۍ ته
په خر سنګر کې به سجده جوړوم

داغ پر داغ ګدم ورته خوشحاله یمه
د رب رضا ته ځان تحفه جوړوم

د وینو څاڅکي ځارومه رب ته
له سره تېر یم ځان لمبه جوړوم

زه (مهاجر) د خپلو واکي لپاره
له پرهرو ډکه سینه جوړوم

حضرت عثمان غني [رضي الله عنه] فرمایي :

تیته وینا ،ښکته کتل او منځنۍ راشه درشه د ایمان نخښې دي.
خپل پېټی پر بل مه اچوئ که لږ وي یا ډېر.
توره بدن تېپي کوي او بده وینا روح.
ټولې نیکۍ له حیاء او ټولې بدۍ له بې حیایي سره تړلې دي.
ځینې وخت د جرم بخښل مجرم ته جرآت ورکوي.

حضرت علي [رضي الله عنه] فرمائي:

له الله نه غافل نشي چې هغه له تا سونه غافل نه شي.
امیدوار اوسئ، ځکه چې مایوسي ګناه ده.
دشتمنو دښمنان ډیروي او د عالمانو دوستان.
غوره کمال ادب او ښه عبا دت صدقه ده.
د حیا جامې واغوندئ چې ټول عیبونه مو پټ شي.

له امریکایانو سره خواخوږي.....؟!

موسی فرهاد

له أميرالمؤمنين مرحوم ملامحمد عمر مجاهد نه یو وخت وپوښتل شول چې ته ولې دې ته حاضر یې چې طالب مشرانو ته اجازه ورکوې چې له امریکایانو سره مستقیماً خبرې وکړي او د کابل له اداري سره د خبرو اجازه نه ورکوې ، په دې کې حکمت څه دی؟

ملاصاحب مرحوم په خپله ځانګړي لهجه او لنډو الفاظو داسې ځواب ورکړی چې مطلب یې داسې وو :

زه پوهیږم چې امریکایان د افغانستان په جنګ کې خطا ایستل شوي دي ، هغوی احمقان دي ، نورو پر شا ټکولي چې تاسو جنګ پیل کړئ ، تاسو یې ګټلی شئ ، نو بې عقل انسان به هم وهي او هم به یې د پوهولو کوشش کوي ، کیدای شي چې یا دې په خبره پوه شي او یا یې په وهلو ټکولو له ځانه لیرې کړي .

نو تاسو کوشش وکړئ چې مخ په مخ له هغوی سره خبرې وکړئ او په دې یې پوه کړئ چې تاسو بې ځایه جګړه پیل کړې ، تاسو په موږ ملامت یاست ، تاسو ظلم کوئ تاسو ته بل داسې چا مشوره درکړې چې ستاسو دوست نه دی. که څه هم ستاسې خپل امریکایی یا بریتانوی انګریز وي. تاسو د عقل په بنیاد پریکړه نه ده کړې ، تاسې د افغان ولس تاریخ او مزاج نه دی مطالعه کړی ، تاسې خپل ځواک او خپلو مهلکو وسایلو دومره مغروره کړي یاست ، چې د خپل هغه دښمن په خوله مو پریکړه کړې چې تاسې یې په ظاهره د ځان دوست ګڼئ.

او د کابل اداري له خلکو سره د خبرو اجازه له دوو وجو نه ورکوم، یو دا چې هغوی خو د بهرنیو متجاوزینو له شتونه پرته هیڅ وجود نلري نو خبرې کول ورسره عبث کار دی . دویم داچې هغوی خو د ډېر ستر ملي خیانت ارتکاب کړی ، خپله خاوره او خپل ناموس یې خرڅ کړی ، له اشغالګرو سره یې د خپل وطن په اشغال کې مرسته کړې. نو دا ډول خلک د دنیا په تاریخ کې په هیڅ قوم کې د بخښنې وړ نه دي بلل شوي. حتی چې اشغالګر پخپله هم دې ډول خلکو ته په سپک نظر ګوري ځکه چې هغوی د خپل کور ، خپل ناموس او خپلې خاورې په خرڅولو صرفه نه کوي ، د خارجیانو په لاس د خپلو خلکو په وژلو یې زړه نه خوږیږي ، د پیسو او مادیاتو د ترلاسه کولو پخاطر

يې تر استقلال او حريت ، غلامي او ګوډاګيتوب خوښ وي ؛ نو دا ډول خلک د بشري ټولني ترټولو منحط ترين خلک وي ، له دې سره هميشه د دنيا په تاريخ کې داسې معاملې شوي دي چې هغوی ته سزاوي ورکول شوي ، نه داچې هغوی ته د نورو آزادو او مستقلو انسانانو په سترګه کتل شوي .

د مرحوم ملاصاحب الفاظ اګرچه له دې بدل وو خو مفهوم يې هو بهو همدا و . ربښتيا هم د أميرالمؤمنين دا خبره د امريکايي يرغلګرو او د هغوی د حمايت يافته هم لاړو لپاره د کاڼي نقش بلل کيدای شي.

په پښتو کې يو متل دی چې وايي بې عقل چې څومره بل خوړوي ؛ تر هغه زيات ځان خوړوي . ١٦ کاله کيږي چې امريکايي چارواکي هم خپل خلک وژني او هم يې په دنيا کې اور بل کړی . د خپلو ناوړه کړنو او ناکاره پاليسيو له کبله يې څه باندې ٤٥٠٠ زره انسانان د يولسم سپتمبر په پيښه کې له لاسه ورکړل. خو په انتقام کې يې تراوسه پورې په سوونو زره نور امريکايان د مرګ کومې ته ور ټيل وهل .

د دوی خپلې شميرې وايي چې ٤٤٨٦ امريکايي عسکر په عراق کې وژل شوي ، ٢٣٤٥ په افغانستان کې وژل شوي ، په دواړو جګړو کې ١ ميليون عسکر زخميان شوي او قريب ٦ ټريليونه ډالر مصارف شوي
.

According to the U.S. Department of Defense : After ٤,٤٨٦ U.S. soldiers died in Iraq and ٢,٣٤٥ U.S. soldiers died in Afghanistan, ١ million U.S. soldiers wounded in both wars, and a potential cost of up to $٦ trillion,

د يو بل راپور له مخې چې د (Archive of armed violence) وسلوال تاو تريخوالی آرشيف په نوم اداري خپور کړی او ويلي دي چې په تېر ٢٠١٦م کال کې په امريکا کې د څه کم ٦٠ زره وسلوالو پيښنو په ترځ کې څه باندې ١٥زره کسان وژل شوي او لږ تر لږه ٣٠ زره ٦٠٠ سوه نور ټپيان شوي. نو چې دا کلنی شمېره په يوه يا يوه نيمه لسيزه کې ضرب کړای شي تر سوونو زرو پورې د امريکايانو مرګ ژوبلې اوړي .

مالي زيان يې د امريکا د ټيکس يا ګمرکي محصولاتو د اداري د ويب پاڼې AmericanTaxpayers.com

د ٢٠٠٩م کال د راپور له مخې، داسې ښودل شوی؛ هغه امريکا چې يو وخت يې په پرلپسې-توګه په هره يوه ثانيه کې ٧٥٢ ډالره ګټل، ولي اوس يې د ګټې پرځای، زيان ته مخه کړې ، د جګړې له کبله د هرې ثانيې په تيريدو سره ٢٣١ ډالره مالي زيان ورته رسيږي.

ځکه چې د يو شمېر احصائيو پر بنسټ د امريکا د جنګ د هرې ورځې پوځي مصارف له ٢٥ نه تر ٢٨ميليونه ډالرو پورې رسيږي. چې په يوه نيمه لسيزه کې دومره لوی مصارف خورا ملاماتوونکي ثابتيدای شي .

د الجزيرې د ٢٠١٦م کال د راپور په آساس په تيرو ١٥ کالو کې د

امریکـایی جگـړې لــه لاســه پــه افغانســتان عــراق او نــورو ســیمو کې ٦٠٠ شپږسوه زره پوځي او ملکي وګړي تلف شـوي ، تـر ۷ میلیونـه زیات وګړي مهاجرت او بې کورۍ ته اړ شوي . او پـه همـدې مـوده کـې امریکا ته تر ١٣$ ټریلیونه ډالرو مالي زیان رسیدلی دی .

October ١٢, ٢٠١٦ AlJazeera

"The Costs of War Project comprises ٣٥ scholars, legal experts, human rights practitioners and physicians, and has been working since ٢٠١١ to document the full human, material, and political costs of the wars in Iraq and Afghanistan, and the related violence in Pakistan and Syria - and to ask for an official accounting. The project's findings show that over the past ١٥ years, US conflicts have cost more than ٦٠٠,٠٠٠ military and civilian lives, resulted in more than seven million refugees and displaced people, and run-up perhaps nearly $١٣ trillion in financial costs over the lifetimes of the conflicts."

نو دې ټولو تخمیني او سرسري احصائیو ته په کتو، سړی دې نتیجـې ته رسیدلای شي چې امریکایی واکمنو ډېره احمقانه پریکړه کړې چې پـر اسلامي نړۍ خصوصاً پر افغانستان یې یوه ناروا جګړه پیل کړې. داسی یو بې هدفه او ناکامه جګړه چې هیڅکله به یې د ګټلـو خـوب رښـتیا نشي. پرته له دې چې ورځ تر بلې یې زیاته مرګ ژوبله وزغمي ، ملا ماتوونکی مالي زیان یې وګالي او بالاخره نړیوال غرور او حیثیت یې له خـاورو سره خاورې شي.

امریکایان بایـد پـه دې ځـان پـوه کـړي چې افغانـان رښـتیا هـم ډېـر ځوریدلي ، ستړي شوي ، کورونه او زنـدګي یـې تبـاه شـوي ، خـوارۍ او ورانۍ یې ګـاللي ، لـه جنګـه سـتړي شوي، خو له جهاده هیڅکله نه سـتړي شوي او نه به ستړي شي .

دا ځکـه چـې جهـاد د مسـلمانانو د ایمان یو جـزء دی چـې هیڅکلـه ورتـه شاه کولای نشي . همدا لامل دی چې مسلمان د جهاد په دې مقدسه عقیدوي لاره کې مـرګ او ژونـد دواړه د ځـان بریا ګڼي . او له دې عقیـدوي نعمـت څخـه مقابـل دښـمن او د هغـوی هـم لاري په هر صورت محروم دي.

نــو د أمیرالمــؤمنین مرحــوم مــلا محمـدعمر مجاهـد پـورتنۍ خبره یـو داسې ریښـتیني او حکیمانـه حقیقـت دی چې په واقعیت کـې دا لـه دښـمن سره یو ډول خواخوږي ګڼله کیږي که چیري هغوی له لږ انساني بصیرته کار واخلي او نور له دغه پیـل کـړي ظلـم څخه لاس پر سر شي . ترڅو هـم ځـان له تباهۍ وژغوري او هـم مسـلمانان د دوی له شره خلاص شي .

پای ....!

ژ: ابوظهیر درپیمه برخه

داسلامي نړۍ ثقه عالم مولانا سید ابو الحسن علي ندوي

دلویدیځ د نړیوالتوب

او دجدیدیت ځپلو لاملونه او دهغو درملنه

په دې لوی کار کې که هرڅو مره ستونزې اومشکلات شته اویا پکې ځومره ځنډ راتلای شي، اسلامي نړۍ کې دتجدد او مغربیت د روان نړیوال اغېز درملنه ددې پرته بله نشته کوم چې داسلام ملي وجود او اجتماعي قالب ننګوي او ورته لویه خطره لا څه بلکې دژوند او مرګ مسئل یې ګرځیدلې، چې په نتیجه کې دعامو مسلمانانو خلوص ، دهغوی قربانۍ، دهغوی جذبه او دهغوی کاري ځواک(دکوم په برکت چې هېوادو یې ازادي او خپلواک حکومتونه مندلي)داوسنۍ روڼ اندی او جدیدیت پالنې داور په لمبو کې ایره ګرځیدلي. اودا ساده زړي ،بې ژبې، احساساتي او مخلصعام خلک درهبرانو او واکمنوپه واړاندي دڅارویو (اوزو) درمې بنه مندلې. چې دهغه منزل په لور بیول کېږي چېرې په چوپتیا سره له تیغ تیرېږي.

هندوستان کې د انګریزي واکمنۍ دبري راز په ملکي اوپوځي برخو کې دکارکو ونکو په داسې غربي روزنه کې و ، چې په ټولو کړو وړو کې یې دغربیانو په اطاعت او تابعداري کوله ،انګریزانو ددې هېواد (هند) قالب داسې تیار کړ چې تر سل کلویې هغوی هندوستان د خپلو خارجي بادارنو دتبې او مزاج سره سم وچلاوه! ، نن هم داسلامي هېوادو دلوري بدلون او اسلامي فکر او اسلامي ژوند ته بیرته دهغوی د راوستو تدبیر دادی چې د هم هغې ډلې داسلامي روزنې لپاره دې عملي ګامونه پورته شي، دکومې ډلې په لاس کې چې د هېواد دچارو واګې دي! او دهغو خلکو دروزنې نظام دي سم کړای شي کوم خلک چې دغسي ډله روزي!

په تعلیمي نظام کې دغه بدلون او اسلامي جوړښت ته اګرکه اړتیا زیاته ده خو داچېر او ږدمهالا او ځنډ غوښتونکی پړاو دی، چې ورته دپراخو او لویو استعدادونو دروزلو او وسائلو ضرورت دی، دنوي ځوان اسلامي نسل دروزنې معامله دیوې ورځې دتاخیر وړ هم نده او ددې کار تربشپړولو یاد هدف دهغو اسلامي دارلاقامو(Muslim Hostel) نه په ښه ډول اخستل هم کېدای شي ، چې دپوهنتونو او لیسو مسلمانو زده کوونکو ته پکې د استوګنه ورکولو په موخه رامنځته کړای شي ، څو هلته د اسلامي روزنې ،اسلامي ژوند او چاپیریال په جوړولو سره هغوی ته دسهي اسلامي ذهنیت او

روحاني غذا ورکولو لپاره خاص اهتمام وکړای شي، ددغسي ليليو جوړول چې هلته د مقيمو او ميشت شاګردانو په سيرت او داخلاقي حالت په جوړولو کې څومره رول درلوداى شي ، ورڅخه هغه شاغلي هم ناخبر دي، څوک چې دنوي ځوان نسل په اړه څه ناڅه پوهه او تجربه لري، اسلامي ښوونځيو يا ليسو (چې دملت په لويه پانګه لګولوجوړې شوې) دحالاتو په بدلون سره خپل افاديت له لاسه ورکړى خو ددي برعکس دليليو او اقامت خونو جوړول او انتظام په نسبي توګه ستونزې يې کمې او ګټې يې خورا ډيرې دي! او هرڅاى چې دتعليمي نظام دچارو واګې دصحيح الخيال او درمندو مسلمانو مشرانو له لاسو وتلې او بيرته لاس ته دراتلو اميد يې کم دى هلته هم دغه اقامت خونې په زدکړو کې بوخت ځوانانو داخلاقو ساتنې ، دذهني او ديني زورنې لپاره ښه وسيله کيداى شي او په ترڅ کې يې او ډيرپاک او سپيڅلي ځوانان دمفسد او فاسد چاپيريال دمسخ کولوڅخه ژغورل کيداى شي او ددې ترڅنګ دتعليمي نظام په ګډون دتعليمي مرکزونو ساتنه هم ښه کولى شي.

يادونه:

ددينـي استوګنې په نوم د خونو جوړولو تحريک تړلو لومړى اروا ښاد مولانا سيد مناظر احسن ګيلاني پيل کړ، بيا دهغه وروسته ددې تحريک لوى داعي دهغه ملګرى او زمونږ مخدوم مولانا عبد البـاري نـدوي و، چاچې په دې موضوع مسلسل ليکنې کولې او دردمند مسلمانان يې اهميت او افاديت ته متوجه کول.

داسلامي هېوادو نه علاوه په غـربي هېوادو کې هم ددغو اسلامي دارلاقاموجوړولو اړتياده، هلته چې په لوى شمير مسلمانان ځوانان زده کړې کوي څوک چې په ذهانت او عملي ځواک کې دملت پانګه او جواهردي او دچا لپاره چې بالعموم (دخپلو ذهني صلاحيتونو او دغربي ژبو ،علومو او سياست سره دبلدتيا له مخې) داسلامي هېوادو دقيادت واګې اويا لږ ترلږه د کليدي حکومتي پوستونو ترلاسه کول مقدر دي ، که په دغو مرکزونو دهغوى درجحاناتو داصلاح او داسلامي ذهن دتعمير انتظام و شي او په اسلام او دهغه په راتلونکي باندې يې دهغوى باور ترلاسه کړاى شي نو ددې خاموش کار د لارې به په هغو اسلامي هېوادو کې په چوپتيا سره انقلاب را شي دکوم دقيادت واګې چې سبا يا بل سبا هم دا ځوانان په لاسو کې اخلي او دغه طريقه دهغو ټولو طريقو نه اسانه او خوندي ښکاري کومه چې ديوې مودې راهيسې مخامخ په اسلامي هېوادو کې تجربه کېږي.

غربي ختيځ پوهان او دهغوى دڅېړنو او افکارو اغېزې:

داوسنی اسلامي نړۍ دواکمنو او مشرانو(چا چې په عامه توګه په لوړو غربي تعليمي مرکزونو کې زدکړې کړې او يايې په غربي ژبو کې اسلامي ايډيا مطالعه کړې) په مغزو کې داسلام دماضي په اړه بدګومانې پيداشوې او دهغه دحال نه بيزارى او دراتلونکي نه مايوسې ځاى نيولى داسلام او داسلام دپيغمبر او اسلامي ماخذ(SOURCES) په باره کې دشکوکو او شبهاتو په ورتلو سره دمذهب داصلاح او داسلامي قانون داصلاح ارزو په هغه فکر او طرز سره لري کوم چې دغربي مفکرانو دى چاچې داسلامياتو دمطالعې لپاره خپل عمرونه وقف کړي ، کوموته چې ورته په عامه اصطلاح مستشرقين(ORIETAIST)ويل کېږي ،چې دخپل علمي تبحر ، تحقيقي زيارونو او دمشرقياتو

سره دژور ي بلدتيا په وجه د مغرب او مشرق په علمي او سياسي حلقو کې ورته دلوی عظمت او احترام په نظر کتل کېږي او په مشرقي او اسلامي مباحثو کې دهغوی تحقيقات او نظريات وروستی حرف يا قول فيصل ګڼل کېږي.

د استشراق تاريخ ډېر پخوانی دی کوم چې په ښکاره د ديارلسمې عيسوي پيړۍ څخه پيليږي، ددې دپيل محرکات ديني هم وو، سياسي او اقتصادي هم، ديني محرک څرګند دی چې هدف يې دعيسوي دين پراختيا او تبليغ دی او داسلام يو داسې انځور وړاندې کول دي چې پکې د عيسويت برترې او ترجيح جوته بريښي څو دنويو زدکړيو او نوي نسل لپاره په عيسويت کې راښکون پيداشي نو په دې توګه اکثريت استشراق او عيسويت سره يوځای دروميي او دمستشرقانو لوی شمير پادريان دي او يو لوی شمير يې نسلاً يهوديان هم دي.

سياسي محرک دادی چې دغه مستشرقين عموماً په ختيځ کې دغربي حکومتونو او واکمنی لومړی رساله (PIONEERS) ده چې غربي حکومتونو ته علمي کومک رسول دهغوی دنده او کارمسؤليت دی هغوی دمشرقي ولسونو او هېوادونو دخلکو په دودونو، رسمونو، طبعيتونو او مزاجونو ، داستوګنې او ژوند په طريقو، ژبو او ادبياتو ان په احساساتو او اراوپوهنه څېړنې کوي ، معلومات جمعه کوي بيا هغه دغربي هېوادو واکمنو او خلکوته رسوي څو غربيانوته په هغوی باندې حکومت کول اسانه وي ددې ترڅنګ هغه حالات، تحريکات، عقايد او خيالات له منځه وړې کوم چې دغربي حکومتونو لپاره دردِ سر ګرځي او د داسې ذهني او علمي فضاء رامنځته کولو کوښښونه کوي چې پکې ددوی دحکومتونو دمخالفت سوال نه پيدا کېږي څو داسلام او ختيځ په مقابل کې دخپل تهذيب عظمت او دهغوی دخدمتونو وقعت ثابت کړي هم دخپلو هېوادونو دپرمختګ او اصلاح او دمغرب په پله دختيځوالو د بيولو لپاره داسې راښکوکونې ولولې شيندل چې هلته دمغربي حکومتونو دتېغر تولیدو باجود يې کلتوري او ذهني اغيز پاتې وي.

په همدې وجه دمغربي حکومتونو دمستشرقينو اهميت او افاديت په پوره توګه محسوس کړی دی او دهغوی مشرانو يې په کامله توګه سرپرستې کوي او بل ددې هدف لاندې په مختلفو هېوادو کې مشتشرقين داسلامي نړۍ په اړه مجلې او اوونيزې چاپوي په کومو کې چې داسلامي نړۍ دمسائلو او رجحاناتو په اړه مغرضانه تبصرې ليکې او تير ايستونکې ليکنې خپروي اوس مهال هم دشرق اوسط(journl op near east) او د اسلامي نړۍ مجله (THE MUSLIM WORLD) له امريکا نه او (LEMONDE MOSLIMANS) له فرانسې څخه خپريږي.

ددغو مهمو سياسي او ديني محرکاتو نه په قدرتي توګه داستشراق يو قوي محرک اقتصادي هم دی چې ډېرلوی شمير فاضلان يې ديوکاميابه پيشې په توګه غوره کوي لوی شمير خپريدونکي کتابونه چې د مشرقياتو او اسلامياتو په اړه ليکل کېږي په اروپا او آسيا کې لوی ماركيټ لري او په ډېره تيزۍ سره په اروپا او امريکا کې په دغو موضوعاتو کتابونه خپريږي ، ليکوالان يې له لارې زياتې پيسې ترلاسه کېږي او ورته ديوښه سوداګريز کاروبار دپرمختګ زريعه يې ګرځي.

دغو مقاصدو نه علاوه په دې کې هم هيڅ شبه نشته چې د مشرقياتو او اسلامياتو ځينې فاضلان د علمي ذوق او مسلک له مخې هم دغه مسلک غوره کوي او دې لپاره دمحنت، زيار، دماغو ولې کولو او ستونزو ګاللو څخه کار اخلي.چې له امله يې هغو ته داد نه ويل يوه اخلاقي کوتاهي او علمي نا انصافي ده!! دهغوی دکوښښونو په وجه ډېر زيات مشرقي او اسلامي علمي جواهرات دپردو نه رابهر شول، دجاهلو وارثانو او ظالموچينجيو له لاس رسي خوندي شول، داسې ګڼ ستر اسلامي مأخذونه او تاريخي وثايق شته ،چې دهغوی په محنت او همت سره په لومړي ځل چاپ شوي او په کتلو يې دمشرق دعلماوو سترګې روښانه شوې

ځېرنه: دمثال په توګه: دابن سعد طبقات ، دطبري تاريخ ، دابن اثير تاريخ کامل،دسمعاني انساب، دبلاذري فتوح البلدان، دالبيروني کتاب الهند او داسې نور په لومړي ځل په اروپا کې چاپ شوي او بيا وروسته يې ګڼ ايډيشنونه دمصر څخه هم وتلي

ددې علمي اعتراف باوجود په دې ويلو کې کوم باک نشته چې په عمومي توګه مستشرقين دعلم ځښتنانو له منځه هغه ډله ده چې دعظيم الشان قرآن، احاديثو، نبوي سيرت، اسلامي فقې داخلاقو او تصوف دپراخې مطالعې نه يې هيڅ ګټه نده پورته کړې او نه ترې دهغوی په زړونو او مغزو کې کوم ستر انقلابي اثرراغلی ددې لويه وجه داده چې نتايج تل دمقاصدو تابع وي په عمومي توګه دمستشرقينو هدف دکمزوريو لټون او بيا ددينې او سياسي موخو لاندې دهغو ځلول وي نو په دې توګه ورته ښاروالی دصفايي مدير پشان ورته صفا اوسوتره ښار هم دچټليو او خزلو ډېران ښکاري.

دمستشرقينو د کار تاثر يوازې دهغوی ترذات پورې محدود ندی، که يوازې هم دا اړخ يې وای بيا هغوی زمونږ دڅېړنې او زمونږ ددې بحث موضوع نه ول، دمسئلې زيات دروند او او بد مهالی لوری دادی چې هغوی خپل ټول کوښښونه او صلاحيتونه په معقوله او نامعقوله طريقه دهغو کمزوريو په نښه ګرځولو او په نهايتي مهيب شکل وړاندې کولو کې صرف کوي هغوی خپله په زره بين سره کتل کوي خو خپلو لوستونکوته يې په دوربين کې ښيي هغوی د اسلام(تياره تصوير) په وړاندې کولو کې له دومره هنرمندۍ، چابکۍ او صبرو سکون کار اخلي چې مثال يې نه مندل کېږي هغوی لومړی يو هدف ټاکي يوه خبره طی کوي چې دا به ثابتوي بيا دهغه مقصد لپاره هرډول يابس او رطب دلايل ددين ، تاريخ، ادب، افسانو او شاعري نه په مستند او غير مستند ډول وړاندې کوي چې دهغو نه دزرې برابر هم يو څېز دخپل مطلب سره موافق هم ترلاسه کړي که هغه هرڅومره دصحت او استناد له پلوه مجروح، مشکوک، او بې قيمت وي هغه په ډېر آب و تاب سره وړاندې کوي او دهغو مختلفو موادونه يو قالب تياروي دکوم اجتماعي وجود چې يوازې دهغوی په ذهن کې وي هغوی زياتره وخت يوه نيمګړتيا بيانوي او په مغزو کې دهغې کينولو لپاره دخپل ممدوح لسګونه خوبۍ بيانوي....

نوربيا....

د تاریخ په پاڼه

د ایوبي صلاح الدین رَحِمَهُ اللهُ جهادي ژوند او کارنامې

ظهیر

د اقصی! یو ځل بیا مسجد کول

اقصی باندې عیسایانو صلیب درولی و، سلطان صلاح الدین ایوبي رَحِمَهُ اللهُ په لاس د بیت المقدس د فتحې وروسته د اقصی نه صلیب ښکته او مسجد د ګلابو په اوبو ووینځل شو او هلته د صلیبي پوځیانو له لوري جوړشوي کورونه یې ونړول د ۵۸۳ه ق کال د شعبان په ۴مه نیټه سلطان صلاح الدین خپله په اقصی مسجد کې د جمعې لمونځ اداء کړ او بیا یې د بیت المقدس د سوبې پر ویاړ هلته روغتونونه او مدرسې جوړې کړې.

د سلطان (صلاح الدین) ستره مهرباني:

یوه پیړۍ وړاندې کله چې عیسانو بیت المقدس فتحه کړ هغوی ته هلته د مسلمانانو سره یې زیات وحشیانه سلوک وکړ او د مسلمانانو قتل عام یې وکړ، سلطان ایوبي د غچ اخستلو پر ځای اعلان وکړ چې د ۴۰ ورځو په موده کې عیسایان کولی شي له ښار ووځي، خو په دې شرط د هر سړي په سر لس دینار او د هرې ښځې په سر پنځه دینار او د هر ماشوم په سر یو دینار اداء کړي، د ډېرو عیسایانو به د چالاکۍ نه په کار اخستو د مسلمانانو کالي تنو کړل او له ښاره به ووتل د یروشلم (بیت المقدس) د ۶۰زره عیسایانو څخه ۱۶ زره مسلمانانو اسیران کړل

خو سلطان ایوبي د خپلې مهربانۍ له مخې زیاتره د فدیې اداء کولو پرته ازاد کړل تر دې پورې چې د لس زره کسانو فدیه یې له ورکړه او ازاد یې کړل.

د اقصی تاریخي منبر:

سلطان نورالدین زنګي رَحِمَهُ اللهُ بیت المقدس له فتحې دیرش کاله وړاندې اقصی مسجد لپاره د ماهرو او تجربه کارو ترکانانو په لاس یو عالي شان منبر تیار کړی و او بیا یې هغه په سلطاني خزانه کې د دې لپاره خوندي ایښی و، چې د فتحې وروسته به هغه په اقصی مسجد کې لګوي، دا چې هغه (سلطان زنګي) وفات شو او د هغه په ژوند کې د هغه دا ارمان پوره نشو، سلطان صلاح الدین ایوبي چې کله بیت المقدس فتحه کړ، له دمشق څخه هم هغه منبر راوړو د اقصی مسجد په محراب کې یې کېښود.

د یوې مهمې (بروزیه) کلا فتحه:

دبیت المقدس دفتحې وروسته سلطان صلاح الدین ایوبي شام کې دصلیبیانو نه دنورو ښارونو نیولو لپاره جهاد پیل کړ په ۱۱۸۸ز کې یې (لاذقیه) ښار فتحه کړ(Latkia)او جبله سیمې یې ونیوې او په لوی شمیر کې مسلمان بندیان یې دصلیبیانو ازاد کړل، له دې وروسته دبروزیه په نوم دیوې کلا چې ډېره مهمه او دیوغره په څوکه کې وه نیولو هوډ وکړ د ایوبي سلطان لښکر پرلپسې دوه ورځې په کلا باندې دمنجنقینو څخه دکاڼو ویشتلو بریدونه وکړل بیا هم په لومړۍ ورځ کلا فتحه نشوه، په دوه همه ورځ سلطان خپله راغی او دالله اکبر په نارې په پورته کولو یې ناڅاپه حمله وکړه او مجاهدین یې دکلا تر دیوال ورسول او لږ وروسته مجاهدین کلا ته په ننوتو بریالي شول چې په ټولو کې سلطان مخکې و، ددې زړورتیا په لیدو یې صلیبیانو مورالونه وبایلل او ټولو خپلې وسلې په ځمکه کېښودې.

اروپا کې د دریم صلیبي جنګ ترتیبات نیول:

دبیت المقدس دفتحې خبر ټوله صلیبي نړۍ ولړزوله، پوپ ګریګري هشتم په ډېر افسوس سره وویل: د ټولې مسیحي نړۍ لپاره دا یو بد زیری او د بدبختۍ پال دی! بل پلو له بیت المقدس (یروشلم) او صور (لبنان) پادریان هم اروپا ته ورغلل او هلته یې دیو نوي صلیبي جنګ لپاره په خلکو کې ولولې او جذبې پیدا کړې او دفرانسې پاچا او دانګلستان پاچا هنري دوم هم د دریم صلیبي جنګ لپاره تیار شول.

صفد جنګ:

د سلطان صلاح الدین ایوبي سوبو او بریاوو ته په کتو دانطاکیې صلیبي واکمن بوهیمنډ سولې ته غاړه کېښوده او ټول مسلمان بندیان یې ازاد کړل، ددې وروسته سلطان د شمالي فلسطین یوه بله صلیبي کلا (صفد (Zefat) کلابند کړ، دصفد خلکو دمرستې لپاره د صور (tyre) نه په پټه دصلیبیانو یو پوځي کنډک راغی لیکن پروخت مجاهدینو ته دهغوی راتګ معلوم شو ورته په کمین کې کیناستل کله چې راغلل د مجاهدینو لخوا دبرید سره مخ شول چې په نتیجه کې یې لوی شمیر صلیبیان شمیر له تیغ تیر شول ددې وروسته سلطان په صفد کلا لویه حمله وکړه او دلږ ځنډ وروسته یې فتحه کړه

صلاح الدین مالیه (ټیکس)

صلیبي شاه هنري د دریم صلیبي جنګ لپاره دپانګې ټولولو لپاره پخپلو رعایاوو باندې دصلاح الدین په نامه مالیه وټاکله، هر هغه سړي چې په صلیبي جنګ کې له ګډونه انکار کاوه، ورباندې لازمه وه چې هغه دخپلې شتمنۍ لسمه برخه به صلیبي جنګ ته ورکوې چې په دې توګه هنري اویازره پونډ ټول کړل.

په دې سربیره یې شپېته زره پونډ له یهودو نه هم ترلاسه کړل، په دغه وخت کې هنري دوهم ومړ په ځای یې رچرډ په نوم نوی پاچا په تخت کیناست، هغه (رچرډ) برتانیا کې له میشت یهودو نه دپیسو په اخستو کې له حده وتلې سختې او جبر وکړ، ددې وروسته (فلپ او رچرډ) دواړو پاچایانو په ګډه یولک صلیبي جنګیالي فلسطین ته روان کړل.

دعکا دوهمه کلابندي:

د طبریه (حطین) له جنګ وروسته صلاح الدین ساحلي ښار عکا فتحه کړی و، د ۱۱۸۹ز په اګست کې د فلسطین پخواني پاچا ګائی عکا ښار بیا کلابند کړ، په سباته صلاح الدین هم هلته ورسید او دصلیبیانو نه شاوخوا یې پړاو واچاوه، خو داچې صلیبیانو ته دسمندر په لور لار خلاصه وه او بل

دفلپ او درچرډ لښکرې هم ورته را ورسیدې او دسمندر دلارې څخه ورته مسلسل اکمالات رسیدل، په میدان او هواره صلیبیانو پراو اچولی و، او تري تاو راتاو داسلامي پوځ او صلاح الدین تور عباسي بیرغ رپاندو، دکلا دباندې ستري خونړۍ جګړې کېدې په کومو کې چې تل دمسلمانانو تلفه درنه وه او په زرګونو عیسایان پکې ووژل شول خو کلابندي نوره هم وغځیده.

دصلاح الدین لامثال فراخ دلي:

دجنګ په دوران کې دانګلستان د پاچا (رچرډ اس) تپي شو، چې پلی جګړې ته راته؛ کله چې صلاح الدین هغه ولید چې پلی روان و، نو خپل ورور ملک العادل ته یې وویل: کردي اسونه ورولیږه څو ددښمن پاچا هم په اس سپور جګړې ته راشي، دا دنړۍ په تاریخ کې د روا دارۍ یو بې جوړې مثال دی، یو انګریز شاعر دصلاح الدین ډالۍ (Saladin s Gift) په نوم نظم هم لیکلی

په عکا ښار قبضه:

په دغه دوران کې صلیبیانو له ځانو شاوخوا خندق کندلی و، بل په عکا ښار کې مسلمانانو سره خوراکي توکي هم ختم شوي وو، دمصر څخه راتلونکی کومک ونه رسید په دې وجه د۱۱۹۱ز ښاریانو وسلې په زمکه وغورځولې او صلاح الدین دیته اړ شو چې دصلیبیانو سخت شرایط او مني هغه شرایط دادي:

۱.صلیبیانو ته به دوه لکه دینار ورکوي

۲. له مشهورو مسلمانانو څخه به ۵۰۰ تنه دبندیانو په توګه صلیبیانو ته ورکوي

۳.دصلیبیانو مقدس صلیب به بیرته سپاري.

۴.ښاریان به ټولې وسلې په زمکه وغورځوي اوله ښاره دې ووزي په ددغه موده کې دفرانسې پاچا بیرته ستون شو.

دقیساریه او سوف جنګونه:

صلیبیانو دعکا نه وروسته دقیساریه په لور وخوځیدل، دقیساریه په جنګ کې صلیبیانو ماتې وخوړه دساحل په غاړو تلل دسلطان لښکر وریاندې غلچکي بریدونه کول او لوی شمیر صلیبیان یې ژوندي ونیول وړاندې دارسوف په جنګ کې رچرډ بری ترلاسه کړ، سلطان دعسقلان په ګډون دمصر پولې ته څېرمه واقع ښار ړنګ کړ څو صلیبیان وریاندې قبضه ونکړي.

دبیت المقدس کامیابه دفاع:

په ۱۱۹۲ز کې دجون په میاشت کې درچرډ لښکر د یافا (اوسنی تل ابیب داسرایل مرکز) څخه دبیت المقدس په لور پرمختګ وکړ، خو دصلیبیانو دیرغل مخنیوي لپاره یې کلک دفاعي تدابیر نیولي وو، په لاره کې یې داوبو ټول ډنډونه او کوهیان له منځه وړي وو، چې په دې سره دصلیبیانو پرمختګ په ټپه ودرید، وې نشوای کړای چې نور پرمختګ وکړي کله چې رچرډ دخپل پرمختګ څخه مایوس شو نو دیوغره سرته پورته شو هلته په داسې ځای کې ودریده چې تري بیت المقدس ښکاریده، چرډ هغه لورته دکتلو نه په دې ویلو سره انکار وکړ چې زه دغه مقدس ښار ته دکتلو قابل نه یم ځکه چې ما دمسلمانانو څخه ونشو ژغورلی.

دیروشلم سوله:

نهیلي رچرډ دیته اړشو چې سلطان ته یې دسولې وړاندیز وکړ، نو هغه و چې سلطان یې دوړاندیز قبلولو وروسته په ۱۱۹۲ز دستمبر په ۳مه درمله دسولې په نوم یې پریکړه وکړه چې له عکا څخه نیولي تریافا



پورې سیمې باندې به درچړډ وراره حکومت کوي او له عسقلان څخه
دجنوب ترساحلې سیمې پورې صلاح الدین حکومت
وي او صلیبیان به د عسقلان دیوال نړوي او
بې وسلې عیسویان به دمقدسه مقاماتو
دزیارت اجازه ولري.

په دریم صلیبي جنګ کې
عیسویانو ته اوښتي زیانونه:

درمله په تړون کې شریک حاکم بالیان اعتراف وکړ:

په دومره لوی شمیر مسیحیان
هیڅکله وړاندې ندي وژل شوي
څومره چې په دې (دریم صلیبي)
جنګ کې ووژل شول، دسمندر له لارې
شپږ لکه عیسویان راغلي وو، تړول هلته
له منځه ویوړل شول او لوی شمیر په سمندر
کې ډوب شول

ددینه وروسته رچرډ ناکام له عکا څخه اروپا ته
روان شو.

په دمشق کې دصلاح الدین ایوبي تود هرکلی:

دبیت المقدس په دفاع کې دسلطان برې دسلطان لویه کارنامه وه، له
عیسویانو نه دازادولو وروسته یې ددفاع لپاره مهم ګامونه پورته کړل
،یوه ښه لویه مدرسه یې جوړه کړه، ښه مجهز روغتون یې جوړ کړ ،ددې
وروسته په ۱۱۹۲ زکې نومبر میاشت کې سلطان بیرته دمشق ته راغی
خلکو یې ښه هرکلی وکړ

دصلاح الدین ایوبي وفات:

سلطان په دمشق کې و، چې ورته د ۱۱۹۳ زکال په فروري کې ناروغي
پیښه شوه او د څوارلس ورځېنی ناروغۍ وروسته د ۵۵ کلو په عمر
داسلام او مسلمانانو لوی سلطان ، مجاهد او اتل قهرمان سلطان صلاح
الدین ایوبي رَحِمَهُ اللَّهُ له نړۍ څخه رحلت وکړ او په دمشق کې د بنو امیه
وو مسجد څنګ ته دفن کړای شو، دهغه دمشر ځوی په برخه په دمشق
واکمني شوه، دوهم ځوی ته یې په
برخه حلب ورغی، دریم ته مصر، او
عراق دهغه د ورور ملک العادل په
برخه شو چاچې وروسته ایوبي
سلطنت سره اومتحد یو کړ او
د صلیبیانو په خلاف یې
جهادته دوام ورکړ.

دسلطان ایوبي رَحِمَهُ اللَّهُ اوصاف:

صلاح الدین زړه
سواند، له الله تعالی زیات
ډاریدونکی او د لویې
حوصلې څښتن واکمن و،
هغه دځان لپاره کوم مال او
دولت نه و جمع کړی او دخپل
سلطنت په عیسایي رعایاوو هم
مهربان او ساتونکی یې او وبل
سلطان به همیش قیدیان له قیده
خلاصول او ورباندې مهربان وو هم
یې ورته انعامات او ډالۍ ورکولې ،
دعلماوو زیات قدردان وو اودنویو
ودانیو جوړولو شوقي وو ګڼو
اروپایي لیکوالانو لکه (اسکاټ او
لیسنګ) ناول لیکونکو پخپلو
لیکنو کې په زیات احترام سره
سلطان یاد کړ او ورته یې له درناوي
څخه ډکې پیرزوینې وړاندې کړې
پای ....

ټرمپ او د نړۍ اندېښنې!

حسن مومند

دروان ۲۰۱۷م کال دجنورۍ په ۲۰ مې نېټې ډونالډټرمپ دامریکا د۴۵م ولسمشرپه صفت سوګند پورته کړ ؛ دامریکا دسترې محکمې رئیس جان رابرټس ټرمپ ته سوګند ورکړاوهغه یواځې د۳۵لفظونوپه اداکولود امریکا۴۵م قانوني منتخب ولسمشر وګرځېد اوپدې مادي نړۍ کې دامریکا په نوم دنړۍ دترټولوستر،ځواکمن ،پرمختللي اوبډای هېوادټول واک اختیاریې لاس ته پرېوت .

دامریکا ددود دستورسره سم دولسمشردسوګندپورته کولودمراسم ښه درانده وو؛ پکې لویه ګڼه ګوڼه وه ؛دپخوانوولسمشرانوپه شمول پکې پخوانو او اوسنو کابو ټولودولتي مشرانو،سیاستوالو،دمدني ټولنو نماینده‌ګانو اودمطبوعاتي اداروګڼواستازوګډون کړی و اوغونډه دجوش اوجزبونه ډکه ښکارېده خو دامریکا په تاریخ کې په لومړي ځل داسې وشول چې دسوګند پورته کولودمراسموسره سم دسپینې ماڼۍ مخې ته په سونوزره خلک راټول شوي اودنوي منتخب شوي ولسمشرداستعفا غوښتنه کړې وې.

دغلامۍ دزمانې نه پس په ړومبي ځل دامریکاولس ددومره لوی ویش سره مخامخ شو اوویش هم داسې چې په سپینې ماڼۍ کې دولسمشردسوګندپورته کولو مراسم روان وي اوبېرون ترې دهمدې نوي ولسمشرـ پرضدپه سونوزره خلک راټول شوي وي اوواېې چې ته زموږ ولسمشرنه یې .

دسوګند پورته کولودمراسموپه سبا بیا دسپینې ماڼۍ په څنګ کې په اندېپېنډېنټ ایونیوکې ستره مظاهره رامنځته شوه چې پکې د۲سوه نه زیاتومسلمانواوتامسلمانو مېرمنو، ګډون کړی و اوبیا دهمدې مظاهرې سره دخپل غږ یوځای کولوپه موخه دامریکا په ۴۰۸ نورو ښارونواوقریواودنړۍ د۸۱ هېوادونوپه ۱٦۸ځایونو کې هم همداسې مظاهرې وشوې .

دسوګندپه ورځ په واشنګټن ډي سي کې چې مظاهرچیانوسپینې ماڼۍ ته تللې لارې وتړلې اوپولیسویې دخلاصولوهڅې وکړې نواحتجاج دتشددشکل غوره کړچې له امله یې دپولیسواولاریون کونکوترمنځ اخ وډب هم رامنځته شو؛پولیسو دلاریون کونکوپرضد له اوښکې بهونکي غاز نه کار واخست چې په مقابل کې یې لاریون کونکوپه پولیسوډبروګوزارونه وکړل ؛ دګوا!ټرمپ ګوا! نارې یې پورته کړې ؛دزیاتواباديوشیشې یې ماتې کړې ګڼوموټروته یې اور واچولوچې ورسره دسپینې ماڼۍ نه بېرون فضاډېره خرابه شوه .

دانتخاباتي کمپاین پرمهال چې ټرمپ لویې دعوې او خوشالونکې وعدې کولې اودامریکاپه سیاست کې

دلويو بدلونونوراوستلوزړه راښکونکي اعلانونه يې کول نو دبرياليتوب نه پس اودسوګند پورته کولونه وړاندې فکرداکېدلوچې دابه دانتخاباتي کمپاين برخه وه اوچې کله ټرمپ صيب سوګندپورته اودامريکا په څېردلوی هېواد د ولسمشرۍ سترمسئوليت يې په غاړه شي نوديوژمن ولسمشر-په څېربه مسئولانه دريځ خپل کړي ؛دامريکا تقسيم شوی ولس به يوکړي اوپه مثبت لوربه دهېواداونړۍ دسياست روانولوهڅې وکړي خو ټرمپ دسوګندپورته کولونه پس په خپلې ړومبۍ وينا کې داهيلې دخاوروسره خاورې کړې. او بيايې دخپلې کابينې لپاره دغړوپه انتخاب اود ړومبو۱۰ ورځواپه قداماتو هغه دتشويش نه ډک حالت رامنځته کړچې حالاتوته په جورنظرليدونکي يې دراتلونکی تباهۍ اوبربادۍ دسونامي پيلامه ګڼي .

ټرمپ بيخي لکه دانقلابي فاتح ليډرپه څېر يواځې په لسو ړومبنو ورځوکې ۱۷ فرمانونه صادرکړل چې ړومبی پکې امريکاته د۷ اسلامي هېوادونوايران ،عراق ، شام ، سوډان ، صوماليه ،ليبيا اويمن په اتباعواامريکاته دراا تللوبنديز و.

ټرمپ چې دانتخاباتي کمپاين پرمهال دمتعصبوسپين پوستو امريکايانو سره کومې وعدې کړې وې دپوره کولوهڅې يې دهماغې اولې ورځې نه پيل کړيدي ؛ هغه ښه په جرأت وايي : دخپل ولس سره مې چې کومې وعدې کړيدي ټولې به يوپه بل پسې پوره کوم.

رښتياهم چې څه يې ويلي وهماغسې کوي ؛ ټرمپ به دانتخاباتي کمپاين پرمهال ويل :ترټولوړومبی امريکا،، او پدې خبرې به يې ډېرزور راوړچې ددولت ټوله پاملرنه بايدخپل هېواداوخپل ولس ته وي اودامريکا ټول وسايل بايددامريکا دپرمختګ اودامريکايانودژوند ښه کولولپاره په کارواچول شي .

هغه داهم ويلي وچې دامريکا پولې به دهغه چاپه وړاندې وتړلی شي چې امريکايان ندي ،مورنه خوښوي ،زموږسره له زړه نه مينه نه کوي اوامريکاته دراتللوکوښښ کوي . دابه يې هم ويل چې دمهاجرينودناقانونه راداخلېدلو دمخنيوي لپاره به دمکسيکوسره په پوله دېوال جوړکړي .

دولسمشرکېدونه پس يې دايوه خبره هم هېره نکړه ؛دخپل ولس سره يې چې کومې وعدې کړيدي دهغې ټولوپوره کولوته ژمن دی خوچې په امريکا کې يې مسلمانان هيڅ په زړه نه ځايږي ؛امريکا ته دمسلمانانودراتلومخنيوي اودمسلمانانونه دامريکا خالي کول دده دزړه ارمان او دده لپاره ترټولومهم و نو اول فرمان يې همدا وچې د۷ اسلامي هېوادونو خلک به امريکا ته نه راداخلېږي او سمدستي يې بيا دمکسيکو سره په پوله ددېوال جوړولو اوخاردار سيم غزولوخبرې هم پيل کړې.

همداراز ټرمپ به چې دانتخاباتي کمپاين پرمهال ويل چې ترټولوړومبی امريکا نوخپله داخبره يې هم هېره نکړه اوپه خپلې ړومبنۍ ويناکې يې په همدې خبرې ډېرزور راوړچې ددولت ټوله پاملرنه بايدخپل هېواداوخپل ولس ته وي اودامريکا ټول وسايل بايددامريکا دپرمختګ اودامريکايانودژوند ښه کولو لپاره په کارواچول شي .

هغه دامريکاپه تګلاره سخت انتقادوکړ اوښه په رواښانوټکويې وويل چې امريکا دنورو خلکو دامنيت او پرمختګ لپاره په سونومليارده ډالر لګولي دي چې له امله يې دامريکا دولتي ادارو،تعليمي ادارو دامريکا صنعت اودامريکا کارخانوته سخت لوی زيانونه ورواوښتل .

هغه ښه په زغرده داوويل چې دډېرې اوږدې مودې راهيسې زموږپه پلازمېنې کې يواځې يوې کوچنۍ ډلې ددولت دوسايلونه ګټې پورته کولې خوزوربه يې ټول دولس نه و تلو.

که دټرمپ دي خبروته غور وشي نوحقیقت دادی چې هغه نه یواځې داچې دامریکااصلي څېره اوحالت یې نړۍ ته ښکاره کړبلکې دامریکادتګلارې پرضدیې دجنګ اعلان هم وکړ اوضمناً یې پدې اعتراف کړی چې ټوله نړۍ دخپلوګټوتابع کول اوپه ټولې نړۍ دامریکادواک راوستلوامریکایي تګلاره هغه ناکامه تګلاره وه چې دګټوپه پرتله یې امریکاته تاوانونه زیات اړولي دي نوبایدچې په ټولې نړۍ دقبضې خوبونه پرېښودل شي اودتل لپاره داتګلاره دفن کړای شي .

ټرمپ دګونتناموزندان دبیاډکولوخبره کړېده او ویلي یې دي چې دازندان به دبدماشانواوبدوخلکونه ډکوم . ټرمپ دسوګنددورځې په مراسموکې داسلام اومسلمانانو پرضدډېره ناوړه لهجه وکاروله او ویې ویل چې موږبه اسلامي تروریزم دنړۍ له مخه ورک کړو، طبعي ده چې دټرمپ دې داسلام اومسلمان دښمنۍ نه ډکه ناوړه اودډیپلوماسۍ خلاف لهجې نه یواځې په امریکا کې بلکې دټولې نړۍ په ګوډګوډ کې مېشت مسلمانان سخت دردولي اوغصه کړېدي خوداغم اوغصه یواځې ترمسلمانانومحدوده نده بلکې دجرمنیانو؛ فرانسویانو برتانویانو اوکاناډایانو په شمول دامریکا دټولو اتحادیانو لپاره دټرمپ داڅرګندونې دسختې پرېشانۍ سبب شویدي ؛ دوئ پدې پوهېږي چې ددوئ داتحاد دمشرهېواد دولسمشر داڅرګندونې د۱۱ستمبر د پېښې نه پس دجارج ډبلیوبش دصلیبي جنګ د اعلان نه کمې ندي ؛ دبش څرګندونوچې دنړۍ دمسلمانانوغصه سخته راپارولې وه اوددوئ پرضدپه افغانستان اوعراق کې دجهاد دتقویې سبب شوی ودټرمپ اوسنۍ څرګندونې به هم نه یواځې دامریکایانو بلکې دټولولویدیځوالو پرضددمسلمانانو کرکې اوغصې کې زیاتوالی راولي اومسلمان ځوانان به جهاد ته لا زیات تشویق کړي چې دټول صلیبي اتحادلپاره دا د ډېر لوی تشویش خبره ده .

هو! مسلمانان خومسلمانان دي دنوروقومونوپه مقابل کې دتشددنه ډکه قوم پرستي اوتعصب هم هغه قوم شاتګ ته نه مجبوروي بلکې سخت جارحانه غبرګون ته یې اړباسي چې انساني تاریخ ددې لوی شاهددی خوارمان چې څوک عبرت نه اخلي .

داسلامي تروریزم اواسلامي سخت دریزۍ دناړې په پورته کولو ټرمپ دټولې اسلامي نړۍ اوپه ځانګړې ډول دمنځنې ختیځ سره که دښمنۍ اعلان نکړه نولږترلږه خپل پردیتوب خویې ورته ورښکاره کړ.

ده ثابته کړه چې لا هم په ټولې لویدیځې نړۍ کې په ټولیزه توګه اوپه امریکاکې په ځانګړې ډول درنګ اونسل اومذهب پربنسټ تعصب شتون لري؛ تور پوستي اوسپین پوستي یوشان ندي اونه دامریکا مسلمان ته هغه مقام حاصل دی کوم چې نامسلمان لري.

ده دامریکاهراوسېدونکي ته داپیغام ورکړ چې که ته سپین رنګ ،شنې سترګې اوزیږ ویښتان ونه لرې که پدې هېوادکې ته هرڅومره پخوانی یې ،خدمتونه که دې څه هم زیات وي تاته به ددې هېواد داصل اوسېدونکي په نظرنه کتل کېږي ؛نه به تاته ددې هېواداصل اوسېدونکي خپل ورور ووایې اونه به دې دخپل ځان سره برابرکړي .

دایې هم نړۍ ته وښووله چې امریکا دچا دوست کېدای نشي ؛ دوستي یواځې دخلکونه دکار اخستلو لپاره وي اوکله یې چې هدف پوره شي نوبیا خامخاخپل لاسپوڅي له شانه په لغته وهي .

ده داثابته کړه چې دانصاف ،انساني مساوات ،دبشر حقوقو داناړې دحقیقت نه ډېرې لرې خودخپل هدف دترلاسه کولولپاره یوه ښه لار ده .

ډونلټ ټرمپ په ډېرې لږې موده کې دامریکادلاسپوڅو خدمتګارانو حیثیت اومقام هغوئ ته

وروښود؛ داسلامي نړۍ هغه حاکمان چې دامریکاپه دوستۍ به یې فخرکاوه اودخپلوهېوادونونه یې زیات دامریکاخدمت کړی اودامریکادګټولپاره یې دخپلو هېوادونوټولې ګټې ترپښولاندې کړیدي ورته یې روښانه کړه چې ستاسومثال دهغه دسمال دی چې پرې لاس پاک شي اوبیا دتل لپاره وغورځول شي .

رښتیاچې ټرمپ دامریکا اصل څېره نړۍ ته ښکاره کړه ؛ داسمه ده چې په امریکاکې دټرمپ داسلام ضدتګلارې مخالفین شته ؛ خلکودټرمپ ددې تګلارې اواعلانونو پرضدلاریونونه هم کړیدي ؛ دامریکاخلورواییالتونو دټرمپ دصدارتي فرمان پرضدستري محکمې ته رجوع هم کړیده اوعدلي صدارتي فرمان لغوه اعلان کړیدی خوهمدا اوس هم دامریکا ۴۹ سلنې وګړودټرمپ داسلام ضد تګلارې نه خپل حمایت ښکاره کړیدی.

ټرمپ ته چې خلک جاهل متعصب وایې نودا خبره بېخي پرځای ده ؛ دامریکارسمي ژبه انګلیسي ده خواوباما به په نورولکه فرانسوي ، هسپانوي اوالماني ژبوهم خبرې کولې خوټرمپ دتعصب هغه حدته رسېدلی چې له انګلیسي پرته په بلې ژبې خبروکولوباندې هم خفه کېږي ؛ دده ګوندیومهم غړي اودامریکا پخواني ولسمشربش چې کله دخپلې مېرمنې په مورنۍ ژبې هسپانوي خبرې کړی وې نوټرمپ پرې خپل خفګان ښکاره کړی او ویلي یې وچې زموږ هېوادکې هسپانوي نه بلکې انګلیسي ویل کېږي . ټرمپ ته به شاید دامعلومه نه وه چې په هېوادکې یې ۳۸ ملیونه هسپانویان ژوند کوي ؛ دلته داسې دوه خورامقبول تلویزوني چینلونه دي چې په هسپانوي ژبې خپل نشرات کوي اوپه ښوونځیواوپوهنتونونوکې هم هسپانوي لوستل کېږي .

رښتیا داده چې دادټرمپ دجهل اوبې سوادۍ ډېره لویه نښه ده .

ټرمپ به دخپل واک په راتلونکوڅلوروکلنوکې امریکاکې نه یواځې مسلمانانوته بلکې دآسیااوافریقانه ورغلوټولوهغوانسانانوته چې خپل وطنونه اوخپل ولسونه یې هېر کړي اواستعدادونه یې دامریکالپاره کاربرې خپل وطنونه او ولسونه وریادکړي اوټول به دا ومني چې مورلویه تېروتنه کړې چې خپل هرڅه موهېرکړي وو اوخپل راتلونکی مودامریکاسره تړلی و.

اسلامي نړۍ ته به دامریکانه ګڼ شمېر پوه خلک راشي اوهم به دمسلمانانو زیاتې پیسې دامریکانه اسلامي نړۍ ته را انتقال شي .

په راتلونکو۴ کلونوکې داسلامي نړۍ ضدتګلاره به یوبل ته داسلامي هېوادونودنېږدې کېدلواودخپلمنځي اختلافاتو اودښمنیو دله منځه وړلوپه لارکې هم ډېرلوی رول اداکړي .

دامریکایې ټولنې اصل ځواک ددې ټولنې تنوع ده ؛ دټولې نړۍ نه راغلولوړوذهانتونوداهېوادلوی ګرځولی دی ؛ ددې تنوع ساتونکی شی پدې ټولنې کې بشریت ته احترام اوانساني مساوات وچې دغلامۍ ددورنه پس یې تریوحده دلته شتون درلود؛ اوس چې ددې هېواد نه دانساني مساوات اوبشریت ته داحترام عنصربیخي له منځه تلونکی دی امریکا به هم پاتې نه شي نوډېرشنونکي چې وایې ټرمپ به دامریکا ګورباچوف شي داخبره یې بې ځایه نده ؛ ټرمپ امریکایانوته داسې احساس ورکړچې ګینې یواځې دسپینو څرمنو،زیږو وینښتانو اوشنو سترګو لرونکي وګړي امریکایان دي اوبل هیڅوک ددې حق نه لري چې ځانونه امریکایان وګڼي ؛ ددې فکرپه خپرولو ده ډېرخطرناک اوربل کړ؛ دا اوربه ډېرژرټوله امریکا ونیسي. اوهمدې سره به امریکاټوټه ټوټه شي اودتل لپاره به یې له شرنه نړۍ خوندي شي . ان شاءالله تعالی .

دکابل درواغجن چارواکي!!

(جـــرس)

یووخت چې کابل کې (۳۱۷۱-۱۳۷۵ل)کلونه وواو دتنظیمونو داخلي خونړي جنګونه ښه په اوج موج کې روان اودلمبو تپ یې څوریدلی او دخدای ج اسرې ته ناست ولس دنهیلی دحرارت لوګوته ودرولی وو،نودجمعیت اسلامي او حـزب اسـلامي وینـدویانو(عزیز مـراد او قریـب الـرحمن سعید)دحزب وحدت اواتحاد اسلامي دهغې په شان چې تـل به یې دخپلو ګوندي وسله والوخونړي بریدونه توجیه کول او دنړیوالو رسنیوله لارې به یې په ژبغړانده لهجـه ګرمـې ګرمې مرکې کولې ،په حقایقوبه یې سترګې پټولې او دخپلـو جنګ سالارنومظالم او پر ولسي خلکوهره نوعه تجاوزات ،(رقص مرده ،دقرت او کرت په ویلوسره دبل قوم ځوانان وژل،انساني سپي بانـدې دلارویـانوداړل ،کابـل ښـار کـې دلـه ایزقتلونـه ،دکابلیانودناموسونو لوټـل او آن دخراسـان جدیـددهوادارانو وحشتناکې کړنې)به یې تکذیبولې او دخپلو تنظیمي وسله والو پـه بشرـي جنایاتواوتیریوبـه یـې پـرده اچولـه، نوځکـه یـې دافغانانوترمنځ په درواغجنو شهرت موندلی وواوچابه یـې په سپیناوي او مرکو چندان باور نه کاوه ،خوهلتـه چـې مرکـزي حکومت نه واو نه یې په اوړو خـارجي پوځیانودباور لاسونه ایښي وو، بلکې دځانځانۍ طاغوت پرې مسلط شوی وو،نو یې دواکمنۍ دساتلو یـا ګټلوپاره دوینـو کمپاین یاسیالي کوله ،اوس چې دکابل اوسني واکمنان ځانونـه قـانوني حکومتـوال بـولي ،هیـواد پـه اصـطلاح داساسـي قـانون او مـلي پـوځ لـه نعمتونو بهرمن او ځان دسیمه ایزو هیوادونوسـیالان اورقیبـان بولي اوهم (۴۸)هیوادیز ښکرور پوځ یې ننګې ته شـام مـدام ولاړ دی، نوددومره بنیادونواواصولیتونو!!سربیره بیا هـم ددې حکومـت دوالیـانو،دوزارتونو دوینـدویانواونورو سـیاسي او پوځي چارواکیو په خولودروغ راوتـل ،لـه ارګ نـه بې بنسټه فرمان صادرول اودافغان ولس او نړیوالوپه وړاندې له کـذب نه ډکه خیالي ادعی یا بې بنسټه خبري کنفرانس ،پـه نفسـیاتي او سایکالوژیک لحاظ ډیره دشرم اورسوایي خبره وي او همدا دروغ وي، چـې دیـوه شـخص ، اداري یـا حکومـت نړیـوال پرستیژ ته زلزلې ته ورتـه جټکـه ورکـوي اومشرـوعیت یـې پـه سیند لاهو کوي .

لکه په یوه حدیث شریف کې چې راځـي (مـن عـرف بالکـذب فصـدقه یکـون کـذباً)څـوک چـې یـو ځـل پـه دروغومشهور شو ،نورښتیایي هم بیا (دخلکوپـه عقیـده)دروغ وي .لکه څنګه چې ددې حـدیث نـه هـم څرګنـده شـوه ،پـه دروغو شهرتمندشخص یا اداره خپل اعتبـار او مقام بـایلې او څوک یې بیا په رشتیاووهم باورنه کوي ،دکابل چارواکې چې ځانونه دټولنې مهذب او سپیڅلې یا تکنوکراتان پیژني، خوبیا هم ددوئ له خولونه داسې ښکرور دروغ وتـل، چـې ولسـونو ته یې معکوس حقیقت دلمر پـه شان ښکاره او معلـوم وي، دمنل شویو حقـایقو لـه چـورلټې مسخې سره مـترادف ده او داکاردصدق اجحاف یا استیصال کوي .

امریکایـان او دناتودپکـت ګـڼ هیـوادیز عسـکر،خوله قدیم نه په دروغو بلد اوددوئ دحکومتونواو هیوادونو بنسټونه او بنیادونه په دروغو ایښي دي ،دوئ چې یا له یهـودي یـا لـه نصراني تحریف شوي دین نه چینه اخلي او دمتحـرف شـوي او منسوخ شوي دین پیروي کوي، نو کـه دروغ ووایـې بـاک نلري او نه ددوئ ددیموکراسی له اصولو سره پـه تصـادم کـې ده ،ځکه دوئ دهمدې مکتب پیروان دي اودخلکودمغالطې لپاره دروغ دوئ ته کـوم جـرم نـه بلکـې سیاسـت ښـکاري ، امریکایان که کندز کې روغتون بمبارد کـړي او بیـا پـه کاذبـه لهجه ووایې، چې دا وژل شـوي (شـهیدان)طالبـان وو، بـاک

نلـري ،کـه پـه هلمنـد او ننګرهارياکنـدهار کـې پـه ودونو،کورنواوجوماتونوبمبار وکړي ،ښځې ،ماشومان او سپين ږيـرې يکـې شـهيدان کـړي او بيـا پـرې نـوم کيـږي ،چـې دهشتګروو، باک نلري، څکه هغوئ دهمدې لپاره راغلې، چې دمسلمانانونسل کشي وکړي اوافغانان په ډله ايزشکل قتل کړي، خو چې يا يې دکابل داداري عسکرشهيدان کړي اوبيا تري منکر شي او يادا‌چې امريکايان سيمه ايز کورونه او ولسي- ميشت ځايونه بمبارد کړي او بيا دکابل داداري کوم والي يا ولسوال داشغالګرو داظلم اودبې ګناه انسانانو وژنه تکذيب کړي او ددومره لوړمقام او منصب سربيره ووايي : چې وژل شوي ښځې ،ماشومان او بې ګناه خلک نه ،بلکې ترهګروو ،داپداسې حال کې چې خارجيان (يوناما) يې ولسي- وګړي اعلان کړي، نو دوئ بيا دبادارانو په پيروۍ ووايي چې هو هغـه شـهيدان ولسي- وګـړي وو،نـو دا بيـا دکابـل داداري دچاروا‌کيو لپاره ډيره رسوايي او دبين المللي شرم او خجالت نه ډکه خبره وي .

دې وروستيو کې دهلمند ولايت دسنګين ولسوالۍ کې امريکايانوپه يوه بمبارد کې لسګونه کسه ښځې ،ماشومان او بيګناه خلک شهيدان کړل ،چې کله خبره مطبوعاتو ته ورسيده، نو دهلمند والي ترې کلک انکار وکړاو ويې ويل چې داټول ترهګر وو،بيا وروسته چې خارجيانو دبې ګناه خلکو شهادت تصديق کړ، دې هم ومانه ، نړيوالو رسنيو خبر ورکړ، چې د هلمند ولايت مقام چې د سنګين په بمبار کې يې ټول وژل شوي کسان «وسلوال مخالفين» ګڼل، د يوناما تر راپور وروسته اعتراف وکړ، چې په قربانيانو کې ښځې او ماشومان هم شته.

امريکايي ځواکونو د هلمند په سنګين ولسوالۍ کې دجمعې په شپه د ملکي خلکو په ميشت ځايونو درنه بمباري وکړه، چې د کورونو او مسجد پر نړولو سربېره يې ۲۶ افغانان ووژل او ۵ يې ټپيان کړل.

هغه مهال د هلمند والي حيات الله حيات د پېښې په اړه تر يوې ورځنۍ چوپتيا وروسته د ملکي خلکو مرګ ژوبله په کلکو ټکو رد کړه او زياته يې کړه چې په بمبار کې د بهرنيو ځنګياليو ترځنګ ۸ طالب قومندانان وژل شوي.

دغه راز د هلمند ولايت د رسنيو دفتر څخه په خپرې شوي اعلاميه کې د سنګين د ملکي تلفاتو هغه انځورونه هم جعلي بلل شوي وو، چې په ټولنيزو رسنيو کې خپاره شوي وو.

خـو وروسـته پـه افغانسـتان کـې د ملګـرو ملتونـو مرستندويه اداري (يوناما) پـه يـاد هـوايي بريـد کـې د ولسي- خلکو مرګ ژوبله تاييد کړه او ويې ويل چې په بمبار کې لږ تر لږه ۱۸ ښځې او ماشومان وژل شوي.

د يوناما تر تاييد وروسته د هلمند ولايت مقام د ملکي تلفاتو په اړه تازه څرګندونې کړي. د هلمند والي ويانډ «عمر ځواک» پژواک خبري اژانس ته اعتراف کړی چې په بمبار کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ولسي خلکو ته مرګ ژوبله اوښتې...

کله چې واکمنان دروغجن شول اوله ښځو او ماشومانو نه يې دهشتګرجوړ کړل، نو څوک به داسې راپيدا شي، چې ددې بيچاره ولس لـه اوښـلنو سـترګو اوښکې پـاکې کـړي او ددوئ په ټپي بدن باندې دملهم پټۍ کيږدي ،داسې به کومه ګونه وي، چې دهلمند ددې شهيدو ښځو او معصومو ماشومانو قاتلان له ګريبانه ونيسي او دمحاکمې ميز ته يې راکش کړي ،دخلکو خو واکمنوته تمه کيږي او خپلې هيلې يې ورسره تړلې وي ،خو چې چارواکې خپل ولس ته غله شي ،نودا بيچاره ولس به خپله عريضه چاته وکړي او دکوم احمدشاه ابدالي ،سلطان محمود غزنوي ، ميرويس نيکه او ددې عصر- مشفق مرحوم مشر ملا محمد عمر مجاهد رح اروا ته به دمنت لاسونه وغځوي څوېې ددې شريرواو خونکارانو نه خلاص کړي !!!

(شاهد)

جنرال نیکلسن:

بهرني ځواکونه په افغانستان کې بند پاتې دي!

دیرغلګروعسکرودضعف او دمجاهدینو په وړاندې یې نه پرمختګ هغه حقیقت دی، چې بالاخره پرې افغانستان کې دیرغلګروعسکرو امریکایي قوماندان (جنرال نیکلسن) هم ډاګیزاعتراف وکړ،ددې سره سره چې هیڅکله نه امریکایي او ددوئ مؤتلف هیوادونه غواړي، چې دخپلې ماتې او شاته تګ رازونه یې ښکاره شي، خو بیا هم کله ناکله دوئ حقایقومنلوته اړایستل شي ،(بهرني ځواکونه په افغانستان کې بند پاتي دي ،نه مخکې تللای شي او نه شاته ..)هغه جملې دي،چې جنرال نیکلسن دامریکاولسي- جرګې استماعیه غونډې ته اظهارکړي او نور یې ونکړای شو، چې له خپلو ولسي استازو نه دخپلو عسکرو ماتې پټه کړي .

نړیوالو رسنیو خبر ورکړ،چې دې وروستیو کې نوموړي جنرال چې خپل هیوادته تللی ،دا څرګندې کړي .

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو عمومي قومندان جنرال جان نیکلسن ویلي چې امریکایي او ناټو ځواکونه په افغانستان کې په داسې بنده کوځه کې راګیر دي نه وړاندې تلی شي او نه وروسته راتلی شي.

نوموړي دا څرګندونې دې اواخرو د امریکا د سنا مجلس غړو ته په خپلو خبرو کې وکړې.

جنرال نیکلسن د امریکا د سنا مجلس د نظامي کمیټې مشر (جان مکین) د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا امریکایانو د افغانستان جګړه ګټلې که بایلې، وویل: «زه باور لرم چې امریکا او ناټو په افغانستان کې داسې وضعیت کې دي ،چې نه جګړه ګټلی شي او نه یې پرېښودلی شي.«

د جنرال نیکلسن په باور له دغه حالته د وتلو بوازینۍ لار دا ده، چې په افغان ځواکونو پانګونه وشي ترڅو د جګړې مسئولیت په خپله غاړه واخلي.

امریکایي سناتور له نوموړي څخه وپوښتل، چې ایا ته له دې خبرې سره موافق یې چې طالبانو په تېر کال کې لا پرمختګ کړی او د وړم کال په پرتله یې د هیواد ۱۵٪ نوره خاوره هم تر خپل واک لاندې راوستې؟ امریکایي جنرال یې په ځواب کې وویل چې «هو زه ورسره موافق یم.«

جنرال نیکلسن زیاته کړه ،چې په افغانستان کې د عسکرو له کمبود سره مخ دي او یو څو زره نورو اضافه عسکرو ته اړتیا لري، ترڅو افغان عسکر ښه وروزي او ښې لارښوونې ورته وکړي.

دامریکایي جنرال ناپوښل شوي سپینې خبرې دشناندواو څیړونکیودهغې وړاندوینې تاییداو تصدیق کوي، چې په (۲۰۰۱ز) کال کې یې دامریکایي یرغل پر مهال دوئ ته کړې وې ددې یرغل ګوتځنډنه یې ورته کړې وه او ورته یې ویلې وو،چې پرافغانستان دیرغل اشتباه مه تکراروئ او مه په دغه هیواد پوځي تیری کوئ ،ځکه تاریخونه ددې شاهد دي ، چې چا په افغانستان یرغل کړی، نو ښتن تعالی مات کړي او پایله کې فتحه دافغانانو په برخه شوي ،دې هیواد کې داسې ولس اوسیږي ،چې هم پر اسلام میینان او هم پر خپله خاوره دسرونو نذرانې ورکوي ،ددې قام مزاج دادی، چې اشغالګرخپله خاوره کې نه پریږدي او نه ورته داوسیدلو اجازه ورکوي ،څیړونکیودوئ ته دانګریزانوسره درې ځلې یرغلیزې جګړې او بالاخره دانګریزانو درسوایې اوماتې

داستانونه ،بیا دې تیره میلادي پیړۍ کې دروسانو مفتضحانه ماتې اوپه (۱۳۶۷ل)کال ددلوې په(۲۶)مه ددوئ عسکرورسوا اخراج هغه څه وو، چې د(۲۰۰۰)مې پیړۍ یرغلگربایدترې عبرت واخلي او هسې نه چې دروسانواو پیرنگیانوپه برخلیک اخته شي ،خو ددې ټولوورانـدوینواو انتباهاتو سره سره سرتمبه امریکایانو او ددوئ مؤتلفو هیوادونوپر افغانستان تجاوزوکړ، چې دادی اوس یې سرنوشت نا څرگنداو نه پوهیږې ،چې دبري پر لور به ځي او که دماتې خواته به راگرځي .

له ښه بخته چې دادی پخپله هیواد کې دامریکا یي عسکرو قوماندان جنرال نیکلسن پخپله پرخپله ماتې اعتراف وکړاودا گردې وړاندوینې یې صحیح ثابتې کړې ،ددې سربیره چې دغرب درواغجنه میډیا اوس هم دلویدیځوالودبرې نغارې وهي اودخلکو دغولونې لپاره پرپاگند کوي، خو هغه چې امریکایي جنرال ومنل، هغه ددې تبلیغاتوپه ځواب کې بسنه کوي .

ددې نه مخکې دامریکامخکني ولسمشر(بارک اوباما)دفلوریډا آیالت په هوایي میدان کې امنیتي چارواکیو ته په خپله وروستۍ وینا کې پدې اعتراف کړی وو،چې امریکا طالبان نشي ماتولای اونه یې له منځه وړلای شي (د امریکایي رسنیو د راپور له مخې، ښاغلي اوباما د متحدو ایالتونو د اعلي سرقوماندان په توگه د ملي امنیت په اړه په خپله وروستۍ وینا کې وویل«د امریکا له هلوځلو سره سره په دغه جنگ ځپلي هیواد کې حالات لا هم بې ثباته دي. نه غواړم چې گلورین تصویر وړاندې کړم، د افغانستان حالات لا هم سخت دي. له څه باندې(۳۰)کلونو راهیسې جگړه د افغانستان د خلکو د ژوند برخه ده. امریکا په دغه هیواد کې طالبان یا جگړه له منځه نه شي وړلی..... اوباما، چې د فلوریډا ایالت په مک دیل هوایي ځواک اډه کې خبرې کولې، همداراز وویل«خو څه چې موږ کولی شو، هغه د القاعده د پناهځایونو له منځه وړل او د هغو افغانانو ملاتړ دی، چې ښه راتلونکې غواړي، له همدې کبله موږ نه یوازې له خپل پوځ سره په دې کار کړی بلکې په کابل کې مو د ملي یووالي د حکومت ملاتړ هم کړی دی...)

دامریکایي چارواکیو پرله پسې او په خپله ماتې ډانگ پیېلې اعترافات داپه ډاگه کوي، چې نوره دامریکایانوپښه خوییدلې اوپښه یې په چړ نه لگي،نور ددې وس نلري ،چې دمجاهدینو مقابله وکړي اودیوې اوږدې جگړې دردونه اوستونزې وزغمي، نوځکه یې پوځي اوسیاسي مشران خپل ولس اوپالیسي- جوړونکیوچارواکیوته گوتڅڼدنه کوي او دخپل ضعف او ماتې داظهارکولودزهرو گوټکوي ،کنه هرې داسې خبرې ته یې دمیډیا ژبغړاندې نطاقان دشرم پرتوگ اغوندې اوکوشش کوي آن دداسې چارواکیوخبرې توجیه کړي اواصل مفهوم یې تحریف کړي .

وروستي مطبوعاتي خبرونه هم داسې دي، چې میشتو خارجیانودمجاهدینو په سیمو کې هیڅ ډول پرمختگ ندی کړی او نه یې کومه ستراتیژیکه نکته نیولې، هغه چې دکابل له ولس حکومت سره کړي هغه داچې دبې طرف او بې گناه ولسي خلکو کورونه یې بمباردمان کړي اولسگونه ښځي اوماشومان یې شهیدان کړي ،چې حقیقت کې دا هم دکابل دادارې او امریکایي اشغالگرو ناکامي ده او پدې کار سره یې ولسي او نړیوال غبرگونونه راپارولې دي .

لکه چې مو مخکې وویل امریکایان افغانستان کې دماتې په درشل ولاړ دي اوددوئ مزید شتون نور دکابل ادارې ته نوې ساه نشي ورکولای او نه یې عمر اوږدولای شي ،نوغوره داده، چې بهرنیان خپلې کډې بار کړي اودکابل اوسنۍ اداره چې درشوتونواو بډو په زور واکمنه شوې، له منځه لاړه شي او ځای داسې سپیڅلې ادارې ته پریږدي، چې لمنه یې له داغونو پاکه اوهم خاورې اوهم داسلام دین ته ژمن دي ،ترڅو هیواد کې یو پایدارامن ټینگ شي اودتل لپاره دفساداتومخه بنده شي !

کتاب باید په وېښ عقل ولولو

احمدالله احمدزی

زموږ یوه تر ټولو لویه ستونزه دا ده، چې لا هم زموږ د مدرسو او پوهنتون محصلین، زده‌کوونکي او حتا استادان د مطالعې له اصلي معنا سره بلد نه یو. له همدې امله زموږ لیکوالان، څېړونکي او لوستونکي د خپلې پوهې په زیاتولو کې له ستونزو سره مخ کېږي.

د بلاغت او نقد معاصر امام شیخ البلاغیین دوکتور محمد محمد ابو موسی وايي، موږ باید مطالعه په وېښ عقل وکړو او یوازې د کتاب ظاهري کلماتو ته ونه ګورو.

زموږ د لیکوالانو او محققینو د غیر ارادي تېروتنو یو مهم لامل دا دی، چې خبره د اصل علمي مرجع پر ځای له نورو مراجعو را اخلي. د ساري په توګه زموږ ګڼ لیکوالان په ناپامۍ او ځینې غرب ځپلي په لوی لاس د اسلامي تاریخ پاڼو ته په داسې نظر ګوري لکه دوښمن چې ورته ګوري، یا د اسلامي ادب په اړه د مستشریقینو او غرب ځپلو کتابونه لولي، مني یې او بیا یې نورو ته په یوه او بله طریقه وړاندې کوي.

زموږ ډېری لیکوالان، پوهان او د پوهنتونو استادان د اسلامي خلافت د تاریخ یوازې له هغو برخو بحثونه کوي، چې د دوی زړه پرې یخېږي او د نوي نسل د نهیلۍ لامل ګرځي او دوی د خپلې خبرې لپاره په خپل ګومان یو دلیل هم لري، خو په علمي او اکاډیمیکه توګه دا دلیل د منلو نه دی. د ساري په توګه زموږ ګڼ لیکوالان د اموي، عباسي او عثماني خلافت د چارواکو د عیاشۍ او اصراف اړخونه را اخلي او مرجع یې هم د تاریخي کتابونو پر ځای ادبي کتابونه وي. که موږ تاسې وګورو، نو زموږ ډېری څېړونکي او پوهان د تاریخي مسئلو حواله د مستندو تاریخي کتابونو پر ځای په الاغاني یا په هغو کتابونو ورکوي، چې له الاغاني اخیستل شوي وي.

کتاب الاغاني په څلورمه هجري پېړۍ کې ابو الفرج الاصفهاني لیکلی دی. څېړونکي او د نقد علماء د دغه کتاب په اړه وايي، چې د تاریخي او علمي څېړونو لپاره د ګټې اخیستو وړ نه دی، بلکې یوازې د سات تېرۍ لپاره ښه دی، خو په خبره یې به یې باور نه کوې. د نقد او تحقیق علماء وايي، چې الاغاني د انساني اخلاقیاتو مثبت او قوي اړخونه پرېښي او یوازې هغو کمزورو او بد اخلاقو اړخونو ته یې اشاره کړې، چې ډېری یې په تاریخي او علمي روایاتو ثابت هم نه دي.

که موږ تاسې وګورو، نو هېڅ محقق عالم له الاغاني د علمي او تاریخي مرجع په توګه ګټه نه ده اخیستې، بلکې یوازې د لږې پوهې څښتنانو او مغرضو مستشرقینو او نورو غرب ځپلو ترې مستقیمه یا غیر مستقیمه استفاده کړې او ټوله موخه یې دا ده، چې مسلمانان څرنګه په خپل تاریخ او ماضي بد ګومانه کړي.

که یو تاریخ پوه زما د امت له تمدن او تاریخي پرمختګونو سترګې پټوي، یو لیکوال زما د خلافت هغه فتوحات نه یادوي، چې مسلمانانو څرنګه په خپله لومړۍ پېړۍ کې هسپانیا فتحه کړه او د فرانسې تر سرحده ورسېدل، اروپا کې یې د علم او پوهې رڼا خپره کړه. منځلاري او معتدل اروپایان اوس هم ځانونه د اسلام او مسلمانانو د احسان پوروړي بولي، هغه وخت چې اروپا په تیارو کې وه، خپل اولادونه او لوڼه به یې اندلس ته د زده کړو لپاره لېږل، دغو مسلمانانو په خپلې لومړۍ پېړۍ کې سند، هند او چین ته د اسلامي خلافت وړانګې ورسولې او اروپا کې اوس هم د مسلمانانو د تمدن داسې نښې پاتې دي، چې اروپایان یې د نوې پرمختللې ټېنکالوجي سربېره په سیالۍ کولو عاجز دي او داسې نور مثالونه یې د تاریخ په کتابونو کې بې شمېره موندل کیږي، چې مسلمانانو، طب، تاریخ، فلسفې او نورو انساني علومو ته څومره کار کړی دی. دوی اوس هم په امریکا کې د ابن رشد دفلسفې فاکولتې فعالې دي، اوس هم د ابن سینا له او نورو مسلمانانو له طبي ماخذونو استفاده کوي.

نو زه به څرنګه د یو لیکوال او تاریخ پوه په خبره باور وکړم، چې د مسلمانانو له برم او عظمت ډک تاریخ څخه سترګې پټوي او په جعلي کمزورو روایاتونو د مسلمانانو سپکاوی کوي .

دا یوازې په تاریخ کې نه ده، بلکې په سیرت، ادب او نورو علومو کې هم موږ دې بیخي اړتیا نه لرو، چې د کفارو او مستشرقینو په کتابونو استدلال وکړو. دلته یو شمېر مخلص او ځیني غرب ځپلي دوستان شته، چې سیرت، حدیث، علوم الحدیث او نور دیني علوم د کفارو او مستشرقینو په کتابونو کې لولي او ځینې بیا په فخر هم وایي، چې «حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د غیر مسلمو له نظره» دا په خپله دومره ستره تېروتنه ده، چې حد یې نه شته. د ساري په توګه د مایکل هارټ یهودي «سل ستر انسانان» کتاب دی. زموږ ډېری مسلمانان لا هم فخر کوي، چې یو یهودي زموږ پیغمبر علیه السلام ته دومره درناوی لري، چې په خپل کتاب کې یې نوم په اول سر کې راوړی دی او د خپلو پوهانو نومونه یې وروسته راوړي دي، خو دېته پام نه کوو، چې موږ ولې خپل پیغمبر د یهودي په خوله پېژنو او دې ته هم نه ګورو، چې دغه یهودي د یو پیغمبر سره تا ته خپل اویا ستر یهودان در پېژندلي دي. له مادي پلوه هم دغه کتاب په اروپا او امریکا کې دومره نه دی پلورل شوی، څومره چې اسلامي نړۍ کې خپور شوی او پلورل شوی او ګټه یې لیکوال ته تللې ده.

همدارنګه که موږ د سیرت علم او فقه السیره د مستشرقینو په کتابونو کې زده کوو، نو اول زیان به مو دا کړی وي، چې په ګوړه کې به زهر خورو. دغه مستشرقین له «جیب» نېولې تر ټولو پورې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په بدني اړخ ټینګار کوي، پیغمبر علیه السلام یو غښتلی قوماندان او عبقري انسان بولي، خو کوشش کوي، چې روحي اړخ یې کمزوری وښیي.

همدا رنګه په ټولو اړخونو او فنونو کې که موږ د مستشرقینو او غرب ځپلو کتابونه ګورو، نو که لږ هم فکر وکړو، زهر به راته په کې په اسانه ښکاره شي او موږ یوازې هغه مهال دغو زهرجنو نکتو ته متوجه کېدای شو، چې په وېښ عقل او پوره احتیاط دغه کتابونه ولولو .

شیخ محمد محمد ابو موسی وایي، چې پردي معارف او علوم د دې لپاره نه لولو، چې موږ دې هم د دوی په څېر فکر وکړو، دا کتابونه او علوم د دې لپاره لولو، چې پوه شو دا خلک زموږ او زموږ د دین په اړه څه فکر کوي. که موږ د شیخ محمد ابو موسی دغه نصیحت په خپل لوست او مطالعه کې عملي کړو، پوه به شو، چې د دغو خلکو لیکنې او کتابونه څومره له زهرو ډک دي.

د صحابه وو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ واکمـــني او تقـــوی...!

مولانا قاري محمد طیب رَحِمَهُ اللهُ (د دارالعلوم پخوانی مهتمم)
ژباړه: م اسلم

سـعد بـن عمیـر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دفلسـطین او بیـت المقـدس دوالي پـه حیـث وګومارل شو، لاړ هلته یې په کار پیـل وکـړ ،وخـت تیریـده ،چـې پـه دې کـې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له لوري د والیانو او چارواکو امتحانولو لړۍ لپاره پیـل شوه، هسې نه والیان او چارواکي په خلکو ظلمونـه ونکـړي او دعـدل او انصـاف قوانین تر پښو لاندې پایمال نه کړي.

په دې موخه به یې کله نورو کسانو دنـدې ورکـړې او کلـه بـه یـې خپـل شکل تغیر کړ په شپه کې به یې ځـا نتـه درعایـاوو او واکمنـو حـالات معلومـول، دهمدې موخې لپاره یې خپل یوتن خادم شام تـه ددې لپـاره و لیـږه، چـې تـه لاړشه! لړدفلسطین دوالي سعدبن عمیر معلومات راوړه، چې په کوم حالت کـې دی؟ په دې سربیره یې خادم ته دپنځه سوه درهمو یوه کڅوړه ورکړه چې دا به زما له لوري سعد بن عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دهدیې په توګه ورکړې

خادم فلسین ته لاړ ، کله چې هغه ته نیږدې ورسید ویني سعدبن عمیر د یـو داسـې وطـن والي دی چـې ښـه زرغـون ،متمـدن دی او د مـال او دولـت پریمانه خزانې لري او په هر لور زړه راښکونکي شنه باغونه اوښایسته کورونـه ودان دي، خو خپله سعد بن عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دختیو د یوه زاړه اوخام کور په مخکي ناست دی درسیو اوبدلوله لارې دځان او کورنۍ لپاره نفقه پیـدا کـوي، ځکـه چې دمسلمانانو له بیت المال نه دځان او کونۍ لپاره څه نه اخلي.

خادم ددې حالت دڅاروروسته دهغه خواته نیـږدې ورغـی ، کلـه چـې دسعد بن عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نظر ورباندې ولګید نو ورته پورته شو او پـه ډېرمحبـت ورته ورغاړیوت او هرکلی یې ورته ووایه! خـادم دحضـرت عمـر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پیغـام ووایه په اوریدو یې هغه نور هم خوشاله شو، اوس پیښـه داشـوه چـې د حضـرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قاصد ددې په ځای چې دوالي امتحان واخلـي ؛ والي د دخـادم پـه واسـطه د حضـرت عمـر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امتحـان اخلي ! له خادم یې وپوښتل: عمـر خوبـه نـن سـبا ډېـر شـتمن وي! ځکـه امیـر المؤمنین دی، ټـولې خزانـې یـې پـه واک دي؛پـه زرګونـو او زرګونـو درهـم بـه یـې دځان لپاره سپما کړي وي؟ خادم وویـل: نه! داسې نده د عمر د ذهد او قناعـت هغــه حالــت کــوم چــې درســول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پـه زمانـه کـې و اوس هـم هغسې پاتې دی! هغه دوربشو ډوډۍ یـې خواړه او هغسې پیوندي کالي یې پـه تـن او دذهد او قناعـت سـاده ژونـدیې دی! والي : الحمد الله!خدایه شکرچې مونږ ته داسې غـوره امیـر راکـړیچـې پـه خزانـو دواک لرلـو سربیـره ذاهـد او متقـي دی! بیا یـې لـه خـادم وپوښـتل عمـر تـه بـه دخلکو قضیې او شخړې هم دفیصلو لپاره راځـي، یکـې لـه یـومخ جانبـداری او پریتـوب بـه کـار اخلي، دخپلـو خپلوانـو ملاتړ به کوي او خپل دوستان او ملګـري خو به نازوي که څنګه؟ خادم وویل: نـه! هیڅکله نه! عمـر امیـر او غریـب تـه پـه یونظر ګوري او ورته ټـول رعایـا یوشـان

برابردي.او پوره عدل او انصاف کوي !والي وویل: الحمد الله! خدای مونږ ته داسې امیر راکړی چې هغه عال هم دی ، منصف او کامل هم،غرض داچې ددې په ځای چې خادم دامیر المؤمنین له لوري دوالې حالات و پوښتي ، والي لګیا شو دخام په واسطه دحضرت عمر حالت پوښتي چې ایا امیر المؤمنین بدل شوی؟ پخواني زهد او ساده ژوند ته یې شاکړي؟.کله چې دا جریان تمام شو، خادم هغه ته د پنځه سوه درهمو کڅوړه ور کړه او وې ویل: دا تاسو ته عمر رضي الله عنه دهدیې په توګه ه استولې!

په لیدو یې ناڅاپه د والي مخ سور شو وې فرمایل: دامال دعمر دپلاردی چې زر، او پنځه سوه، پنځه سوه یې ویشي دا خزانه دهغه دپلارخزانه ده؟ خادم وویل: عمر رضي الله عنه درته له خپل مال نه لیږلې: ښه عمر دومره مالدار دی چې هغه زر، یا پنځه سوه درهم دهدیې په ډول ماته را استوي اناالله واناالیه راجعون !

په نه زړه یې هدیه قبوله کړه خو دقبلولویې دا حشر کړ چې دخپل تن ځادرېې واخیست ، ترې وړې وړې ټوټې ځېرې کړې! په هره ټوټه کې یې لس، لس، شل، شل درهم وتړل ، کوم بیوزلان، غریبان او یتیمان چې په لار تیریدل هغوی ته یې هغه غوټې ورکولې، ترماښامه یې ټولې هم هلته وویشلې اوخپل څادر یې په غوټو کې لاړختم شو! پای کې میرمنې یې وویل:مونږد څو ورځو راهیسې فاقه ګالو او دخوراک لپاره څه نلرو ،څو به دې مونږ ته هم راکړې وې! دهغې په دې خبره خفه شو او دوه درهم یې ور وغورځول او ورته یې وویل : ته غواړې په خیټه کې دجهنم اور واچوي واخله مبارک دې شه.

له دې وروسته خام وویل: امیر المؤمنین غواړي له تاسره ووینې او ددې لپاره هغه ته بللی یې! وې ویل: رازه بس روانیږه! امساء یې واخیسته او په دوه نیم سوه میله لرې سفر روان شو، نه ورسره سورلۍ شته، نه دلارې توښه شته ! بس فقط دومره یې وویل : راځه روانیږه! پلې روان شو

عمر رضي الله عنه خبر شو چې سعد بن عمیر په فلانۍ ورځ مدینې منورې ته را رسي، د هرکلي ویلو په موخه له ښار ه دباندې ور ووت، کله چې یې سره ولیدل حضرت عمر د حضرت سعدبن عمیر مخ کې دغوسې نښې ولیدې، حیران شو چې ولې دومره په غوسه دی؟خو ژر پوشو چې دهدیې لیږلو په وجه غوسه دی، حضرت سعید وویل ښارته وروسته ځم لومړی درسول الله صلى الله عليه وسلم مبارکې روضې ته زم اوهلته درود سلام عرض کوم نور هم وسره لاړل.

درسول الله صلى الله عليه وسلم روضې ته دورتلو وروسته حضرت سعد بن عمیر رضي الله عنه عرض وکړ یارسول الله! زه نور دعمر په منحوس خلافت کې ژوند نه غواړم، کومې زولنې او ځنځیرونه چې تا زمونږ په لاسو او پښو کې مات کړل عمر غواړي هغه بیا را واچوي او دپنځه سوه ،پنځه سوه درهمو هدیې مونږته رالیږي! زه د ده د خلافت په دې منحوس دورکې ژوند نه غواړم! په ژړا، ژړا کې یې دا دعاء وکړه!!ور پسې دحضرت عمر رضي الله عنه ددعاء نوبت راغی هغه دعاء وکړه یارسول الله! زه ترهغه وخت پورې ژوند غواړم څو چې زما په رعایاوو کې دسعدبن عمیر رضي الله عنه پشان خلک شتون ولري او هرکله چې دا سې خلک ولاړ شي زه بیا هم ژوند نه غواړم مؤرځین لیکي: څو ورځې وروسته سعد بن عمیر رضي الله عنه وفات شو او دهغه نه شل ورځې وروسته حضرت عمر رضي الله عنه دشهادت پیښه رامنځته شوه.

لنډه داچې صحابه ددومره لو ړ او لوی شان څښتنان ول، چې دنړۍ په دولتونو، خزانو او شتمنیو دواک درلودو سربیره یې خپله د فقر ، زهد او ساده ګۍ ژوندتېراوه او ټینګار یې کاوه چې ترپایه یې په ساده او فقر قانع اووسي دا هرڅه درسول الله صلى الله عليه وسلم د غوره تربیت اثر و.رضي الله عنهم

هلمند
شاهد جنایت جنگی تازه امریکا

دوکتور م ، عثمان تره کی فرانسه

شب دهم فروری سال جاری در فضای بی تفاوتی حلقات داخلی و خارجی مدعی حقوق بشر، ولسوالی سنگین ولایت هلمند توسط طیارات ب - ۵۲ امریکا بمباردمان شد. درین بمباری بیش از سی تن افراد ملکی از جمله ۱۶زن و طفل کشته شدند.

این جنایت جنگی طبق معمول با عکس العمل اعتراضی صد ها دوکان استخباراتی (منظور احزاب سیاسی و جامعه مدنی تولیدات سفارت های خارجی است) ، مواجه نشد. حکومت مردم دشمن و دفتر ملل متحد در کابل با سکوت ازان گذشت.

تداوم جنایت جنگی از سوی امریکا چند پیام میتواند داشته باشد:

-استمرار سیاست ناکام بدماشی و زورگویی توسط حکومت جدید امریکا در شرایطی که مخالفین مسلح آمادگی های لازم برای دوام مذاکره نشان داده اند.

-ایجاد وحشت و ترس در میان مردم ملکی به قصد جلوگیری از استقبال مقاومت مسلح در قرأ و قصبات.

واقعیت اینست که امریکا و متحدین در دسترسی به مقاصد از قبل تعیین شده از راه جنگ مطلقاً ناکام است. زیرا تلفات ملکی به شیوه گذشته ، حساسیت ها را در میان مردم تا سرحد پیوستن به صفوف مخالفین تقویت کرده است. ازین گذشته مخالفین مسلح را به جلب کمک سیاسی و نظامی از کشور های رقیب ائتلاف بین المللی در منطقه انگیزه بخشیده است. مبالغه نخواهد بود هرگاه بگوئیم که طی هر بمباردمان ، امریکا به عمق حفره ایکه مبصرین سیاسی قبرستان امپراتوری ها نامیده است میافزاید تا جایی برای دفن امپراطوری فاتح جنگ سرد تدارک شود. بیک کلمه امریکا خود قبرش را میکند.

در مناسبات بین المللی تحمیل اراده خود بر دیگران جزء اوراق تاریخ شده است. دنیا متوقع بود تا در قرن ۲۱ به امریکا به مثابه مدافع قابل اطمینان ارزش های آزادی و دیموکراسی نگاه کند. از توانمندی نظامی ، اقتصادی و دیپلوماتیک آنکشور برای ایجاد زمینه های ظهور یک جهان فارغ از جنگ ، فقر و بی عدالتی بهره ببرد. با دریغ که امریکا در قیافه یک هیولای هژمونیست و ترس آفرین برای امنیت کشور های کوچک بیدفاع بدل شده است که قصد بلعیدن جهان را ازراه جنگ دارد.

با اندکی تأمل میتوان در قضایای بزرگ ژیوپولتیک در منطقه میان منافع افغانستان و امریکا هم آهنگی های فوری و ضروری ایجاد کرد. روسیه و چین را نیز میتوان شامل معامله ساخت. به شرط آنکه امریکا زورگویی را که به خصوص در افغانستان نتیجه نداده است کنار بگذارد. یعنی جنگ را با سیاست عوض کند.

مفتي ابوياسر

ثـــــــواب

يو تحـقيق او جـائزه

ثواب چې يوعربي لفظ دی ،معنی يې ده : عوض اوبدله . لکن په شرعي اصطلاح کې :ثـواب ديـوه الهي امر دسرته رسولو ياد يـوه منکـر څخـه د اجتنـاب کولوپه بدله کې چې مسلمان ته دعـوض او اجـر پـه ډول ورکول کېږي مگرداعوض اواجر څه شی دی؟

په دې هکله علامه سيدشريف (رح) وايـې: چې دغه اجر اصلا دالله جل جلالـه هغـه ځـانگړی رحمـت او مغفرت دی چې يومسلمان يـې دالهـي عطيـې پـه ډول مستحق گرزي.

رحمت بيادامعنی لري :چې يوتن دالله تعـالی لـه طرفه دهغه دترحم ورشي ،څنـي راضي اوخـوښ شي ،بيـا الله تعـالی لـه دغـه بنـده سره پـه دنيـاوي ژونـد کې هـم احسـان کـوي اوداخـرت تلپـاتي ژونـديې هـم نيمگرغه وگرزوي ، ددنيا په دغه ژوندکې يې له کراوونـو ،اوعـذابونو څخـه وسـاتي اودقـبر څخـه آن جنـت تـه ترتلوپوري يې له سختيو څخه مامون وگرزوي.

مغفرت دامعنی : چې الله تعالی ددغـه تـن غلطـې اوجرمونه معاف کړي اوټولي خطاوي وروبخښي.

علامه سيدشريف (رَحِمَهُ ٱللَّهُ)وايي :چې دثواب پـه مفهوم کې درحمت اومغفرت علاوه درسول الله صلی الله عليه وسلم دشفاعت حصه هم شامله ده .

علامه دواني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ پـه الفواکـه کـې ليکـې : چې ثواب دحسنه اعمالو [ښه کردار] هغه بدلې ته ويـل کيـږي چـې الله تعـالی لـه خپـل لـوري دغـه بنـده ته ټاکلي ده، اندازه يې يواځې همدغه رب ته معلومـه ده ،اوهغه چې يې په کوم شي، په کوم کيفيت اوپـه څـومره مقدار ورکوي هغه ډير ښه ورباندي عالم اوپوه دی .

دوه نوري مسئلي:

لمړی : ثـواب چـې داعمالـو اوکـردار بدلـه گڼلـه کيـږي پـه الله تعـالی بانـدي واجـب نـه ده ؛څکـه ثـواب [چې الهي عطيه ورته وايو] دبنده ترکـردار اوعمـل ډيـره لـوړه ده ، نـودا يـواځې الهـي عطيـه اودهغـه احسـان گڼل کيږي نه دعمل واجبه بدله.

دوهم: الهي عقاب اوعذاب دالله جل جلالـه عـدل گڼـل کيـږي ،ددې هغـه بنـده مسـتحق دی :چـې لـه خپل رب څخه يې بغاوت کړی ،دالله تعالی له ستردښـمن سره يوځای شوی ، اودخپل رب په وړاندي پـه مقاومـت کې دريدلی دی . چـې بـالاخره نـه دالهـي امـر امتثـال کوي اونه دمنهياتو څخه اجتناب کوي ، دباغي اودښمن سزا تر ټولوسخته وي او الهي سزاء کې همدغـه عقوبـت موجود دی.

دماشومانو داعمالو ثواب شته ؟

په دې کې دهيڅا اخـتلاف نشـته : چـې مکلـف [يعني بالغ اوعاقل انسـان] تـه الله تعـالی دعبـاداتو پـه کړنه ثواب ورکوي اودمعاصي يعنـي گنـاهونو پـه کولـو عذاب ورکوي ؛مگر داچې دالله تعـالی عفـوه اودرگـذريې نصيب شي

نوبیاخو د حسنه اعمالو بدله ترلاسه کړي مگر دگناهونو سزا یې معاف شي اودغه انسان سیده جنت ته ځي.

پاته شوه دغیر مکلفینو [یعني ماشومانو اومجانینو] خبره نواصلا خو هغه غیرمکلف دي ، دوئ ته دالهي امر اونهی خطاب نه دی متوجه ،نو که له دوئ نه هرڅومره خطاوي وشي ،گناهونه ځیني وشي دوئ وربا‌ندي ماخوذ نه دي .

خوخبره په دې کې ده چې که کوم ماشوم نیک اعمال سرته رسوي نواجرورباندي ترلاسه کولای شي اوکنه ؟ په دې خبره هم دعلماؤاتفاق دی :چې هغه ماشوم چې په صحیح ډول اعمال ترسره کوي دهغوئ داعمالو ثواب شته، نور که هغوئ روژه نیسي،لمونځ کوي،تلاوت کوي ،حج کوي اوکه اذکار اونور عبادات سرته رسوي ،په دې ټولوکې ددوئ ثواب اواجر شته .

داثواب به هغوئ ته ذخیره کیږي او د هغوئ دنیکواعمالو په رجسترکې ثبتیږي، دقیامت په ورځ به یې دحسناتو په تله کې اچول کیږي اوبیابه مقامات اودرجات وربا‌ندي ترلاسه کوي .

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي : مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِينَ الحدیث : کله چې مو ماشومان اوه کلن شي نوپه لمانځه یې دروئ ! اوکله چې لس کلن شي نوکه لمونځونه نه کوي وربا‌ندي تهدید وئ یې .

ابن عباس (رضی الله تعالی عنه) وایي : یوه شپه دخپلې توریې میموني (رضی الله تعالی عنها) [چې درسول الله (صلی الله علیه وسلم)میرمن ده]کورته ولاړم،ماسوختن رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لمونځ وکړ او بیا د میموني (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) کورته راغی، څلور رکعته لمونځ یې وکړ،بیاویده شو، څه وخت وروسته راپاڅېده

اوبیا په لمانځه ودریده ، زه هم راغلم اودنبي کریم (صلی الله علیه وسلم) چپه لوري ته ودریدم ،خوهغه زه خپل راسته لوري ته کړم ،له دې حدیث څخه څرگندیږي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم)به دماشومانو لمونځونه خوښول ،لکه له وړاندي حدیث څخه چې معلومیږي چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دماشومانو په لمنځونو درولواوکولوبا‌ندي دکورو مشران امرکړي دي .

همداراز له صحابه و(رضی الله تعالی عنهم)څخه نقل شوي اثار ښيي چې هغوئ به ماشومان په روژه نیولو امرکول اوپه خپلوماشومانو به یې روژې نیولې، اوله ځان سره به یې حجونو ته بیول ،حجونه به یې وربا‌ندي کول ،همدرازبه یې عیدگاو ته بیول ،څو داختر اوجمعې لمونځونه وکړي .

البته :ماشومان هغه مهال په روژه اونوروعباداتو مکلف گرزول کیږي :چې طاقت یې دهماغه عبادت دسرته درسولو وي،که چېرته ماشومان دجسماني کمزوري یانورو عذرونو له امله عبادات سرته نشي- رسولای نوبیا دعذر له امله دمکلفتیا ترمودې پوري په عباداتو نه مجبوریږي.

یوه بله مسئله:

علامه حصکفي (رح)په الدرالمختار کې لیکلي دي :چې دماشوم په عباداتو کې دموراوپلار علاوه داستاذ اجرهم شته اوڅومره اجر چې الله تعالی دغه ماشوم ته ورکوي همدمره اجر یې استاذ،موراوپلار ته هم ورکوي .ردالمحتار کتاب الحضروالاباحة .

یوه بله خبره : دمجنون ،لیوني ،معتوه اونور دا ډول خلگو عبادات اونیک اعمال هم لیکل کیږي اوثواب یې ددوئ په عملنامه کې ثبتیږي ، اوهم دوئ اوهم یې مور اوپلار ته پوره ثواب ورکول کیږی . موسوعه فقهیه

ثواب په کومو څېزونو ترلاسه کېږي ؟

نوپه دې هکله بایدواضحه کړو: چې ثواب دالله تعالی داحسان اوفضل له مخې په ټولو هغواعمالو ترلاسه کیږي چې الله تعالی ورباندي امرکړی ،نورکه هغه فرائض وي ، واجبات اوکه مستحبات .

همداراز دټولو هغو منکراتو په ترک چې الله تعالی مکلفین ځیني منعه کړي ،نورکه هغه حرام وي اوکه مکروه، البته :داهغه مهال چې موږ دومره وس اوقدرت ولرو چې دغه منکرات سرته رسولی شو مگر دالله تعالی د ویرې له امله یې ایله کړو.

په دې هکله دالله تعالی ارشاد څومره واضح دی :

{فَمَنْ يَعْمَل مِثْقَال ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَنْ يَعْمَل مِثْقَال ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ } ، ژباړه : نوهرڅوک چې دزرې په اندازه دخیرکار وکړي هغه به دقیامت په ورځ ووینی [یعني اجربه یې ترلاسه کړي] اوکه څوک بداودشرعمل وکړي نوهم جزاء به یې ووینې .

دلته بایدیادونه وکړو : چې دنیکواعمالو سرته رسونه خپله دثواب موجب نه ده ځکه دډیرو ماموراتو سرته رسونه یواځې ددې لپاره جوگه کیدلای شي چې دمکلف ذمه فارغه شي ،اودمنهیاتو ترک ددې لامل شي چې دگناه له ارتکاب څخه په ځان ساتلو سره دجهنم څخه برائت وموندل شي .

لهذا خلاصه داشوه :چې دالله تعالی دفضل اواحسان له مخې موږ په لاندې اعمالو سره ثوابونه ترلاسه کولای شو:

١= دهرفرض عمل په سرته رسولو ،لکه اودس ،لمونځ ، روژه ،حج ،زکوة ،جهاد، اوداسې نور ...

٢= دهرواجب عمل په سرته رسولو : لکه اضحیه ،تکبیرات ،وتر ،نذر اونورکفارات اوعبادات ...

٣= دهرسنت عمل په سرته رسولو : لکه دټولو عباداتو سنتونه، مثلا سنن الصلوة ،سنن في الصلوة، سنن في الصوم ، سنن في الحج ،سنن في الجهاد ، وغيرها

٤= دټول مستحباتو په کولو : لکه دعباداتو مستحبات ،درسول الله (صلی الله علیه وسلم)هغه اعمال چې دعادت په ډول یې سرته رسولي وي لکه :درسول الله (صلی الله علیه وسلم) طریقه په خوراک ،څښاک او لباس کې او داسې نور اعمال.

٥= دټولو هغه مباح اعمالو په سرته رسولو چې په صحیح نیت سره سرته ورسیږي . لکه تعطر،ښه یانوي جامه په غاړه کول ،یاتنوع په خوراک کې دعبادت یاجهاد دقوت په نیت اوداسي نور .

٦= همداراز دهرهغه حرام په ترک سره :چې دی یې په کولو سره قدرت لري خودالله تعالی دویرې له امله یې ایله کړي .

٧= دهرمکروه تحریمي عمل په ایله کولو سره :چې دالله تعالی دویرې یادرسول الله (صلی الله علیه وسلم)داطاعت له امله یې ایله کړي .

٨= کله ناکله انسان ته الله تعالی بې شمیره ثواب اوبدله یواځې په نیت ورکړي ،په داسې حال کې چې هیڅ عمل یې نه وي کړی . لکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم)چې فرمایې : [نية المومن خيرمن عمله] . یعنې کله یوانسان په نیت باندي دومره ثواب ترلاسه کړي چې په عمل یې نشي ترلاسه کولای .

همداراز رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: [من هم بحسنة فلم يعملها كتبت له حسنة]. اوبل حدیث کې فرمایي : [من أتى فراشه وهو ينوي أن يقوم يصلي في الليل فغلبته عيناه حتى أصبح كتب له ما نوى وكان نومه صدقة عليه من ربه عز وجل]أخرجه النسائي

(۳ /۲۵۸، - ط المكتبة التجارية) ، والحاكم (۱/ ۳۱۱ - ط دائرة المعارف العثمانية)

آيا زموږ دنيكو اعمالو ثواب نوروته رسيږي؟

دصريحو نصوصو [آيتونو اوحديثو] په بناء داسلامي امت دجمهورو [اکثرو]علماؤ رايه داده :چې ديوه بنده دعمل اجر اوثواب كه يې بل مؤمن ته وبخښي ،نوالله تعالى يې دهغه په اعمالو کې ثبتوي ،نورکه دغه عمل لمونځ وي، روژه وي ،حج وي ،صدقه وي ،دقرآن كريم تلاوت وي ،اوکه نوردخيراعمال وي، الله تعالى فرمايي:

[وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ .] الحشر-۱۰ وقال الله تعالى : [وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ].محمد ۱۹

وَقَدْ ضَحَّى النَّبِيُّ (صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَحَدُهُمَا عَنْهُ وَالْآخَرُ عَنْ أُمَّتِهِ. وايضا رَوَى عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ الله (صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) قَالَ لِعَمْرِو بْنِ الْعَاصِ لَمَّا سَأَلَهُ عَنْ أَبِيهِ: لَوْ كَانَ مُسْلِمًا فَأَعْتَقْتُمْ عَنْهُ، أَوْ تَصَدَّقْتُمْ عَنْهُ، أَوْ حَجَجْتُمْ عَنْهُ بَلَغَهُ ذَلِكَ .

اوداسې ډير نصوص موجود دي چې واضح ترې معلوميږي چې دثواب بخښل شته . اوداچې ځيني خلگ له دې آية څخه استدلال كوي چې الله تعالى فرمايي: [وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى].النجم ۳۹ نورئيس مفسرين عبدالله بن عباس (رضى الله تعالى عنه) وايي: چې دغه آيت منسوخ شوى دى، حضرت عكرمة رضى الله تعالى عنه وايي :چې داوړاندينيو امتونو پوري اړه لري، اوځينو علماو يې نورتاويلونه كړي .

مسئله : آيا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته داعمالو ثواب بخښل شرعا شته ؟ هو؛ اكثرفقهاء يې ثابت گڼي اوځكه خودرسول الله (صلى الله عليه وسلم) لپاره حج، اضحيه اونوردخيراعمال سرته رسوي، او ځيني علماء يې بيامانع دي.

يوه بله مسئله : دپريشانيو اوغمونو اونوروكړاوونو کې مسلمانانوته ثواب شته اوکنه ؟ مشهورمحدث ابن حجر (رح) وايي :چې مصيبتونه اوتكاليف دگناهونو كفارې دي اوپه صبر سره الله تعالى ثواب هم وركوي .اوكه صبر اورضاء نه وي نواجراوثواب يې نشته .

آيا ثواب دزماني يا مكان په لامل كميدلاى اوزياتيدلاى شي؟

هو؛ دنيكواعمالو اجر يابدله په څوصورتونو کې كميدلاى اوزياتيدلاى شي :

۱= دهرنيک عمل ثواب دمشقت اوتكليف له امله زياتيږي ،كه څه هم په عبادت کې دمكلف مشقت د شارع مطلوب نه دى ،مگر طبعي ده چې الله تعالى دمكلف دزيار ،محنت اومشقت سره اجر ورزياتوي .

نوچې په اعمالو کې څومره مشقتونه برداشت شي همدومره يې بيا ثواب اوبدله زياته وي .جهاد کې د ټولو اعمالونه ثواب ځكه زيات دى :چې ترټولو اعمالوپه کې مشقت زيات دى .بيا چې دحج مرحله کې ترنورو عباداتو سختې اوكړاوونه ډيردي نوځكه رسول الله صلى الله عليه وسلم له جهادنه وروسته دډيراجر وړعمل همداحج وگڼل.

همداراز په يخنيو کې دښه اودس كونكي ،په تيارو کې اودليرې سيمې څخه مساجدو ته دتلونكي اجر ترهغه زيات دى چې په گرمې ښه اودس كوي ياپه نږدې واټن کې مسجدته قرار لري .

مبلغین و داعیان مسیحیت را چگـونه بشناســـــــسیم؟!

ابن مبارک احمدزی

یاد آوری: چند روز قبل اطلاع یافتیم کـه گـروپ ها و حلقات خاص در رسانه هـای اجتماعـی در صـدد آن انـد تـا جوانـان مسـلمان اما بـې خـبر را از راه مسـتقیم منحرف و به مسیحیت سوق دهند،من وقتی گروپ هـای فسبوکی مبلغـین مسـیحیت را تعقیـب نمـودم دریـافتم که آن ها برای بدست آوردن اهداف شان بسیار سـخت می کوشند و در تلاش اند،در شهر کابل دور از چشـمان مردم گروپ های مخفـی وجـود دارنـد کـه رسـالت شـان فقط و فقط به بی راهه کشاندن جوانان مسلمان است و بس،بدین وسیله تصمیم گرفتم تا بعضی از روش هـا و طرز چگونگي برخورد با چنین افراد را بیان کنم تا باشـد برای جوانان مفید واقع شده و در رسـانه هـای اجتماعـی چون فسبوک و غیره تحت تأثیر مبلغین مسیحیت قـرار نـه گیرنـد و خـدای ناخواسـتـه بـه مسـیحیت روی نیاورنـد.از اینکـه مقالـه طـولانی نشـود و خوانـدن آن دشوار نه شود مفاهیم و موضوعات را تـوأم بـا راه حـل آن در چند سطر خلاصه می کنیم امیـد اسـت خسـته نـه شوید!

اول:

مبلغین مسـیحیت وقتیکـه بـا یـک مسـلمان در قسـمت مذهب صحبت می کنند، کوشش مـی کننـد کـه از شـما سوالهای را بپرسند که شما جواب ارایه کرده نتوانیـد و مجبـور شـوید کـه در پاسـخ (نمـی دانـم) بگوییـد. تـا بدینوسیله بر تری خود را بالای شما در مسایل مـذهبی برقرار نمایند. آنها را اجازه ندهید که موفق شوند تا در دل های شـما وسوسـه و اظطراب را ایجـاد کننـد.همین چند ماه قبل یک دوستم شکار همین توطئه شـده بـود کـه خوشـبختانه از آن رهـایی یافـت.مبلغین مسـیحیت توسط بزرگان شان تدریس مـی شـوند کـه از اسـتعمال کلمات (عیسی) و یا (ناجی) و یا (تعمید دادن) ابا ورزند.

اگر در قسمت عقاید شخص بیگانه یی که با شما هـم صـحبت مـی شـود، نمـی دانیـد، مسـتقیما از او در قسمت عقیده و مقصد اش بپرسید. البته در مورد هـر گونـه جـواب غیـر مسـتقیم مشـکوک و مظنـون باشـید و بدانید که آنها همیشه از ارایه یک جواب درسـت خـود داری خواهند کرد.

بیاد داشته باشید که این افراد علاقمند گفتگـو و مباحثـه نیسـتند. و یـا مـی خواهنـد در گفتـار شـان (ارتباط مسلمان و انگلیس) را بهبود بخشند. مگـر اکـثراً بشکل (پنهان و وظیفه با مزد) می خواهنـد عیسـویت را بفروش برسانند.

دوم:

بـه یـاد داشـته باشـید کـه مبلغـین مسـیحیت عقایـد اسـلامی را آموختـه انـد، فقـط و فقـط بـه منظـور اینکـه عیسویت را بالای مسلمانها بفروش برسانند. قلـب هـای شـان قفـل و مهـر شـده اسـت و دیگـر علاقمنـد در جستجوی حقیقت نیستند. همچنان بیاد داشته باشید!

که ایشان بخاطر تبادل افکار با شما صحبت نمی کنند، مگر آنها می خواهند در اذهان شما شک و تردید بی حد زیاد خلق کنند تا شما را از عقیده یی تان بدور بکشانند. لازم است بدون کدام احساس ناراحتی به گفتگو خود با آن اشخاص خاتمه داده و کنار روید.

اگر می خواهید بیشتر در مورد قرآن بدانید و بیاموزید، از شخصیکه اهداف نهفته ندارد، بیاموزید.

سوم:

به یاد داشته باشید که بسیاری ازین سوالها و ارتباطات ایکه آنها به منظور فروش عیسیویت ارایه می کنند، چندین بار توسط برادران مسلمان آگاه و عالم پاسخ داده شده و بالای شان خط بطلان کشیده شده است. اگر اینها حقیقتاً علاقمند گفتگو باشند، البته با بزرگان و علمای انجمن های مربوطه گفتگو مینمودند تا یک فضای مشترک بوجود می آمد که به آن وسیله ایشان از موقف مسلمانان پی میبردند و ما هم از سوء تفاهم ایشان در باره اسلام آگاه میشدیم. اما هر چند می بینیم ایشان اکثراً و مکرراً با همان پرسش های فریب آمیز بر مسلمانان ناخود آگاه یورش میبرند. در رد همین انجیل موجود بارها علمای اسلام برخاسته اند و به دلایل علمی آنرا رد نموده اند اما دشمنان اسلام از اهداف شوم شان دست بردار نسیتند.همچنان بخاطر باید داشت که بعضی از داعیین مسیحیت به مناطق مسلمان نشین انگلستان و دیگر کشور ها رفته و در آنجا اسلام را به دقت مطالعه میکنند، و آموزش حرفه ای تبلیغ عیسیویت را بر علیه اسلام فرا میگیرند. در قدم اول مسلمان های را که از علم دین بی بهره باشند هدف دسیسه شوم خود قرار میدهند. همچنان آنهایراکه به نوع از انواع سردچار روزگار باشند و یا فاقدامتیازات مادی بوده و یا کدام نیازمندی دیگری داشته باشند مورد هدف قرار داده و از موقف ضعیف آنها سوء استفاده مینمایند.

چهارم:

در مرحله اول مبلغ عیسویت هدف نهای خود را آشکارا نمیگرداند. او برای شما خواهد گفت که خودش (و یا یک دوست عیسوی و یا کدام شناخته اش) یک زمانی مسلمان بوده و یا تعلیمات اسلامی کامل و قابل اطمینان داشته و یا در یک محیط اسلامی بزرگ شده و همچون مثال های دیگر(که با شرایط موجود در کابل و سایر شهر های اسلامی نیز سازگاری دارد و یک دلیل شان نقد بر نبرد مؤمنان است که از آن بنام تروریسم یاد می کنند و بر تمام دین مقدس اسلام می تازند). البته همیشه این قصه ها دروغ خواهند بود. اجازه ندهید که شما را فریب دهد. هدف اصلی او از این صحبت ها گرایش شما به جانب عیسویت و ترک اسلام است. پیام نهفته اش که به شما می خواهد انتقال دهد اینست که با وجود آنکه از تمام انتقادات و اعتراضات مسلمان ها مانند (عیسی فرزند خدا نیست، انجیل توسط انسانها دست خورده است وغیره) با خبر است و بر این انتقادات غلبه علمی حاصل کرده و سرانجام به دین خود استوار مانده است. به شخص مورد هدف خود چنین وانمود میکند که لهذا ضرورتی نیست که روی این اعتراضات بحث و تحقیق صورت گیرد. برای جلب اعتماد، او از تربیت و پرورش اسلامی که بهره مند شده مثال های بیان خواهد کرد. در حقیقت خاطرات او دروغ های رهبری شده و ثمره ای مشق و تمرین و آموزَش حرفه ای میباشد. او برای شمااظهار خواهد کرد که از تمام اعتراضات و دلایل اسلامی با خبر است و در جریان صحبت برای شما نشان خواهد داد که این اعتراضات چقدر ناقص میباشند. اما یقین داشته باشید که او هر گز بیانگر موقف واقعی اسلام نبوده و هرچه از اعتراضات و دلایل اسلامی روایت کند همه آنها آلوده با دروغ است، و از کتاب های تدریس و تبلیغ عیسویت و جذب مسلمان ها به دین عیسویت میباشد. بر شما واجب است که موقف

اسلامی را از علماء کرام اسلام و منابع اسلامی در یابید - نه از یک مبلغ عیسوی.

پنجم:

برای بر قرار کردن روابط دوستانه با یک مسلمان، مبلغ عیسوی از عیسویان "خوب" تعریف میکند که گویا آنها مسلمان ها را دوست دارند و به دین اسلام احترام قایل میباشند. حتا با مسلمانها ابراز همدردی کرده و مثال های در این زمینه بیان میکند. و به عین منوال، از عیسوی های "بد" سخن می زند که از مسلمانان متنفر بوده و آنهارا تحت تعقیب قرار می دهند. او این فرقه را تقبیح می نماید تا بتواند جذب علاقه اشخاص را نماید که ساده لوح بوده و معلومات کافی در قسمت تاریخچه و تعصب عیسویت ندارند. این چنین افراد خوش باور در قضاوت مبلغ عیسوی احساس خوش بینی کرده و او را دوست مخلص خود میپندارند. متوجه باش! به انگیزه های پلید و شیطانی که در پی این دوستی ها و این مردم "خوب" نهفته است.

ششم:

مبلغ مسیحیت در ابتداء صحبت از عقیده براینکه عیسی، مسیح است (یعنی نجات دهنده - همانطور که مسلمانان عقیده دارند که او سر آنجام بر میگردد) سخن می زند. بسیاری از مسلمانان تا مدت زیاد از عقیده اصلی این مبلغ پی نمی برند تا بعد از پیوستن به یک گروهی رفاقت با عیسویان - و آن عقیده اصلی و تنفر انگیز اینست که عیسی (نعوذ بالله) خدا است. سخن زدن در مورد (مسیح) و (فرزند خدا) فقط پرده اندازی روی همان عقیده فاسد و بی بنیاد است که تهداب عیسویت را تشکیل می دهد.شما متاثر و متحیر نگردید به اینکه مسیحین اظهار میکنند که ۵۰ تا ۱۰۰ یا ۳۰۰ ثبوت در تثبیت ادعا شان در مورد عیسی علیه السلام دارند. چنانچه علماء اسلام ثبوت بالای ثبوت نشان می دهند که همه دلایل عیسویان بی معنا اند. مبلغ عیسویت شمار دقیق این دلایل شانرا پنهان می کند. چنانچه می گوید: "خوب! ما بسیار دلایل دیگری داریم، چه پروا می کند که یک تعداد آنرا رد کنید. او می خواهد با شما "اختلاف نظر" را درین قسمت بسگلاند. او همچنان می گوید: "خوب! حتی اگر نصفی از دلایل ما چیزی را ثابت نسازد، ما هنوز ۲۵ ، ۵۰ یا ۱۵۰ دلیل دیگر داریم.

هفتم:

بسیار معمولاً دلیل و برهان که عیسوی ها از آن استفاده میکنند مقید به این شرط میباشد که در مرتبه اول شما عقیده داشته باشید به چیزی که آنها میخواهند آنرا ثابت کنند. در مورد اینطور دلیل میتوان گفت که آن در حقیقت نه دلیل است و نه چیزی را ثابت میکند. به عباره دیگر - اگر شما به آن چیزی که ما پیشنهاد کرده ایم یقین ندارید، پس هیچ دلیلی شما را قناعت داده نمیتواند. برای عقل سلیم این دلیل شده نمیتواند.

هشتم:

از ترجمه بی غلط قران کریم که یک مشکل خطرناک بشمار میرود آگاه باشید. شخصی که به لسان عربی آشنایی نداشته باشد، امکان دارد که مبلغیین مسیحیت او را وادار به قبول ترجمه غلط نمایند، در آیت قران کریم چنان تاب و پیچ داده اند که در اصل آن هرگز چنین معنی موجود نبوده است. مشوره ما این است، که اگر شما خود نمی توانید از صحت ترجمه شان بررسی درست نمایید پس به یک شخصی مورد اعتماد و دانسته مراجعه کنید که بتواند با شما همکاری کند. بیاد داشته باشید که مسلمان های ادوار قبلی که در زبان عربی صلاحیت بهتر و بیشتر داشتند، رد دلایل عیسویت بریشان هرگز کدام مشکل بزرگ نبود، زیرا آنها از لسان عربی و علم دین بهره مند بودند. بر علاوه

بیاد داشته باشید که قران کرِیم که قران کریم توسط مسیحین در تواریخ متعدد از قرون شانزده الی هجده به این طرف ترجمه شده که یگانه هدف آن صدمه زدن و بی اعتبار ساختن اسلام میباشد.

نهم:

این را هم بخاطر داشته باشید که در هر ترجمه و تفسیر قران کریم حتماً غلطی ها و کوتاهی ها و نقصاناتی موجود خواهد بود؛ با مقایسه به زبان اصلی (عربی) آن. قران کریم کلام مستقیم خداوند متعال است و از طریق حضرت محمد صلی الله علیه و سلم به دسترس بشریت - بدون کم و کاست و بدون اضافه شدن چیزی در آن - قرار گرفته است. هیچ ترجمه ای نمیتواند که جانشین متن اصلی آن گردد. ترجمه و تفاسیر قران کریم برای نوآموزان قران کریم یک وسیله سودمند است، اما آموزش لسان عربی در این زمینه اهمیت شدید دارد. در اینزمینه باید با استادان و علمای برحق مشوره صورت گیرد.

دهم:

چرا یک شخص و یا یک عیسوی در کابل و دیگر نقاط جهان عقیده و مذهب خود را به این شکل فریب آمیز و ذلیلانه تبلیغ می کند؟ جواب آن اینست: که او میداند که فروش یک جنس کم اصل و خراب مشکل است و تا اینکه بی ارزشی آنرا پنهان نکند و از راه دروغ و نیرگ پیش نیاید, نمیتواند مشتری را فریب دهد.

آیا خداوند کمک نمی کند کسی را که در جستجوی یافتن راه حق باشد؟

چرا مسلمانان را هدف قرار میدهند؟ با در نظر داشت اینکه جوامع عیسوی از هر معیار که ببینید مبتلاء به ورشکست معنوی و اخلاقی بوده و مسلمانان سرشار دولت ایمان استند. این مبلغین تمام در های حق و انصاف را بروی خود مسدود یافته اند، اما کینه، لج، بخل، و نفرت که در مقابل مسلمانان دارند آنها را وادار میکند به انتخاب و عمل به زشت ترین روش ها.

اگر شما واقعا علاقمند مذهب و عقیده اید چرا نزد یک شخصی که معلوما ت کافی در قسمت اسلام دارد نمی روید، به عوض اینکه مسلمانان بی تجربه ، ضعیف و بی دفاع را هدف سوالها ابلیسانه خود قرار دهید. باوجود اینکه پاسخ و رد آن سوال های خود را بار ها از منابع موثق اسلامی دریافته اید.؟

یازدهم:

شمار زیادی از نشرات که بزبان ساده و روان انگلیسی توسط مسلمان ها در مورد توضیح اسلام نوشته شده است ، وجود دارد. اما شما به کتاب خانه های عامه بروید و ببینید که یک قسمت زیاد این نشرات که در دسترس مردم قرار داده شده توسط مستشرقین و مبلغین عیسویت نوشته شده است. شما چه فکر می کنید که چه انگیزه یی باعث می شود که یک شخص کتابی در قسمت یک مضمونی می نویسد که به آن ایمان ندارد و آن مضمون قبلاً درکتاب های زیادی مورد بحث قرار گرفته است؟

بخاطر داشته باشید! ترجمه قران کریم که توسط مسیحین - فقط بخاطر بد نام ساختن اسلام انجام گرفته، نمونه یی از چنین اعمال زشت شان می باشد و اینک حالا نرم افزارهای بنام آپلکېشن های اسلامی ایجاد کرده اند که تا باشد ازین طریق اذهان مسلمانان را مخشوش سازند پس ای جوانان و برادران اسلام!

آگاه باید که گروپ ها و صفحات خاص به نفع و جلب مسیحیت فعالیت می نمایند،وقتی با چنین افراد روبرو شدی یادت باشد که فورا از یک عالم ورزیده و مخلص مشوره بگیر و از علم و استعدادی که داری به نفع اسلام و برضد مسیحیت از آن استفاده کن.الله همه ی ما را از شر شیاطین انسی و جنی در حفظ خود داشته باشد.آمین....پایان.

نیت اصلاح او اخلاص

عاطف احمد

کله چې موږ یوه ودانۍ جوړوو نو کوښښ مو دا وي چې بنیاد او بنسټ یې ښه مضبوط وي. ځکه د بنیاد محکموالی د ودانۍ د بقاء او مضبوطۍ لامل ګڼل کیږي. ددې برعکس د بنیاد د کمزورتیا په صورت کې که ودانۍ هر څومره ښایسته او نقش داره جوړه شي څوک په مفته هم په کې د هستوګنې لپاره زړه نه ښه کوي څه معنی په لوړه کرایه باندې. . !

همدا راز د اعمالو د قبولت راز په یو بنیاد او اساس باندې بناء دی چې دې بنیاد ته د شریعت په اصطلاح کې اخلاص او للهیت ویل کیږي. که تر عمل کولو وړاندې نیت سم وي. یعني عمل یوازې او یوازې د خالق جل جلاله د خوښۍ او رضا لپاره ترسره شي نو بیا دا عمل ډیر وزني ګرځي او په نتیجه کې یې عامل ته ډیر ثوابونه ورکول کیږي.

او که خدای مکړه نیت خراب وي نو په دې صورت کې د ځان له ستړیا پرته نور هیڅ هم په لاس نه ورځي بلکې د قیامت په ورځ به د سخت عذاب سره مخ کیږي.

ددې خبرې حقیقت له هغه حدیث شریف څخه ډیر ښه څرګندیږي چې د قیامت په ورځ دریو کسانو ته د عذاب ورکولو تذکره پکې شوې ده.

اول: هغه کس دی چې ډیر تکلیفونه یې د جهاد په لاره کې ګاللي وي. ستړیاوې، مزلونه، یخونه، بندیخانه او نور ډول ډول تکالیف یې زغملي وي خو د نیت د خرابۍ له امله به د جهنم مستحق وګرځي.

دوهم: هغه کس دی چې ټول عمر یې د علم په تعلیم او تعلم کې تیر کړی وي اول یې په خپله په ډیرو تکالیفو او مشقتونو سره علم حاصل کړی وي بیا یې تر نورو رسولی وي ددې لارې تکلیفونه هغه چاته معلومیږي چې په دې لاره تللی وي خو دا کس به هم د نیت د خرابۍ له امله د جهنم مستحق وبلل شي.

دریم: هغه کس دی چې خپل مال یې بې دریغه په مسکینانو، فقیرانو، مریضانو او نورو ضرورتمندو کسانو مصرف کړی وي. ډیرې دیني ادارې یې تمویل کړې وي ډیر مساجد یې په احسنه طریقه ودان کړي وي خو د نیت د خرابۍ له کبله به دی هم د خپلو نورو دوو ملګرو په شان جهنم د لمبو غیږ ته ورځي.

په حدیث شریف کې دا هم راغلي چې له یادو هر یوه څخه به د ورکړې نعمت په اړه پوښتنه کیږي دوی به د انسانیت د فطرت مطابق د ظاهري عمل د ښه والي له وجې داسې ځوابونه ورکوي چې د دوی د نجات لپاره ذریعه شي خو رب کائنات جل جلاله د زړونو مالک دی په هر څه باندې یې علم کامل دی نو دوی ټولو ته به وو ایي چې ستاسو نیتونه خراب ول، تاسو دروغجن یاست.

نو لکه وړاندې مو چې وویل اعمال هله قبلیږي چې نیت په کې د خداوند کریم رضاء او خوښي وي. او که نه هیڅ ارزښت نلري بلکې د اخلاص د نه شتون په صورت کې ریاء بلل کیږي او عامل یې د عذاب سره مخ کیدلی شي.

نو موږ ته په کار ده چې د خپل نیت اصلاح وکړو، تر څو مو اعمال قبول او د الهي عذاب څخه وژغورل شو. نیت به څنګه اصلاح کوو؟ ددې لپاره د نیکانو ناسته پاسته ډیره اړینه ده چې د اصلاح نیت لپاره اول شرط بلل کیږي.

و من الله التوفیق

د علامه اقبال د یوه شعر منظومه

شاعر: علامه محمد اقبال
ژباړن: پیر محمد کاروان

شرق چې په تقلید کې سر تر پایه شو پناه د غرب
خپله يې پر ځان کړي دا هېڅ نه ده گناه د غرب

زور د مغرب چنگ نه دی ، گیتار نه دی رباب نه دی
هم د لوڅو لوڅو جینکو د گډا تاب نه دی

نه د غاټول مخیو دی د کوڅو د فتنو اثر
نه د لوڅ پونډیو دپستو لنډو ویښتو اثر

غرب چې دا قوت لري سبب يې بې دیني نه ده
دغه پلوشه گوره له خط لاتیني نه ده

زور د غرب قوت د غرب له علم دی له فنه دی
بل ځراغ ددوی چې دی ، ددې اور له بدنه دی

علم او حکمت په تنگ پتلون په لنډ شلوار نه دی
مخه د هنر پوهې چې ونیسي دستار نه دی

شوخه شنگه ځوانه چې په علم کې يې لاس دی
داکار د دماغوبویه، نه غربي لباس دی

څوک چې هره شپه لوگی د بلې ډیوې خورینه
دی به د حکمت بورجل ته خامخا ورځینه

گوره له حیا چې لرې لرې بوډاگان دي
پټ لکه د ښځو ، په سینگار نوي ځوانان دي

هیلې امیدونه يې له زړونو غورځېدلي دي
ته وا چې له میندو ځنې مړه را زیږېدلي دي

نجونې يې په خپلو خپلو زلفو بندیوانې
نه عزت نه شرم بې حیا سترگې شیطانې

عېش کوي او نوش کوي ، بایللي يې دي زړونه
وروځې يې کړې لڼدې توري یا لرونه

لوڅې سپینې لېچې يې د تږي په نظردي
ته وا په څپو کې سپین کبان د سمندردي

داسې یو ملت چې يې ایرې وي بې سپرغیو
تور به يې سهار وي د ماښام له تروږمیو

SHAHAMAT

د پښتی په لومړي
او دویم مخ انځورونه
په هلمند کې د مجاهدینو
وروستی لاسته راوړنې ښیي!